New Life Programme

# عیسیٰ څوک دئ؟

# عيسىٰ ثوك دئ

## ليكونكى

## التون ج هيل

ICI University
P.O. Box 5749
Nicosia, Cyprus

((عیسیٰ څوک دئ))

اول چاپ ۱۹۹۶

© 1973, 1979, 1989, 1994, (Persian), All Rights Reserved

**Pashto "Who Jesus Is" (1996)**

*ICI University*
P.O. Box 5749
Nicosia, Cyprus

# فهرست


| | |
|---|---|
| عیسی، وپیژنئ | ۱ |
| وعده شوی مسیح | ۲۳ |
| عیسی، د خدای زوی | ۴۶ |
| عیسی، د انسان زوی | ۷۰ |
| عیسی، کلمه | ۹۸ |
| عیسی، د دنیا نور | ۱۱۸ |
| عیسی، شفا ورکوونکی او بپتسمه ورکوونکی | ۱۴۳ |
| عیسی، خلاصوونکی | ۱۶۳ |
| عیسی، قیامت او ژوند | ۱۸۵ |
| عیسی، مالک | ۲۰۷ |

# ۱

# عیسی، وپیژنئ

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

### هغه څه چې مقدس کتاب ئې وایی

د مقدس کتاب ربنتینوالی
د مقدس کتاب اصلی موضوع
د عیسی په باره کې د نوی عهد شاهدی

### هغه څه چې د تجربی څخه ثابت شوی دي

د نورو خلکو تجربه
شخصی تجربه

آیا دا ممکنه ده چې تاسو څخه یو پوښتنه وکړم؟
ستاسو په نظر عیسی څوک دی؟ ځینی خلک د دې پوښتنی په جواب کې داسی وائي:
" هغه یو لوی معلم ؤ" ځینی خلک هغه ته د نبی، فیلسوف، غربی بت او یا د یو نیک او ښه انسان خطاب کوی چې باید د هغه څخه پیروی وکړو. عیسی نه یوائې یو معلم او نبی ؤ، مګر د دوی څخه ډیر لوی ؤ. هغه د یو فیلسوف او نبی نه ډیر لوی ؤ چې باید د هغه څخه پیروی وکړو. عیسی د غرب څخه نه ؤ راغلی، نو په دې خاطر سره نه شو کولای چې هغه یو غربی بت وګڼو. هغه دوه زره کاله د مخه په منځنی ختیځ کې اوسیدو لدې کبله په میلیونونو خلک دا دعوه کوی چې هغه پیژنی حتی د دې دعوی لپاره امکان لری چې خپل ځان له لاسه ورکړی، یعنی چې هغه څوک دی؟

## هغه څه چې مقدس کتاب فرمائی

### د مقدس کتاب صحت او رښتینوالی

د دې لپاره چې ښه پوه شو چې عیسی څوک دی، نو باید چې هغه کتاب ته رجوع وکړو کوم چې د هغه ژوند او تعلیم

په صحیح طریقی سره بیانوی، یعنی مقدس کتاب ته.
مقدس کتاب د ۶۶ کتابونو مجموعه ده چې د ۳۵ څخه تر ۴۰ کسانو په واسطه لیکل شوی دی. د مقدس کتاب لیکونکو مختلف کسبونه درلودل: د محققینو، ډاکټرانو، پادشاهانو، پیغمبرانو او کاهنانو څخه نیولی تر تاجرانو، دهقانانو، شپونکو، حتی د دولت مامورینو او ماهیګرانو په شمول ټول په دې کې لیدل کیږی. دوی د ۱۲۰۰ کالو په موده کښی په مختلفو زمانو کې ژوند کاوه. دوی ډیر نیک خلک ؤ چې ټولو دا لاندې صفتونه درلودل:
۱) ټولو د یو خدای عبادت کاوه چې یهوه ورته ویلای شی یعنی د کائناتو پیدا کوونکی.
۲) دوی ټولو ته خدای خپل ځان ښکاره کړی ؤ او خپل پیغام ئې د انسانانو د نسل لپاره ورکړی ؤ.
۳) دوی ټولو هغه څه ولیکل چې خدای ورته فرمایلی ؤ. هر کله به چې دې لیکوالو په لیکلو باندې پیل وکړ، نو خدای به دوی د هر ډول اشتباه او غلطۍ نه په امان کې ساتل، تر څو د هغه پیغام انسانانو ته په هره زمانه او شرایطو کې د قبلولو وړ او د غلطۍ څخه پاک وی او په صحیح طریقی سره دوی ته ورسیږی. ډیر کلونه مخکې دغه لیکنی چې په الهام سره شوی وی په یو کتاب کې راټولی کړای شوی چې نن ورته مقدس کتاب ویلای شو.

دويم پطروس ۱: ۲۱ ځکه چې د نبيانو د کلام هيڅ خبره هم د بنی آدمو د خواهش په مطابق کله هم نه ده شوی، بلکه بنی آدمو د روح القدس د اثر په وجه د خدای د طرفه خبری کولی.

د مقدس کتاب ټول مطالب حتی يوه وړه او جزئی موضوع د صحت او رښتينوالی نه معموره ده او کولای شو چې دا يو علمی او تاريخی کتاب وګڼو. د قومونو او ملتونو او خلکو په باره کې د سل ګونو پيشګويانو سر ته رسيدل دا ثابتوی چې دا کتاب په رښتيا د خدای کتاب دی. او کولای شو چې هر هغه څه چې د عيسی په باره کې وايی صحيح وګڼو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې بايد تاسو يی سرته ورسوئ

د لاندې صحيح جوابونو تر څنګ (X) علامه وليکئ

۱- عيسی څوک ؤ؟

الف) يوائی يو معلم

ب) يوائی يو نبی

ج) يو غربی بت

د) د نبی او فيلسوف څخه يو لوړ څوک

۲- عیسی چیرته اوسیده؟
الف) په اروپا کې
ب) په منځنی ختیځ کې
ج) په لویدیځ کې
۳- د عیسی په باره کې د اطلاعاتو د ټولو نه ښه سرچینه کومه ده؟
الف) مقدس کتاب
ب) د روم تاریخ
ج) د یونان فلسفه
۴- هغه کوم درې صفتونه ؤ چې د مقدس کتاب لیکونکو درلودل؟
الف) ټولو په یو وخت او زمانه کې ژوند کاوه.
ب) ټولو د یو خدای عبادت کاوه.
ج) ټولو د څو مختلفو خدایانو عبادت کاوه.
د) خدای خپل ځان هغوی ته څرګند کړی ؤ او خپل پیغام ئې ورته ورکړی ؤ.
ه) ټولو به هغه څه لیکل چې څه به ئې زړۀ غوښتل.
و) ټولو به هغه څه لیکل چې خدای به ورته ویل.
ز) ټولو په خپلو کتابونو کې غلطۍ درلودی.

# د مقدس کتاب اصلی موضوع

ولی ۶۲ کتابونه د ۴۵ کسانو په واسطه د ۱۲۰۰ کالو په موده کې ولیکل شو او په یو کتاب کې د یو بل سره یو ځای کړای شو؟ په دې دلیل سره چې په ټولو کې یوه موضوع موجوده وه. دا ټول کتابونه په خپلو مختلفو برخو کې یو تصویر څرګندوی. تاریخی کتابونه، شریعت، شعرونه، پیشګویانی، بیوګرافی او عملی تعلیم دا ټول سره په شریکه د مقدس کتاب یوه موضوع څیړی. او هغه دا چې د ګناه ګار انسان خلاصون د مهربان خدای په لاس کې دی.

د مقدس کتاب دواړه برخی، نوی عهد او زوړ عهد د یو انسان ضرورت د یو خلاصونکی لپاره او الهی لټون په عیسی مسیح کې ښکاره کوی. زوړ عهد چې د عیسی مسیح د پیدایښت څخه د مخه لیکل شوی دی، ډیری پیشګویانی د هغه په هکله لری. نوی عهد مونږ ته دا وایی چې خلاصونکی څنګه راغی او څنګه کولای شو چې د هغه په وسیله سره خلاصون ومومو. د مقدس کتاب ټوله موضوع او اصل مقصد د بشر د خلاصونکی څخه عبارت ده چې عیسی دی. یعنی د ټولو انسانانو خلاصونکی.

# ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

**۵**- د مقدس کتاب اصلي موضوع څه ده؟
الف) د ښو قوانینو په وسیله خلاصون
ب) د مهربان خدای په ذریعه د ګناه ګار انسان خلاصون
ج) د ښه ماحول او محیط په ذریعه د انسان خلاصون
**۶**- د مقدس کتاب کومې برخې ډیرې پیشګویانې د خلاصونکي د راتلو په باره کې لري؟
**۷**- د مقدس کتاب کومه برخه د خلاصونکي ژوند تشریح کوي؟

## د عیسی په باره کې د نوي عهد ګواهي

نوی عهد مونږ ته د لاندې ګواهیانې وړاندې کوي
۱- د عیسی ژوند او تعلیم
۲- هغه کلیساګانې چې هغه جوړې کړلې
۳- د هغه څخه د پیروۍ په ارتباط تعلیم
۴- د عیسی د بیا راتلو په باره کې پیښنې

مونږ کولای شو چې د مقدس کتاب په صحت او رښتینوالی باندې باور وکړو. ځکه کومو کسانو چې دا کتابونه ولیکل د خدای تعالی له خوا انتخاب شوي وو. دوی ټولو ته ئې الهام ورکړ تر دې چې یوه وړه او جزئې موضوع هم د دې الهام څخه خالی نه وه. درې خبری مونږ د نوی عهد د صحت او رښتینوالی په باره کې مطمئنوی.

۱) خدائی الهام

۲) د لیکونکو د سترګو لیدلی ګواهیانی

۳) اصولی تحقیق او په منظم ډول حقیقتونه.

متی، مرقوس، لوقا او یوحنا د څلورو انجیلونو لیکونکی دي چې د هم دوی په نومونو سره یادیږی.
دا کتابونه د نوی عهد څلور لمړنی کتابونه تشکیلوی.

## متی، مرقوس، لوقا ، یوحنا

مونږ په دې سبب ورته انجیل وایو چې په یونانی ژبه کې د انجیل معنی ده "ښه زیری" د ښه زیری څخه مرام دا دی چې حضرت عیسی څنګه تشریف راوړ چې مونږ ته ابدی ژوند راوبخښی. د هر چا لپاره د ټولو نه ښه او بهترین خبر او زیری همدا دی. مونږ هر ورځ داسی خلکو سره مخ کیږو چې مختلف نظرونه لری. هغه سړی د یو کس لپاره ګاونډی، د

یو بل کس لپاره ملګری او د بل لپاره ځښتن، د ځینې کسانو لپاره پلار او د ځینې خلکو لپاره همکاره دی. دغه کسان کولای شی چې د دغه کس په باره کې خپل خیالونه ولیکی، مګر هر یو به د بل سره مختلف نظریات او تاکیدونه ولری.

خدای متی، مرقوس، لوقا، او یوحنا ته الهام ورکړی چې تر څو د عیسی په هکله دا ښه خبر د بیلا بیلو اړخونو نه ولیکی متی عیسی د پادشاه په صفت ځرګندوی، داسی پادشاه چې د داؤد د نسل نه به راځی او په نړۍ به په عدالت سره پادشاهی کوی.

مرقوس عیسی ته د خدای د خادم په سترګه ګوری چې د هغه اراده سرته رسوی. هغه خادم چې ډیر تکلیفونه ئې وزغمل او د زوړ عهد په مطابق باید زمونږ د ګناهونو لپاره قربان شوی وای.

لوقا یو یونانی ډاکټر، عیسی ته د انسان د زوی خطاب کوی یعنی د ټول بشر د نژاد بشپړ استازی او د ټولو انسانانو د مرضونو درمان.

یوحنا په دې هدف سره خپل انجیل لیکلی دی چې عیسی د خدای د زوی په صفت خلکو ته معرفی کړی، یعنی د دنیا خلاصونکی. د ده کتاب د هغه چا د ژوند تشریح ده چې ورسره ډیر نژدی ؤ او ډیر ئې ښه پیژنی. یوحنا د یو ګواه په

حیث انجیل لیکی تر څو دا ثابته کړی چې عیسی څوک دی. هغه ټول کوششونه د دې لپاره وکړل چې لوستونکی په دې قانع کړی چې عیسی د یو شخص څخه لوړ مقام لری یعنی خدای چې د انسان شکل اختیار کړ او مجسم شو. او هغه وایی هر هغه څوک چې په عیسی ایمان راوړی هغه به ابدی ژوند ولری. دا دعوه یوه لویه دعوه ده دومره زر نشو کولای چې پرې باور وکړو. مګر په مقدس کتاب کې د هغه خلکو څخه چې د عیسی څخه ئې پیروی کوله لولو او ګورو چې هغوی هم په دې خبره متفق ؤ چې هر هغه څه چې دوی د عیسی په باره کې بیانوی حقیقت لری.

متی او یوحنا د هغه دوه حواریانو څخه دي چې د عیسی د دری کالو خدمت په وخت کې ورسره یو ځای وو. هغوی د هغه معجزو او تعلیم بیان کوی چې پخپله ئې لیدلی او اوریدلی دي. هر څه چې د هغه د مرګ او بیا ژوندی کیدو په باره کې ئې بیانوی هغه ئې په خپلو سترګو لیدلی دي. یوحنا د عیسی د الوهیت مدارک بیانوی او په هغه باندې د ایمان راوړلو په اهمیت تاکید کوی. د دې نه مخکې چې متی د عیسی شاګرد شی هغه د رسمی کارونو سره آشنائې او عادت درلود. هغه په منظم ډول د عیسی د پادشاهۍ شواهد چې پدې هکله په زوړ عهد کې ډیری پیشګویانی شته، وړاندې کوی. هغه هم پیش ګوئی او هم ئې څرنګوالی

بيانوي. د عيسی د کورنۍ سلطنت تعقيبوی او د هغه د پادشاهۍ اوصول بيانوی.
مرقوس يو ځوان ؤ چې د عيسی د خدمت په وخت کې په اورشلم کې اوسيده. هغه احتمالاً په هغه ډلو کې حضور درلوده چې د عيسی خبری به ئې اوريدلی د هغه معجزی به ئې ليدلی او د هغه په صليب کيدل ئې ليدلی ؤ. وروسته مرقوس د پطروس (د عيسی د يو حواری) نژدی ملګری شو ځنيی جزئيات ئې چې په انجيل کې ورته اشاره شويده د هغه څخه زده کړی ؤ.
لوقا طبيب د عيسی په باره کې ګذارشات وڅيړل او هغه ئې په کتابونو کې وليکل.
د (لوقا انجيل او د رسولانو اعمال) تر ټو خپل نژدی دوست ته د عيسی د ژوند او د کليسا د آبادولو په باره کې دقيق او مطمئن ګذارش وړاندی کړی. لوقا د مريم (د عيسی مور) او د داسی نورو ډيرو خلکو سره ناسته ولاړه او خبری وکړی تر څو چې د هغه په معجزه ئې ډول سره پيدايښت، ژوند ، مرګ او بيا ژوندی کيدلو په باره کې تر ټولو دقيق جزئيات راوباسی. او هغه وخت ئې د ډيرو هغه کسانو سره ليدل کتل وکړل چې عيسی ورته شفا وکړی وه تر څو د هغی په رښتينوالی پوه او څه چې واقع شوی هغه وليکی.

د نوی عهد نور لیکونکی یعنی پطروس، یعقوب، یهودا او پولوس چې څه ولیکل په هغه کې ئې واک او اختیار درلود. پطروس د عیسی د یو شاگرد په صفت تر دری کالو پوری د هغه سره و اوسید.

یعقوب او یهودا د عیسی ورونه وو. پولوس د عیسی د پیروانو یو د خرابو او سر سختو دښمنانو څخه ؤ، مگر وروسته چې عیسی سره مخامخ شو نو ژوند ئې بلکل بدل شو. او پس له هغی څخه ئې خپل ټول ژوند دې ته وقف کړ چې خلکو ته د عیسی په هکله ووایی.

خدای دغه کسانو ته الهام ورکړ چې مونږ ته او هم د خپل وخت خلکو ته هغه څه ولیکی چې دوی د عیسی په هکله پوهیدل، او هر هغه څه ئې چې ولیکل د قبلولو وړ دي.

هغوی مونږ ته د هغې تجربی څخه چې ئې درلوده لیکی چې څنگه کولاۍ شو چې عیسی وپیژنو او د هغه ژوند څخه گټه واخلو چې هغه رابخښلی دی، یوحنا دا خبر داسی خلاصه کوی:

## حفظ ئې کړۍ

اول یوحنا ۱ : ۳ څه چې مونږ لیدلی او آوریدلی دی، په هغو تاسو خبرؤو د دې لپاره چې تاسو راسره شراکت ولرۍ او

مونږ د خدای پلار او د هغهٔ د زوی عیسی مسیح سره شراکت ولرو.

اول یوحنا ۱ : **۳** پنځه واری ولولئ او حفظ ئې کړئ.

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ**

۸- کومو کسانو څلور انجیلونه ولیکل؟
۹- د هغه طبیب نوم ولیکئ چې پس له ډیر کوشش او غور څخه ئې د عیسی په باره کې انجیل لیکلی دی.
۱۰- د عیسی کوم یو دښمن د هغه سره په خاصه طریقه مخامخ شو او ژوند ئې بدل شو؟
۱۱- د لاندې جملو څخه کومه یوه ئې د نوی عهد عقیده د عیسی په باره کې څرگندوی؟
الف) د لومړی پیړی د داستانونو مجموعه د یو قهرمان په باره کې.
ب) هغه شیان دي چې د لیکلو څخه دمخه د خلکو په وسیله خوله په خوله ویلی شوی دي.

ج) هغه کتاب دی چې د داسې کسانو په لاس لیکل شوی چې عیسی ئې ښه پیژانده او یا ئې د هغه چا سره چې هغه ئې پیژانده د مصاحبی او تحقیق په مرسته په مربوطه حقایقو پوه شوی دي.

## هغه څه چې تجربی څخه لاس ته راغلی

عیسی ژوندی دی او اوس هم کولای شو چې د هغه شخصیت وپیژنو. دا خبره د انجیل د ښه زیری څخه عبارت ده. عیسی د خلکو لپاره اوس هم هغه کارونه کوی کوم به ئې چې په هغه وخت کې کول.

## د نورو خلکو تجربه

آیا داسی یو کس پیژنی چې عیسی پخپله پیژنی؟ د عیسی پیژندل د هغه څه څخه لوړ مقام لری چې د هغه په باره کې څوک څه خبر ولری او یا د کلیسا غړی وی او یا تش په نوم عیسوی وی. پخپله د هغه پیژندل د انسان بدلوی.

نن سبا په ملیونونو خلک عیسی پخپله پیژنی. هغوی ډیر په دې خوشحالیږی چې د هغه په باره کې تاسو سره خبری وکړی او ډیر د دوی څخه داسی وایي:

ما د ټولو خلکو نه د نفرت کولو عادت درلود، مګر کله چې مې په عیسی ایمان راوړ، نو هغه زما ژوند بدل کړ.
اوس مې په عیسی ایمان راوړ، نو هغه زما ژوند بدل کړ.
اوس مې خلک خوښیږی او غواړم چې ورسره مرسته وکړم.

تل به مې د یو وحشی انسان په شان د ګناه کولو احساس کاوه مګر کله مې چې هغه څخه وغوښتل، نو هغه زما ګناهونه معاف کړل ټول ګناهونه یې راڅخه لری کړل او د هغې د کولو څخه ئې خلاصون راکړ. ماته ئې خوشحالي هوسائي او پاک وجدان را په برخه کړ.

عیسی زما څخه هغه ټولی ویری لری کړی چې د کلونو را په دې خوا به ئې زه په عذابولم. هغه هره ورځ ماته دا زړورتیا راکوی چې د خپلو مشکلاتو حل پیدا کړم.

ما ته عیسی د ژوند کولو لپاره دلیل او مقصد را بخښلی دی. زما د ټولو مشکلاتو جواب عیسی دی. په دعا کې ټول شیان هغه ته سپارم. هغه ماته دا راښیی چې څه کار باید وکړم او زما ټول حاجتونه پوره کوی. زه نور یواځی نه یم ځکه چې عیسی تل ما سره دی. زه یو پوډری وم، مګر کله مې چې خپل ژوند هغه ته وسپاره او هغه مې د خپل

ژوندون معیار وګرځاوه، نو زه ئې د دې شیطانی دوړی څخه خلاص کړم او نجات ئې راکړ.

عیسی زما د دعاګانو په جواب کې په کراتو ماته شفا راکړی ده.

دغه ګواهی او د نورو داسی زرګونو خلکو ګواهیانی چې نن ورځ په رښتیا سره عیسی پیژنی، د هغه حقیقت بیانونکی دی کوم چې خدای فرمایلی:

## حفظ ئې کړئ

خط د عبرانیانو په نوم ۱۳ : ۸ عیسی مسیح پرون، نن او تل تر تله په یو شان دی.

## عبرانیان ۱۳ : ۸ آیات پنځه ځله ولولی او حفظ ئې کړئ.

۱۲- فکر وکړئ: که چیری تاسو د هغو تجربو په باره کې واورئ چې خلکو د عیسی سره درلودی لکه څنګه ئې چې پورته ذکر وشو څه فکر به وکړئ؟
آیا تاسو به هم وغواړی چې هغه وپیژنئ؟ آیا د دې رښتینو ګواهیو نه تاسو ته دا نه څرګندیږی چې د ټولو سوالونو جواب او د ټولو مشکلاتو حل مو عیسی دئ؟

## شخصی تجربه

مونږ څنګه کولای شو چې په ښی طریقی سره وپوهیږو چې عیسی څوک دی؟ د مقدس کتاب د لازیاتی مطالعی څخه دا مقصد عملی کیږی. هلته د هغه د ژوند او تعلیم سره په

مخامخ کیدو تاسو متوجه کیږئ چې هغه ولی دې نړۍ ته راغی او تاسو تا ئې څه کار کړی دی؟ تاسو ته مقدس کتاب وایي چې عیسی اوس څه کوی او په راتلونکی وخت کې به څه وکړی. تاسو کولای شی چې د نورو د تجربو څخه د مسیح په پیژندلو کې مرسته تر لاسه کړی. د تیرو ۲۰۰۰ کلونو څخه تر اوسه پوری ډیر خلک پوهیدلی دي، هر هغه څوک چې په رښتیا سره غواړی چې عیسی وپیژنی هغه ورته خپل ځان ښیی. دې ټولو نه لوړه خبره دا ده چې تاسو کولای شی چې هغه پخپله وپیژنی او په تجربی سره به پوه شئ هغه څه چې مقدس کتاب د هغه په باره کې وایی حقیقت لری.

امکان لری چې تاسو په خپل ژوند کې یو خدای پیژندونکی شخص اوسئ یا شاید د هغه په باره کې زیات معلومات ونلرئ. او کیدای شی چې د هغه په پیژندلو مو اوس شروع کړې وی. او یا لکه د پولوس په شان د هغه مخالفت کوی.

کله چې پولوس عیسی په پخپله وپیژانده، ژوند ئې بدل شو. که ستاسی پیژندنه د مسیح څخه او یا د هغه په وړاندې چلند مو هر څه چې وی بیا هم دا درسونه په دې خاطر لیکل شوی چې تاسو سره مرسته وکړی چې هغه پخپله د یو شخص په څیر وپیژنئ. امید لرو چې همداشان

وشی او دعا کوو چې تاسو هم د هغه د برکتونو او ملګرتوب څخه فیض تر لاسه کړئ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۱۳- دا درسونه د چا لپاره لیکل شویدی؟
الف) یوائې د هغه چا لپاره چې عیسی پیژني.
ب) یوائې د هغه چا لپاره چې عیسی نه پیژني.
ج) د ټولو هغه خلکو لپاره چې غواړی په دې پوه شی چې عیسی څوک دی.
۱۴- هغه دری لاری چې په حقیقت سره دا څرګندوی چې عیسی څوک دی کومی دي؟
الف) د هغه څه مطالعه چې مقدس کتاب ئې د هغه په باره کې وایی.
ب) د هغه څه مطالعه چې نور مذهبونه ئې د هغه په باره کې وایی.
ج) په تطبیقی ډول د مذهبونو مطالعه.

د) د هغو خلکو خبرو ته غوږ نیول چې عیسی په شخصی ډول پیژنی او د دې خبری ګواهی کوی چې د هغوی لپاره ئې څه کړی دي.
ه) په شخصی ډول سره د عیسی پیژندل.
و) هغو عقایدو ته غوږ نیول چې د هغه په باره کې بیانیږی.
ز) هغه څه ته غوږ نیول چې د عیسی دښمنان ئې د هغه په باره کې وائی.

## خپل جوابونو مقایسه کړی.

## د اول درس جوابونه

هغه جوابونه چې تاسو ورکړی دي د دې جوابونو سره مقایسه کړی. که چیری مو د ۱۵ نه تر ۱۷ پوری صحیح جوابونه ورکړی وی ستاسو نمری عالی ګڼلی شی. د ۱۳ نه تر ۱۴ پوری ښه او د ۱۰ نه تر ۱۳ پوری درمیانه او که چیری ستاسو جوابونه د ۱۰ څخه کم وی، نو دا درس بیا مطالعه کړی تر څو چې ښه وپوهیږئ.

۱- د) هغه څوک چې د یو معلم، نبی او فیلسوف څخه لوړ مقام لری.

۲- ب) په منځنی ختیځ کې

۳- الف) په مقدس کتاب کې

۴- ب) ټولو د یو خدای عبادت کاوه.

د) خدای خپل ځان هغوی ته څرګند کړ او خپل پیغام ئې ورته ورکړی ؤ.

۵- ب) د ګناه ګار انسان خلاصون د مهربان خدای په وسیله.

۶- زوړ عهد

۷- نوی عهد

۸- متی، مرقوس، لوقا او یوحنا

۹- لوقا

۱۰- پولوس

۱۱- ج)هغه کتاب دی چې د هغه کسانو په واسطه ولیکل شو چې عیسی ئې ښه پیژانده او یا ئې د هغه خلکو سره مصاحبه او تحقیق وکړ چې هغه ئې ښه پیژانده نو په نوموړو حقایقو یې پیل وکړ.

۱۳- ج) ټول هغه کسان چې غواړی پوه شی چې عیسی څوک دی.

۱۴- د هغه څه مطالعه چې مقدس کتاب ئې د هغه په باره کې وایی.

د) د هغو خلکو خبرو ته غوږ نیول چې عیسی په شخصی ډول سره پیژنی او دا وایی چې د هغوی لپاره ئې څه کړی دي.

ه) په شخصی ډول سره د عیسی پیژندل.

صحیح جوابونه ............ نمری .........

# ۲

# وعده شوی مسیح

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

د مقدس کتاب د پیشګویانو طبیعت

د پیشګویانو اهمیت
د مسیح په ارتباط د پیشګویانو پراخوالی او توسعه
د پیشګوئې څرنګوالی

د مسیح د ارتباط پیشګویانی

خدائی او انسانی
قربانی او خلاصونکی
نبی، کاهن او پادشاه

# د مقدس کتاب د پیشګویانو طبیعت

د مقدس کتاب پیشګویانی هغه پیغامونه دي چې خدای د خپلو قاصدانو (پیغمبرانو) په وسیله خپل قوم ته رالیږلی دي. د دې پیغمبرانو په وسیله خدای دا خوښه کړه چې خلک هغه څه چې غواړی وکړی باید وربانديې پوه شی او نور داسی ډیر شیان چې په راتلونکی کې به اجرا شی د دوی په وسیله ښکاره او معلوم کړل.

خدای نبیانو ته الهام ورکړ، هغه کشفونه چې به هغۀ ورته ښودل ولیکی. دغه لیکل شوی کشفونه چې به هغۀ ورته ښودل ولیکی. دغه لیکل شوی کشفونه کولای شو چې په مقدس کتاب کې په واضح توګه وګورو. هغه پیشګویانی او واقعات چې د راتلونکی وخت په باره کې په دې کتاب کې درج شوی دي د دې خبری باعث شوی چې دا کتاب د نورو مذهبونو د کتابو سره فرق ولری. د دغه لیکل شوو پیشګویانو څخه تر دې چې په وړو او جزئی خبرو کې حقیقت ته رسیدلی دي، مقدس کتاب نوری داسی پیشګوئی لری چې په واضح ډول سره د تاریخ په اوږدو کې تر سره شوی دي.

ډیری پیشګویانی چې سرته رسیدلی نن ئې په خپلو سترګو وینو او هغه پیشګویانی چې پاتی دي په راتلونکی کې به سرته ورسیږی.

## د پیشګویانو اهمیت

د مقدس کتاب د پیشګویانو سرته رسیدل مونږ ته د دې خبری امکان پیدا کوی، هغه څه چې مقدس کتاب دعوه کوی پرې باور وکړو، یعنی د خدای په کلام. څوک کولاۍ شی چې د راتلونکی وخت جزئیات داسی دقیق بیان کړی، او ووایی چې په سلونو کاله وروسته به په خاصو خلکو، په خاص وخت او په خاص ځای کې څه وشی؟ خدای خپلی پیشګویانی د خپل هدف د پیژندلو لپاره په ډیرو زمانو کې تائید او تثبیت کړی دي او اجازه ئې ورکړی ده چې هغه واقعات چې هغه د پیغمبرانو په وسیله ویلی شویدي سرته ورسیږی او پوره شی.
د خلاصونکی په باره کې هغه پیشګویانی چې زاړه عهد کې دي په دری دلیلونو مونږ ته ډیر اهمیت لری.
۱- کولاۍ شو چې د عیسی ژوند د تیر شوو او اوسنیو پیشګویانو سره مقایسه کړو او وګورو چې دا په ربښتیا سره خلاصونکی دی او که نه؟

۲- د دې پیشګویانو په وسیلې سره کولای شو چې ښه پوه شو چې عیسی څوک دی او دې دنیا ته ولې راغی، د هغه کار په تیر وخت او اوس او په راتلونکی کې به څه شی وی؟
۳- کولای شو چې دا خبره قبوله کړو چې خدای خپله وعده سرته رسوی. هغه پیشګویانی چې په زوړ عهد کې د پیغمبرانو په وسیله الهام شوی وی پوره شوی او هغه پیشګویانی چې د آینده په باره کې دي هغه به هم په منظم ډول سره سرته ورسیږی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

## صحیح جواب انتخاب کړئ.

۱- د راتلونکو واقعاتو په باره کې د مقدس کتاب پیشګویانی
الف) هغه مکاشفی وی چې نبیانو د مړو ارواحو څخه حاصلی کړی وی.
ب) هغه پیشګویانی وی چې د ستورو د مطالعه کولو څخه حاصلی شوی وی.

ج) هغه مکاشفی وی چې خدای د نبیانو په وسیله مونږ ته بیان کړی.
۲- فکر وکړئ: تاسو ته په کومی طریقی سره د زاړه عهد پیشګویانی مطالعه کول او په مسیح کې د هغی پوره کیدل اهمیت لری؟ او دا ولی؟

## د مسیح په پیشګویانو پراختیا او توسعه

مونږ هغو پیشګویانو ته چې د خلاصونکی په باره کې دي د مسیح په باره کې پیشګوئې وایو. په عبراني ژبه کې د مسیح کلمه د مسح شوی معنی لری. کاهنان، نبیان، او پادشاهان په دې دلیل سره په غوړو باندې مسح کیدل تر څو وښیي چې دوی د خدای لخوا منتخب شویدی. وعده شوی مسیح باید د خدای مقدس روح سره د هغه د کار لپاره مسح شوی وای. په دې طریقی سره هغه نبی، کاهن او پادشاه کیده. د مسیح د عنوان لپاره هغه یونانی کلمه چې ذکر شوی ده په حقیقت کی همدا د مسیح معنی لری چې مونږ ئې په پښتو کې لرو.
کله چې د عیسی مسیح په باره کې خبری کوو عیسی ته وعده شوی مسیح وایو. مسح شوی، یعنی هغه څوک چې د مسیح په هکله پیشګویانی په هغه کې سرته رسیدلی دي.

د خدای تعالی وعده د مسیح په هکله په تدریجی ډول سره تقریباً د ۴۰۰۰ کالو یا د دې څخه په زیاته موده کې خلکو ته ورکړ شوی ده. ځینی د هغوی نه هغه کارونه دي چې مسیح باید زمونږ د خلاصونکی په حیث د مځکی پر مخ سرته رسولی وای، تشریح کړی دي. ځینی خلک ابدی پادشاهی ته چې په راتلونکی کې به منځ ته راشی اشاره کوی. ځینی له دې پیشګویانو څخه چې په اخر کې بیان شوی دي چې د یو محلی موقعیت پوری مربوط دي، مګر پښنه ئې ډیره پراخه کړیده چې د خپلی موضوع تر شا ئې د مسیح په تشریح کولو لاس پوری کړي دی.

د وخت او زمان په تیریدو سره خدای داسی ډیر جزئیات د مسیح په باره کې ښکاره کړی دي:

یعنی چې هغه باید چیری پیدا شی، څنګه به مری، او څه کار به سرته رسوی. په حقیقت کې د عیسی ځینی شاګردانو په مقدس کتاب کې حساب کړی دی چې په ۳۳۰ ځایونو کې په جزئې ډول سره د عیسی په باره کې پیشګوئی شوی ده. خدای تعالی غوښتل هر کله چې مسیح راشی ټول خلک به د هغهٔ په پیژندلو قادر وی.

# ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

**۳**- د عیسی مسیح عنوان معنی څه ده؟
الف) عیسی تسخیرونکی پادشاه
ب) عیسی قربانی او خلاصونکی
ج) عیسی مسح شوی، وعده شوی مسیح
**۴**- د کومو دری کارونو لپاره باید انسانان د خدای کار ته د وقف کیدو لپاره په تیلو سره مسح شی؟
**۵**- خدای د مسیح په هکله پیشګویانی څنګه وکړی؟
الف) په تدریجی ډول سره د ډیرو نبیانو په وسیله د ۴۰۰۰ کالو څخه په زیاته موده کې
ب) ټولی پیشګویانی ئې د عیسی د پیدا کیدو څخه ۴۰۰۰ کاله مخکې په یو ځل وکړی
ج) د عیسی د پیدایښت څخه دمخه په تدریج سره ۴۰۰۰ کالو په اوږدو کې
**۶**- د زاړه عهد په پیشګویانو کې څو ځله د مسیح په باره کې د دې پیشګویانو ذکر شوی دی؟
الف) ۳
ب) ۳۳

۷- فکر وکړئ: تاسو ته د مسیح په باره کې پیشګویانی څه اهمیت لری؟

## د پیشګوئی دود او دستور

په زاړه عهد کې چې د خدای قوم د عبادت رسومات پر مخ بوتلل صرف پیشګویانی وی. خدای تعالی د قربانی طریقه د یوی نمونی په ډول د مسیح د راتلو په باره کې جوړه کړی وه چې مسیح به خپل ځان قربان کړی او په دې ډول سره به خلکو ته د هغوی د ګناهونو نه خلاصون ور وبخښی. د کاهنانو کار د مسیح د کار لپاره یوه نمونه وه چې د یو کامل او پوره کاهن په صفت ئې د ټول مخلوق لپاره سرته ورسوی.
د عبرانیانو ټول کتاب چې په نوی عهد یعنی انجیل شریف کې دی دا تشریح کوی چې عیسی څنګه په پوره توګه د هغه پیشګویانو په مطابق دی چې د زاړه عهد په وسیله شوی دي.
په ټوله نړۍ کې کولای شو چې د پیشګویانو د آدابو نښی او قربانیانی په ښکاره ډول سره ووینو. هغه دستورونه خدای په هغه زمانه که مقرر کړل چې انسان خپل لاس په

ګناه ککړ کړ. د ډیرو مذهبونو په رواجونو کې به ووینو چې ډیری نښی او نښانی به ئې په عبادت کې مسیح ته اشاره کوی. د دغو مذهبونو پیروان باید مقدس کتاب مطالعه کړی، تر څو وپوهیږی چې د دوی د مذهب د عبادت د دستور او رواج رښتینی معنی څه ده.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۸- د قربان کولو رواج او د زاړه عهد پیشګوئی
الف) نن هم لاژم دي چې د هغو شخه پیروی وکړو
ب) په دې وجه اهمیت لری چې د مسیح په هکله د پیشګوئې نمونه او د هغه کار څرګندوی
ج) نن سبا چندان اهمیت نه لری
۹- د نوی عهد کوم کتاب دا خبره څرګندوی چې عیسی مسیح په حقیقت کې د زاړه عهد د پیشګویانو سرته رسونکی دی؟

# د مسیح په هکله پیشګویانی

## انسانی او خدایی

د مسیح د راتلو لمړی وعده د مقدس کتاب په لمړی کتاب کې لیدلای شو. خدای هغه ته د ښځې د نسل خطاب کوی. هغه د یوی ښځې نه پیدا کیده. آدم او حوا لمړنی سړی او ښځه وه چې ګناه ئې کړې وه. د خدای دښمن شیطان هغوی په دې باندې راضی کړل چې د خدای څخه پیروی ونکړی، نو همدا کار د دې سبب شو چې د خدای او د دوی تر منځ جدائی پیدا شوه او شیطان په دوی باندې قدرت پیدا کړ او غالب شو، مګر خدای وعده وکړه چې هغه به یو خلاصونکی را ولیږی او د شیطان سره به وجنګیږی او د هغه قدرت به له منځه یوسی.

خدای شیطان ته وویل:

پیدایښت ۳: ۱۵ زه به ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ دښمنی پیدا کړم، هغه به ستا سر ریچی کړی او ته به هغه په پونده چیچی.

د تیرو زمانو په اوږدو کې خدای ډیر جزئیات د خلاصونکی په باره کې چې وعده کړی شوی دي وویل هغه به د

فلسطین په بیت الحم کې وزیږیږی. او د دې سره سره به
هغه یو معمولی سړی نه وی. هغه ابدی ؤ. هغه د اول نه
وجود درلود مګر مځکی ته راتلونکی ؤ چې د انسان د زوی
په شان پیدا شی، غټ شی او د اسرائیل حاکم شی. میکا
پیشګوئې وکړه:
میکا ۵: ۲ ای د یهودیه د مځکې بیت الحم ښاریې! ته د
یهودیه په لویو ښارونو کښې هیڅکله هم ورکوټی نهٔ یی،
ځکه چې ستا نه به هغه سردار راوزی چې زما د خلکو
اسرائیلو شپون به وی. او د هغه راتله د پخوا او د ازل نه ؤ.
۷۰۰ کاله مخکې یشعیاه نبی پیشګوئی وکړه چې نجات
ورکوونکی به هم انسانی او هم خدائی وی. او بې له کوم
انسانی پلار څخه به د یوی پیغلی نه وزیږیږی. خدای به د
هغه پلار شی. یو له هغه د نومونو څخه دا ؤ "عمانوئیل" چې
معنی ئې ده "خدای زمونږ مل دی."
یشعیاه ۷: ۱۴ ګورئ، یوه پیغله به اُمیدواره شی او زوی
به ئې وشی او د هغه نوم به عمانوئیل کیږدی.
یشعیاه ۹: ۲ زمونږ لپاره زوی پیدا شو او زوی مونږ ته
راوبخښلی شو چې پادشاهی به د هغه په اوږو باندې وی او
د هغه نوم عجیب مشر (مشاور) او قادر خدای، ابدی پلار
او د سلامتی سردار به وی.

د متی او لوقا په انجیل کې لولو چې څنګه عیسی بې له کوم انسانی پلار څخه په بیت الحم کې وزیږید. د خدای او د باکری مریم زوی. انسانی او خدائی هغه عمانوئیل ؤ. یعنی خدای زمونږ مل دی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۱۰- لاندې تشریحات د وعده شوی مسیح په باره کې چې پیشګوئی ئې شوی وه راغلی دي. اوس د هغوی آیات معلوم کړی. بعضی آیاتونه د یو وار څخه زیات استعمال شوی دي.

الف) د ښځی نسل
ب) قدیر خدای
ج) په بیت الحم کې پیدا ینبت
د) عمانوئیل
ه) د سلامتیۍ سردار
و) د پیغلی څخه پیدا ینبت

۱۱- زوړ عهد او نوی عهد داسی تعلیم ورکوی چې مسیح:
الف) یو معمولی انسان دی

ب) خدای دی نه انسان
ج) هم خدای دی او هم انسان

## قربانی او خلاصونکی

خدای یو شو پیغمبرانو ته دا وښودل چې خلاصونکی به خپل ځان لکه د یوی قربانۍ په شان زمونږ د ګناهونو لپاره قربانی کړی. د مسیح د راتلو څخه دمخه چې کوم څاروی د خدای په کور کې قربانی کیدل دا د هغه د قربانی نښه وه. ګناه ګارانو به ګډوری یا چیلۍ کاهن ته د حلالولو لپاره راوستلی چې حلال ئې کړی او په قربانګاه باندې ئې وسوځوی. دا کار صرف د دې لپاره ؤ چې : خدایه، مونږ ستا په خلاف ګناه کړیده او د خپلو دې کړو څخه پښیمانه یو او نه غواړو چې دا عمل بیا وکړو. پوهیږو چې د ګناه سزا مرګ ده او یواځې مرګ کیدای شی چې زمونږ په نصیب وی مګر خدایه ستا نه غوښتنه کوو چې دا قربانی زمونږ په ځای قبوله کړه. او پس له دې نه به خاص ستا لپاره ژوند کوو.
د یشعیاه نبی د کتاب دری پنځوسم باب په مکمل ډول د دې خبری تائید کوی چې خدای څنګه او په کومه طریقه سره خلاصونکی زمونږ لپاره قربانی کړ، او څنګه بیا را

ژوندی شو او د هغه خلکو د لیدلو څخه چې د هغه د مرګ په وسیله ئې خلاصون پیدا کړی وی خوشحالیږی. عیسی زمونږ د ګناهونو قربانی او خلاصونکی شو. نبیانو پیشګوئې کړی وه چې عیسی به چیرته او څنګه د یو نژدی ملګری د لاس څخه ونیول شی، تهمتونه به پرې ولګوی او په بندیخانه کې به ئې واچوی، زور زیاتی به ورسره وکړی، ورپوری و به خاندی، او لاړی به ورباندې تو کړی او په صلیب به ئې کړی.

مګر هغه به بیا راژوندی شی. لکه څنګه چې په زاړه عهد کې نبیانو پیشګوئې کړی وه، هم هغه شان دا ټولی پیشګویانی په مسیح کې پوره شوی. په دې باره کې به نور هم ولولئ.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۱۲- زمونږ د ګناهونو لپاره عیسی کوم ډول قربانی د خدای حضور ته وړاندی کړه؟

الف) ګډوری او چیلۍ

ب) ښه او ښائسته کردار او عملونه

ج) زمونږ لپاره ئې خپل ځان قربان کړ.

## نبی، کاهن او پادشاه

مونږ ته د زاړه عهد پیشگویانی دا را په گوته کوی چې مسیح باید د خدای په روح سره مسح شی تر څو چې هغه زمونږ نبی، کاهن او پادشاه وی. مونږ ته هغه د یو نبی په صفت سره د خدای آواز ؤ. د یو کاهن په صفت هغه خدای ته زمونږ آواز وگرزید او د یو پادشاه په صفت هغه خپل لاس اوږد کړ تر څو زمونږ په رهنمائې کې مرسته وکړی. هغه زمونږ د ژوند لپاره یو حد مشخص کاوه او د خدای حاکمیت یې زمونږ په زړه کې مقرراوه.

هر کله چې عیسی خپل عام وعظ پیل کړ هغه، هغه پیشگوئې چې د وعده شوی مسیح په باره کې شوی وه ولوستله او دا ئې وویل چې دا وعده درک کړئ او د هغې عملی کیدل په هغه کې ووینی.

یشعیاه ۶۱: ۱، ۲ د رب روح په ما نازل دی ځکه چې زه هغه مسح کړے یم، او دې له ئې را استولی یم چې عاجزانو ته زیری ورکړم، چې قیدیانو ته آزادی او ړندو ته د بینائی اعلان وکړم او چې ژوبل شوی مظلومان آزاد کړم، او د رب د قبول شوی کال وعظ وکړم.

## نبی

موسی تقریباً د عیسی د پیدایښت څخه ۱۴۰۰ کاله وړاندې نبی، او د یهودیانو لوی مذهبی او سیاسی رهبر ؤ. خدای تعالی د هغه په وسیله د انسانانو سره خبری وکړی. هغه شریعت او قانون حاصل کړ او هغه ئې خپل قوم ته وسپاره. او هغوی ئې د غلامی څخه آزاد کړل. د لویو معجزو سرته رسیدو د هغه په خدمت کې د هغه سره مرسته کوله او همدې کار دا خبره ثابته کړه چې هغه خپل قوم ته خدای رالیږلی دی. موسی وفرمایل:

استثنا ۱۸ : ۱۵ خدای به تاسو ته ستاسو د خپل قوم نه زما په شان یو نبی پیدا کړی. هغه ته غوږ شئ.

عیسی د ډیرو اړخونو نه د موسی په شان ؤ. خدای د هغه په واسطه هم خبری وکړی. هغه هم لویی معجزی څرګندی کړی. خلکو ته ئې د ګناه د غلامی نه خلاصون ورکړ. د یو نبی په حیث هغه ډیری پیشګویانی وکړی چې ځنیی ئې په دا رنګ دي: په صلیب باندې د هغه مرګ، پس له دري ورځو څخه د هغه بیا را ژوندی کیدل، بیا آسمان ته ختل، هغه څه چې پیروانو ئې سرته رسول، د روح القدس نازلیدل او د انجیل خپریدل، په اورشلیم کې د عبادت خانی یا معبد ورانیدل. دغه ټول واقعات لکه څنګه چې مسیح

فرمایلي ؤ واقع شول. ځیني له دې پیشګویانو څخه نن سبا پوره کیږي او سرته رسیږي. مونږ پوهیږو چې پاتې پیشګویانې به په حقیقت سره سرته ورسیږي او پوره به شي.

## کاهن

د زبور غږونکی په دې باره کې داسې ولیکل:
زبور ۱۱۰: ۴ مالک قسم خوړلی دی او پښیمانه به نه شي. چې ته کاهن یې تر ابدالابد پوری د ملکي صدق په شان. د زاړه عهد کاهنانو د خپل قوم لپاره دعا کوله او د هغوی د ګناهونو لپاره ئې د خدای په حضور کې قرباني کوله. څه وخت چې عیسی په مځکه باندې ؤ هغه د خپلو مریدانو لپاره ډیره دعا کوله او اوس هم هغه زمونږ لپاره دعا کوی. هغه قرباني چې ئې زمونږ لپاره وکړه هغه د خپل ځان څخه عبارت وه. مونږ اوس هم کولای شو چې د خپلو ګناهونو د بخښلو لپاره مالک عیسی ته رجوع وکړو او بخښنه ترې نه وغواړو. هر وخت چې په دعا کې هغه ته توجه کوو، نو زمونږ کاهن یعنې عیسی زمونږ ضرورتونه د خدای حضور ته وړاندې کوی.

د زاړه عهد د پیشگویانو په مطابق مسیح څه یو قدرت لرونکی او تسخیرونکی پادشاه کیږی! شیطان ته چې د خدای او د انسان دښمن دی ماتی ورکوی. په گناه، مرض، غم، حتی پر مرگ باندې غالب کیږی. شرپسنده قوتونه ئې له منځه وړی او پادشاهی د مځکی په مخ قایموی او په کامل عدالت رفتار کوی سوله سلامتی او خوشحالی د مځکی په مخ راولی. هغه د دنیا ټول مشکلات او مسالی حل کوی. دا یوه عجیبه خبره نه ده چې دومره خلک ئې د راتلو په انتظار دی! هغه پیشگوئی چې تاسو په یشعیاه ۹: ۲ کې د هغه د سولی او سلامتی په باره کې ولوستله داسی ادامه لری:
یشعیاه ۹: ۷ د هغه د پادشاهی ترقی د داؤد په کرسی او د هغه ملک کې به پای ونه لری تر څو هغه په انصاف او عدالت د اوس نه ابدالابد پوری ثابت او قایم کړی د یهوه صبایوت غیرت به دا کار وکړی.
په څلورو انجیلونو کی به متوجه شئ چې ځینی خلکو عیسی ته د "داود زوی" وایه. او هغه په قانونی ډول سره د داود د تخت وارث ؤ. د هغه پیروانو د ټولو هغو معجزو او خدمتونو چې سر ته ئې رسول د هغی پادشاهۍ چې مسیح

ئې باید ټینګه کړی ټوپ مشخصات چې درک کړل او پس له هغی نه دوی په دې کوشش کې ۇ چې هغه خپل پادشاه کړی. مګر عیسی دې ته تیار نه ۇ چې خپل ځان دنیایی پادشاه کړی. په او کې هغه مونږ ته زمونږ پر زړونو او ژوند د پادشاهۍ کولو معیارونه او شرایط راوبخښل. تر اوسه پوری په داسی وخت کې ژوند کوو چې اوس هم خلکو ته دا دعوت ورکوو چې عیسی د خپل ژوند د پادشاه په حیث قبول کړی. هر هغه څوک چې عیسی د خپل پادشاه په ډول قبول کړی، هغه دوی د شیطان د قبضی نه او د ګناه کولو څخه خلاصوی.

یوه ورځ به عیسی مځکی ته بیا راشی تر څو چې خپله ابدی پادشاهی په مځکه قایمه کړی. دا ډیره مهمه ده چې تاسو په دې وپوهیږی چې عیسی څوک دی او د هغه حکمرانی به څنګه وی او تاسو به د هغه په پادشاهۍ کې څه برخه ولری. دا به ښه وی چې مونږ خپل ځان سره دا دعا وکړو:

عیسی زه ستا څخه دا غواړم چې ما سره مرسته وکړه تر څو هغه حقیقتونه چې ستا پیژندل را ته ښیی، وپیژنم او یاد ئې کړم. ما سره مرسته وکړه چې زما په ژوند کې هغه ځای چې تا سره ښائیږی تا ته درکړم. آمین.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی.

۱۳- د خلاصونکی کاهنتوب تر څه وخت پوری ؤ؟
۱۴- وعده شوی خلاصونکی د کوم نبی سره تشبیه شوی ؤ؟
۱۵- هر کله چې د مسیح په وړاندې دعا کوو او د هغه څخه دا غواړو چې د خپلی قربانی په وسیله دې زمونږ ګناهونه وبخښه، نو هغه د چا په حیث منو؟

الف) د موسی په شان نبی

ب) زمونږ کاهن

ج) تسخیر کونکی او پادشاه

۱۶- د داود د زوی عنوان عیسی ته په کوم سبب ورکړ شوی دی؟

الف) نبی

ب) کاهن

ج) پادشاه

۱۷- فکر وکړئ: تاسو تر کوم ځای پوری چې وپوهیدی چې عیسی څوک دی، نو تاسو ته دا خبره څه اهمیت لری؟

**۱۸- خپل جوابونه مقایسه کړئ، او خپلې نمرې یاداشت کړئ.**

## خپل جوابونه مقایسه کړئ

### د دویم درس جوابونه

د دې سوالونو ۱۹ جوابونه درلودل. د ۱۹ نه تر ۱۸ پورې عالي، او د ۱۵ ته تر ۱۷ پورې ښه، او د ۱۱ نه تر ۱۴ پورې درمیانه حسابیږي. که چیرې ستاسو د سوالونو جوابونه د ۱۱ څخه کم وي، نو دا درس بیا مطالعه کړئ.

۱- ج) هغه کشفونه چې خدای د نبیانو په وسیله مونږ ته راکړي دي.

۳- ج) عیسی مسح شوی، وعده شوی مسیح.

۴- نبی، کاهن، پادشاه.

۵- الف) په تدریجی ډول سره د نبیانو په وسیله د ۴۰۰۰ کالو څخه په زیاته موده کې.

۲- ج) ۳۳۰.

۸- ب) د دې وجې څخه اهمیت لري چې د مسیح د پیشګوئی تصویر او د هغه کار څرګندوي.

۹- عبرانیان.

۱۰- الف) پیدایښت ۳: ۱۵.

ب) یشعیاه ۹: ۲.

ج) میکا ۵: ۲.

د) یشعیاه ۷: ۱۴

ه) یشعیاه ۹: ۲.

و)یشعیاه ۷: ۱۴

۱۱ - ج) هم خدای دی او هم انسان

۱۲ - ج) خپل ځان ئې زمونږ لپاره قربان کړ.

۱۳ - تر ابدالابد پورې.

۱۴ - موسی ته.

۱۵ - ب) زمونږ کاهن.

۱۲ - ج) پادشاه.

صحیح جوابونه ............ نمری ..........

# ۳

# عیسی، د خدای زوی

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

زوی او د هغه پلار

د پلار او زوی ابدی یوالی
د زوی په وسیله د پلار پیژندل
د پلار په وسیله د زوی پیژندل

زوی او د هغه پیروان

د پیروانو په وسیله د زوی پیژندل
د زوی په وسیله د پیروانو پیژندل
د زوی او د پیروانو تر منځ ابدی یوالی

عیسی مسیح د خدای پاک زوی دی. مونږ ته په دې خبره باندې ایمان لرل ضروری دي. هغه د یو نیک او ښه سړی څخه ډیر لوی دی. د یو معلم څخه لوی دی. هغه مسیح دی، او د واحد او حقیقی خدای زوی. مونږ دا خبره درک کړه، او پوره مطمین یو، او په مکمل ډول سره راته معلومه ده چې عیسی خدای دی چې د انسان په شکل دنیا ته راغی. او په دې پوهیږو چې هغه دا قدرت لری چې مونږ د ګناه او د شیطان د غلامی څخه آزاد کړي.

## زوی او د هغه پلار

## د پلار او زوی تر منځ ابدی یوالی

د دې نه مخکې چې عیسی په بیت الحم کې وزیږیږی هغه همیشه د خدای پلار سره ؤ. میکاه د مسیح په هکله چې باید زیږیدلای وای داسی لیکلی:

میکاه **٥**: ۲ ......د هغه راختل د پخوا څخه او د ازل د ورځو څخه ؤ.

عیسی د خپل مرګ څخه دمخه په هغه شپه دعا وکړه:

یوحنا ۱۷ : **٥** او ای پلاره! اوس ته ما ته په خپل حضور کې

جلال راکړه، هغه جلال کوم چې ما تا سره د دنیا د پیدایښت نه اول لرلو.
عیسی د خدای سره ؤ او د دنیا په پیدایښت کې ئې د هغه سره کار کاوه. یوحنا عیسی ته کلمه وایی او خپل انجیل داسی شروع کوی:
یوحنا ۱: ۱- ۳ په ازل کې کلام وو او کلام د خدای څخه وو او کلام خدای وو، دغه په ازل کې د خدای څخه وو. او د هغه په وسیله ټول څیزونه په وجود کې راغلل. څه چې په وجود کې راغلل، یو څیز هم بغیر د هغه نه په وجود کې را نه غی.
پورتنی آیات چې د راز په څرګندونو کې ئې ډیر لوستونکی حیران کړی دي ډیر د مرستی وړ آیات دی. خدای هغه وخت چا ته مخاطب ؤ چې وئې ویل:
"مونږ به انسان په خپل صورت او په خپل شان سره جوړ کړو؟" او خدای یشعیاه نبی ته ولی وویل چې وعده شوی مسیح چې څه وخت وزیږیږی، ابدی پلار او قدیر خدای به وبللی شی؟
مقدس کتاب وائی چې صرف یو واحد او حقیقی خدای موجود دی. یعنی خالق خدای. مګر د دې هر څه سره بیا هم په زوړ عهد کې ۲۷۰۰ ځله هغه ته د جمع نوم استعمالوی: الوهیم. "الوهیم" د خدای په معنی، په ډیرو ځایونو کې د

جمع په طور استعمال شوی دی چې تر څو د خدای کار او صفات ښکاره کړی. تاسو کولای شی چې د پیدایښت په کتاب کې ئې وګورئ. په ځینو ځایونو کې تر دې د یو شخص نه ډیرو کار کړی دی، مګر د مفرد فعل نه ګټه اخستل شوی ده. مقدس کتاب کې د "واحد" کلمه په دې سبب سره استعمال کړی ده چې وحدت او تعداد دواړه بیان کړی. یعنی الهی وحدت چې هغه مونږ خدای ګڼو د یو کس نه زیات کسان په کې شامل دي.

پیدایښت ۱: ۱- ۲، ۲۲ په ابتدا کې خدای آسمانونه او مځکه پیدا کړل او مځکه ورانه او خالی وه په مخ د ژوری تیاره وه او د خدای روح د اوبو په مخ رپیده. او خدای وویل چې مونږ به انسان په خپل صورت او په خپل شان سره جوړ کړو .... څنګه چې په زاړه عهد کې انسان ته د خدای مکاشفه وسعت او پراخوالی مومی، نو درې کسانو ته خدای ویل کیږی:

پلار، زوی او روح القدس چې مونږ ورته د خدای تثلیث او یا مقدس تثلیث وایو چې معنی ئې داسی ده: "درې مقدس شخصیتونه په یوالی کې." هغوی په هدف، قدرت او طبیعت کې سره یو دي او تل ئې په یو اتفاق او په کامل شراکت سره یو ځای کار کړی دی. دا مو په پیدایښت کې په واضح توګه سره مطالعه کړی دی. د دوی تر منځ دغه

مرستی چې کله مسیح په مځکه کې ؤ دوام درلود او د تل لپاره به دوام لری. د دری واړو لپاره د خدای نوم لکه یو کورنی نوم دی. یعنی د پلار او د زوی او همدارنګه د روح القدس لپاره استعمالیږی. د دوی د معلومولو او پیژندلو لپاره دا فرق موجود دی چې د پلار لپاره خدای او د زوی لپاره د هغه د مځکی نوم یعنی عیسی او روح القدس لپاره د همدې نوم څخه یعنی روح القدس څخه استفاده کوو.

عیسی د هغه یوالی په باره کې چې د پلار سره ئې درلود وویل چې دواړه یو دي، دی په پلار کې دی او پلار په ده کې.

یوحنا ۱۷: ۲۱- ۲۲ تۀ دوی ټول یو کړه. لکه چې تۀ پلار په ما کې یی او زه په تا کې یم دغه شان دې دوی هم په مونږ کې یو وی ... لکه چې مونږ یو یو، زه په هغوئ کې او ته په ما کې ....

پلار خدای د مسیح دعا ته جواب ورکړ کله چې هغه زمونږ د ګناهونو لپاره مړ شو او هغه یې د مړو نه بیا ژوندی کړ. پس د څلویښت ورځو څخه چې ډیرو خلکو هغه ولید آسمان ته وخوت، نو خدای تعالی دا اجازه ورکړه چې ځینی خلک دې هغه د پلار سره په خپل جلال کې ووینی، نو د هغوی څخه یو ستفانوس ؤ.

اعمال د رسولانو ۷: **۵۵** او ستفانوس چې په روح القدس معمور وو او آسمان ته ئې ځير وکتل، نو هغهٔ د خدای جلال وليدو او عيسی د خدای ښی لاس ته ولاړ وو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې بايد تاسو يې سرته ورسوی

۱- هرې جملې ته صحيح نومونه انتخاب کړئ:
الوهيم، ميکا، ستفانوس، عيسی، يوحنا، ثليث، يشعياه).

الف)............ مسيح قادر خدای ته استعماليږی.

ب) ............ د مسيح څخه خبری کوی څوک چې د ازل څخه موجود ؤ.

ج) ............ د جمع نوم دی د خدای لپاره.

د) ............ په دې معنی دی چې يو خدای په درې کسانو کې دی.

ه) ............ د پيدايښت په کار کې ئې د عيسی څخه خبری وکړی.

و) ............ وويل چې هغه د پلار سره يو دی.

ز) ............. عیسی ئې خدای سره یو ځای په آسمان کې ولید.

## د زوی په وسیله د پلار پیژندل

عیسی په دې پوهیدو چې خدای د هغه پلار ؤ او دا ئې غوښتل چې نور هم په دې باندې پوه شی. د هغه وخت څخه چې هغه لا دولس کلن ؤ تل به ئې په خپلو خبرو کې خدای ته پلار وایه. هغه په خپلو دعاګانو کې خدای ته پلار وایه.
عیسی خلکو ته وفرمایل چې زه خدای رالیږلی یم هر هغه څوک چې په ما باندې ایمان راوړی ابدی ژوند به ولری. هغه وویل:
یوحنا ۳: ۱۲ خدای د دې دنیا سره داسی مینه وکړله چې خپل یکی یو زوی ئې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په زوی ایمان راوړی هغه هلاک نۀ شی خو د تل عمری ژوندون بیا مومی.

**یوحنا ۳: ۱۲ پنځه ځله ولولي او حفظ ئې کړئ.**

عیسی د هغو کارونو په کولو سره چې هغه ورته خدای مقرر کړی ؤ خپل پلار یعنی خدای ته جلال ورکړ. هغه خلکو ته دا وښودل چې خدای څنګه عجیب او اوچت دی. هغه خلکو ته اجازه ورکړه تر څو پوه شی چې د هغه تعلیم څنګه بې ساری دی.
او د هغه ټولی معجزی د پلار له خوا دي.
یوحنا ۸: ۲۸ ، ۲۹ نو هغۀ هغوئ ته وويل، کله چې تاسو ابن آدم پورته وخیژوئ، نو پوه به شئ چې زه چې یم هغه یم. زه په خپل اختیار هیڅ نه کوم خو هر څه چې زه وایم، د دې تعلیم ماته زما پلار راکړی دی. چا چې زه را استولے یم هغه ما سره موجود دی او هغه زه یوائې نه یم پریښی ځکه چې زه همیشه هغه څه کوم چې کومه د هغه رضا ده.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۲- عیسی په خپلو دعاګانو کې خدای ته کوم نوم استعمالوی؟

# د پلار په وسیله د زوی پیژندل

مونږ په دې پوهیږو چې عیسی د خدای زوی دی، ځکه چې خدای پخپله دا خبره ښکاره کړله. خدای خپل زوی ته جلال ورکړ. عیسی وفرمایل:

یوحنا ۸: ۱۸ ، **۵۴** .... پلار دی چې زه ئې را استولی یم .... که چیری زه خپل صفت وکړم نو زما صفت کول څه معنی نه لری، خو دا زما پلار دی چې زما صفت کوی، د هغه چې تاسو ورته خدای وایئ. خدای (۱) د فرښتو په وسیله، (۲) د روح القدس او (۳) د هغه علایمو او نښو نښانو په وسیله چې د طبیعت څخه لوړی دي په عیسی ئې شهادت ورکړ، او هغه ته ئې جلال او لوئی ورکړه.

## فرښتی

خدای خپل آسمانی استازی یعنی فرښتی راولیږلی چې خلک په دې وپوهیږی چې عیسی د هغه زوی دی. فرښتو یوسف او مریم ته وویل چې یو ماشوم د پیغلی څخه پیدا کیدونکی دی او هغه به د خدای زوی وی. فرښتو د بیت الحم په شا او خوا کې شپونکو ته خبر ورکړ چې

خلاصونکی پیدا شوی دی. د عیسی په ژوند کې په دوه لویو او خرابو حالاتو کې فرښتې ورته راغلې تر څو هغه ته طاقت ورکړي. فرښتو د هغه د قبر څخه ګټ لرې کړ او د هغه مریدانو ته ئې وویل چې هغه د مړو څخه ژوندی شوی دی.

هر کله چې عیسی آسمان ته پورته کړی شو، نو په هغه وخت کې خلکو آسمان ته کتل. په دې کې فرښتې ورته ښکاره شوې او دوی ته ئې وویل چې تاسو څه ته بره ګورئ دغه عیسی چې په کومه لار تاسو څخه لاړ په همدغه لار به بیا راځي.

## روح القدس

خدای خپل روح راولیږلو چې عیسی ته جلال ورکړي او هم خلک په دې پوه شي چې عیسی څوک دی. روح القدس الیشبع، زکریا، شمعون مریم او حنا خپل کړل او د دوی په وسیله ئې خبرې وکړې. هغوی خلکو ته وویل چې عیسی هم هغه مسیح دی. خدای یحییٰ بپتسمه ورکونکی د خپل روح څخه معمور کړ او ویې ویل چې عیسی د خدای وری دی چې د دنیا ګناه په خپل ځان وړي. کله چې مسیح بپتسمه اخیسته، نو روح القدس ورباندې د یوې کوترې په

شکل نازل شو تر څو د هغه خدمت وکړی. روح، عیسی د خدمت لپاره د مسیح په مقام کې مسح کړ. د خدای د حکمت او قدرت څخه معمور یعنی د خدای مسح شوی.

## طبیعی نښې او علامی

خدای پاک د عیسی د تائید لپاره د ډیرو نښو او علامو څخه کار واخیست. کله چې عیسی لا وړوکی وو، نو یو ستوری نجومیان د هغه په طرف رهنمائي کړل. دری واری خلکو د خدای خبری واوریدلی چې د آسمان څخه ئې وکړی او عیسی ته ئې جلال ورکړ. او دوه واری ئې واوریدل چې خدای وفرمایل:
متی ۳: ۱۷ دا زما خوږ زوی دی چې په ما ګران دی او زه ترې رضا یم.

## متی ۳: ۱۷ آیات پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړئ.

عیسی چې کومی معجزی سرته ورسولی دا ټول د خدای شهادتونه ؤ د دې لپاره چې دا هم هغه شخص دی چې دعوه ئې کوی. یعنی د خدای زوی. خدای د هغه شاګردانو ته د

هغه د جلال او عظمت نه لږ څه وښودل چې مونږ دې واقعی ته تبدیل شکل وایو.
متی ۱۷ : ۲ او د هغوی په موجودګی کې د هغه شکل بدل شو او د هغه مخ لکه د لمر وځلیدو او د هغه جامی لکه د رڼا سپینی شوی.
هر کله چې عیسی په صلیب باندې مړ شو خدای په خپل زوی شهادت ورکړ. مځکه ولړزیده، ټوله مځکه تیاره شوه او د خدای د کور پرده په منځ دوه نیمه شوه.
پس له دریو ورځو مرګ څخه د بیا راژوندی کیدو په واسطه خدای خپل زوی ته جلال ورکړ. د آسمانی وجود سره ئې بیا هغه خپل کور آسمان ته پورته کړ. او پس له هغی نه ئې یو څو کسانو ته دا وښودل چې هغه د خپل پلار سره یو ځای ناست ووینی. هر کله چې د عیسی شاګردانو د خدای څخه د هغه په نوم دعا وغوښتله هغه ورته جواب ورکړ او لوئې معجزی ئې څرګندی کړی. هر هغه څوک چې په خدای ایمان لری، باید چې د هغه په شهادت هم ایمان ولری. یعنی کوم شهادت ئې چې د خپل زوی عیسی په حق کې ورکړی دی. او باید چې په هغه ایمان راوړی.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۳- خدای پخپله څنګه شهادت ورکړ چې عیسی د خدای زوی دی؟
لږ تر لږه د دریو طریقو نومونه واخلی چې په کې د دې شهادتونو شرایط او کیفیتونه منځ ته راغلی وی.
الف) فرښتی ښکاره شوی
ب) روح القدس
ج) د طبیعت څخه لوړی نښی او علامی

## زوی او د هغه مریدان

لکه څنګه چې د پلار او زوی تر منځ دوه اړخیزه رابطه موجوده ده. همدارنګه د خدای زوی او د هغه د مریدانو دوه اړخیزه رابطه قایمه او موجوده ده. د دې رابطی څخه مقصد دا دی چې مونږ د خدای د زوی سره ابدی رابطه لرو.

# د مریدانو په وسیله د زوی پیژندل

څه وخت چې مسیح په مځکه کې ژوند کاوه صرف هغه خلکو د هغه څخه تابعداری او پیروی وکړه چې په هغه ئې ایمان درلود. په دې خبره باندې هغوی وپوهیدل چې دا هم هغه کس دی چې هغه ئې دعویٰ کوی. یعنی د خدای زوی او په ښکاره ډول سره ئې په هغه باندې ایمان راوړ.

متی۱۶: ۱۶ شمعون پطروس جواب ورکړو: ته د ژوندی خدای زوی مسیح یئ.

یوحنا ۲۰: ۲۸ توما وویل: زما مالکه او زما خدایه!

د عیسی د اوسنیو مریدانو په هکله څه؟ مونږ هغه څنګه پیژندلی دی؟ صرف کلیسا ته په تلو سره؟ یا خپل ځانته په مسیحی ویلو سره؟ د دې لپاره چې واقعی او اصلی مسیحیان اوسو، نو دا لازمه ده چې په مالک عیسی باندې ایمان راوړو، او هغه د خلاصونکی، د خدای د زوی او خپل نجات ورکونکی په حیث وپیژنو او قبول ئې کړو. نو دا کار څنګه کولای شو؟ په دې صورت چې خپل ژوندون هغه ته وقف کړو، په هغه باندې باور وکړو او هر چیری چې مو هغه رهنمائې کوی باید لاړ شو.

یوحنا خپل انجیل د دې لپاره ولیکه چې تر څو ثابته کړی چې عیسی د خدای زوی دی. او په همدې ډول سره مونږ

کولای شو پرې ایمان راوړو او ابدی ژوندون تر لاسه کړو.
یوحنا په دویم ځل سره الهی فرمان تکرار وی چې صرف د دې ژوند ګټل یواځی زوی ورکولای شی.
یوحنا ۲۰ : ۳۱ او هغه چې دلته لیکلی شوی دي دا تش په دې غرض دي چې تاسو په دې ایمان راوړی چې عیسی هم مسیح دی، یعنی د خدای زوی، او د په وسیله د هغه په نوم ژوندون ولرئ.
اول یوحنا **۵**: ۱۱- ۱۲ هغه ګواهی دا ده چې خدای مونږ له د تل ژوندون راکړی دی. او دا ژوندون د هغه په زوی کې دی. څوک چې د خدای زوی لری هغه ژوندون هم لری. او څوک چې د خدای زوی نه لری هغه ژوندون هم نه لری.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

**۴**- مونږ ته کوم یو انجیل خاص د دې په باره کې راکړ شوی دی چې وایی، عیسی د خدای زوی دی تر څو چې په اطمینان سره وکولای شو، ایمان پرې راوړ؟

الف) د متی انجیل

ب) د مرقوس انجیل

ج) د لوقا انجیل
د) د یوحنا انجیل
**۵**- د اول یوحنا **۵**: ۱۱- ۱۲ په مطابق هغه ابدی ژوندون
چې خدای یی وربخښی چیرته دی؟

## د زوی په وسیله د مریدانو پیژندل

د دې نه مخکې چې دې دنیا ته راشو عیسی مونږ پیژندلو. مخکې له دې نه چې دنیا خپل شکل اختیار کړی پلار خدای، زوی او روح القدس د بشر د نسل څخه مونږ په خپل نظر کې درلودلو او د هغه په نقشه کې شامل ؤ. هغوی ولیدل چې د خدای په شکل پیدا شوی یو، د خدای اولاد چې د هغه په محبت کې خپل ځان شریک ګڼو. د هغو ښو شیانو څخه چې هغه زمونږ لپاره تیارول ګټه واخلو او په پوره نیک بختی کې د هغه سره ژوند کوو.
مګر خدای دا هم ولیدل چې د بشر نسل د هغه څخه خپل مخ ګرزولی دی، سرکش شوی دی. او د ګناه او مرګ لاره غوره کوی. خدای ولیدل چې د ګناه په وجه دا دنیا په مرګ محکومه شوی ده. مونږ په کې ویده یو. سره د دې دومره سرکشی او نافرمانی بیا هم هغه زمونږ سره په پوره ډول

محبت او مینه وکړه. پلار، زوی او روح القدس زمونږ د خلاصون لپاره نقشه جوړه کړه.
هغه وخت چې مونږ لاګناه ګار ؤ د خدای زوی مونږ د خپل ځان لپاره انتخاب کړو چې د هغه مریدان اوسو. هغه زمونږ ګناه ولیده او زمونږ په ځای ئې د مرګ سزا وزغمله. هغه زمونږ کمزوری ولیده او مونږ ته ئې قدرت او طاقت راکړ. هر هغه څوک چې هغه ته ورځی هغه ئې قبلوی او هغوی د ګناه له درانده پیتی څخه آزادوی.
افسیان ۱: ۴-۵ ځکه چې هغه مونږ د دنیا د پیدایښت نه مخکې په مسیح کې غوره کړلو چې مونږ د هغه په نزد پاک او بې عیبه شو. او هغه د خپلی مرضۍ د نیکی ارادی په مطابق مونږ د ځان لپاره مقرر کړلو چې د عیسی مسیح په وسیله د هغه بچی شو.
هغه وخت چې عیسی په دې مځکه ژوند کاوو او هغه چې کوم نومونه د خپلو مریدانو لپاره استعمال کړل، نو هر هغه چا ته ئې چې نن د هغه پیروی کوی خپله مینه او محبت وښود، هغه دوی ته د خپلو وړو زامنو، د خدای زامن، د دنیا نور، د دنیا مالګه، خپله ناوی، خپل شاهدان، او هغوی چې خدای ده ته ورکړی دي، د هغه د پسونو وړه رمه، هغه کسان چې ده غوره کړی دي، خپله کلیسا، خپل

ورونه، او د خپل بدن يوه برخه، او هم ئې ورته د يو تاک ځانګی وويل.
آيا مونږ هم عيسى د خپل خلاصوونکی او مالک په حيث پيژنو؟ که چيری جواب مثبت وی، نو هغه هم مونږ د خپل ځان ګڼی.
متی ۱۰: ۳۲- ۳۳ هر څوک چې د خلقو په وړاندے زما اقرار وکړی، زه به په آسمان کې د خپل پلار په وړاندې د هغه اقرار وکړم. او هر څوک چې د خلقو په وړاندې زما نه انکار وکړی، زه به په آسمان کې د خپل پلار په وړاندې د هغه نه انکار وکړم.
يوحنا ۱: ۱۲ خو کومو خلقو چې قبول کړو هغوئ ته ئې دا حق ورکړو چې د خدای اولاد شی يعنی هغوی چې د هغه په نامه ايمان راوړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې بايد تاسو يې سرته ورسوی

۲- د افسيانو ۱: ۴-۵ څخه هغه عبارت چې دې لاندې سوالونو ته جواب ورکوی راوباسئ په خالی ځايونو کې ئې وليکئ.

الف) خدای مونږ څه وخت غوره کړو؟
ب) خدای مونږ د څه لپاره غوره کړو؟
ج) د دې نتیجه څه وه؟
د) خدای ولی وغوښتل چې مونږ خپل طرف ته وغواړی؟.
ه) خدای په کومی طریقی سره نقشه طرحه کړه چې مونږ ځانته نژدی کړی؟
و) د خدای مقصد او رضا څه وه؟
۷- عیسی خپلو پیروانو ته کوم لقب ورکړ؟ لږ تر لږه پنځه نومونه د هغو ښخه ولیکی. بیا کتاب ته وګورئ او خپل فهرست مکمل کړئ. هغه څه چې غواړئ چې خدای ئې تاسو لپاره وکړی ولیکی.

## د زوی او مریدانو تر منځ ابدی یوالی

عیسی زمونږ ښخه دا غواړی چې د هغه سره یو ځای واوسیږو. ځکه چې هغه مونږ سره مینه کوی. او په دې پوهیږی چې زمونږ د ژوند خوشحالی او ابدی اتحاد د هغه سره تړلی دی. هغه زمونږ وجود او روح ته نوی ژوند ورکوی. په هغه کې واقعی خوشحالی ده، د هغه د قدرت په وسیله په شریر یعنی شیطان باندې هر وخت کامیابی

حاصلوو. هر هغه څوک چې په خپل ورځني ژوند کې د هغه سره ملګرتیا کوی په آسمان کې به د هغه سره ژوند وکړی.
عیسی وفرمایل: یوحنا ۱۰ : ۱۰ زه راغلی یم تر څو خلک ژوند ومومی او هغه په کامل ډول ولری.
یوحنا ۱۴ : ۲ زه لار یم، زه حق یم او زه ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلی نه بغیر پلار ته نهٔ شی راتلی.

## یوحنا ۱۰ : ۱۰ او یوحنا ۱۴ : ۲ پنځه واری ولولئ او حفظ ئې کړی.

یوحنا ۳ : ۳۵- ۳۶ پلار د زوی سره مینه کوی او هغه ته ئې ټول اختیار ورکړی دی څوک چې په زوی ایمان راوړی نو هغه د تل ژوندون لری، خو څوک چې د زوی نافرمانی وکړی هغه به دا ژوندون ونه وینی، لیکن د خدای غضب په هغهٔ دی.
زمونږ اتحاد د مسیح سره دومره قوی او نژدی دی چې هر هغه څوک چې په هغه ایمان لری په مسیح کې دي او هغه په مونږ کې دی. هغه د انګور بوټی دی او مونږ ئې څانګی یو.
یوحنا ۱۵ : ۵ زه د انګور بوټی یم او تاسو زما څانګی یئ. څوک چې په ما کې اوسی لکه زه چې په هغه کې، نو هغه به

ډیره میوه ونیسی، ځکه چې زما نه بغیر تاسو هیڅ نه شی کولی.
پولوس رسول هم زمونږ اتحاد د مسیح سره د هغه د بدن اندام ګڼی. عیسی سر دی او کلیسا د هغه بدن دی. د زوی هغه ټول حقوق او امتیازات چې خدای سره دی. د هغه ټوله هستی او جلال او د هغه ټول شراکت او محبت چې د پلار او زوی تر منځ دی، په ټولو کې مونږ ته د هغه حق راکول کیږی. همدا مونږ یو چې د هغه د بدن اندامونه جوړوو.
کولوسیان ۱: ۱۷- ۱۸، ۲۷- ۲۸ او دغسی مسیح د ټولو څیزونو نه اول دی او ټول څیزونه په هغه کې قائم دی. او هغه د بدن، یعنی د جماعت سر دی، هغه ئې ازل دی او د مړو نه بیا ژوندی کیدونکو نه د ټولو نه اول پیدا شو لپاره د دې چې په ټولو خبرو کې د هغه درجه اول وی. خدای پاکانو ته ظاهرول غوښتل چې دا بې حده شاندار او قیمتی راز د غیر یهودیانو لپاره هم دی او هغه راز دا دی چې مسیح په تاسو کې اوسیږی او هم هغه د راتلوکی جلال امید دی. مونږ د هغه پیغام واوروو او هر چا ته نصیحت کوو او هر یو ته به پوره هوښیارتیا تعلیم ورکوو چې مونږ هر څوک په مسیح کې کامل کړو او پیش ئې کړو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

**۸- په یوحنا ۱۴: ۲ آیات کې عیسی خپل ځان څنګه معرفی کوی؟**

# خپل جوابونه مقایسه کړی

## د دریم درس جوابونه

ستاسو سوالونو **۲۱** جوابونه درلودل. د **۱۹** څخه تر **۲۱** پوری صحیح جوابونه اعلی، د **۱۷** څخه تر **۱۸** پوری ښه، د **۱۵** څخه تر **۱۲** پوری درمیانه. که چیری ستاسو صحیح جوابونه د **۱۵** څخه کم وی، نو دا درس بیا مطالعه کړئ.

۱- الف یشعیاه، ب)میکا، ج) الوهیم، د) تثلیث، ه) یوحنا، و) عیسی، ز) ستفانوس.

**۲**- پلار.

**۳**- (د هر یوی ډلی څخه دری).

الف) فرښتی ظاهری شوی: مریمی او یوسف ته، شپنو ته، عیسی ته د قبر خوا کې، آسمان ته د ختلو په وخت کې.

ب) د الیشبع، زکریا، مریم، حنا، شمعون او بپتسمه ورکونکی یحیٰی په واسطه ئې خبری وکړی او د کوتری په شان په عیسی نازل شو او هغه ئې په قوت او حکمت سره مسیح کړ.

ج) ستوری، آسمانی آواز، د مسیح معجزی، د شکل بدلیدل، د مځکی لړزیدل، تیاره، د خدای د کور د پردی

شلیدل، قیام، آسمان ته ختل، په آسمان کې د مسیح لیدل، د هغه په نوم د معجزو سرته رسیدل یعنی دعا ته جواب ورکول.
۴- د) د یوحنا انجیل.
۵- په زوی کې.
۶- الف) د دنیا د پیدا ښت نه مخکې.
ب) چې په مسیح کې د هغه شو.
ج) په هغه کې مقدس او بې عیبه کیدل.
د) ځکه چې هغه مونږ سره مینه کوی.
ه) د عیسی مسیح په وسیله.
و) مونږ به د خپل اولاد په شان خپل ځانته راکاږی.
۷- د دې صفتونو څخه پنځه صفتونه:
د هغه واړه زامن، د خدای بچی، د دنیا نور، د دنیا مالګه، د هغه ناوی، د هغه شاهدان، هغه کسان چې خدای هغه ته ورکړی دي، د هغه د پسونو وړه رمه، هغه کسان چې هغه غوره کړی دي.
د تاک د څانګو په څیر د هغه د بدن یوی برخی څخه شمیرل کیږی.
۸- لار، حقیقت او ژوندون.
صحیح جوابونه . . . . . . . . . . . نمری . . . . . . . . . .

# ۴

# عیسی، د انسان زوی

## خدای. پلار = عیسی

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

### د خدای څرګندیدل په جسم کې

پیدا ایښت له پیغلی
انسانی محدودیتونه
کامل ژوند

### په جسم کې د خدای د څرګندیدلو هدف

مکاشفه (پیشګوئې)
تیاری
پر ځای کښیناستل
واسطه

داسی معلومیږی چې عیسی د "انسان زوی" د عنوان سره ډیره علاقه لرله ځکه په انجیل شریف کې دغه عنوان اویا ځله استعمال شوی دی. دا ولی؟ د انسان زوی څه مفهوم لری؟ دغه عنوان د هغه د جسم او د هغه د کار په عنوان د بشر د نسل لپاره د نماینده په حیث خبری کوی.

## د انسان زوی

هغه عنوان دی چې مسیح پوری اړه لری او د زاړه عهد د پیشګویانو څخه اخستل شوی دی. په عبرانی کې دې ته بن آدم وائی. نو کولای شو چې هغه د آدم د زوی، د انسان د زوی او یا د بشر د نسل څخه د زوی په نوم ترجمه کړو.
د ځلورو شیانو په وجه دغه عنوان د مسیح پوری اړه لری او پرې ټینګار کوی.
۱- عیسی واقعی انسان ؤ. د ده وجود صرف یو جسم نه ؤ چې خدای په هغه کې خپل ځان انسانانو ته ښکاره کړ. هغه په رښتیا سره انسانی طبیعت درلود.
۲- عیسی، د آدم زوی او د ښځی اولاد دی. آدم او حوا ته وعده ورکړ شوی وه چې د هغی وعدی سره سم به د دوی اولاد شیطان ته ماتی ورکوی.

۳- عیسی د آدم زوی، ټولو نژادونو پوری اړه لری. نه دا چې هغه یو وخت او یو ځای او یا یو ملت لپاره، بلکه د ټولو انسانانو مسیح دی.
۴- عیسی د یو کار د سرته رسولو لپاره مځکی ته راغی. او دا کار صرف او صرف ده کولای شو چې د انسانی نژاد د رښتینی نماینده په حیث ئې سر ته ورسوی.

## د خدای تجسم په جسم کې

تجسم له دو کلمو څخه اخیستل شوی دی چې "په جسم کې" معنی لری. خدای دنیا ته په انسانی جسم کې راغی. عیسی مسیح، د خدای زوی، مجسم خدای دی. الوهیت د بشریت لباس ځان ته اختیار کړ.

## له پیغلی څخه پیدا ښت

په کومه معجزه یا په کوم عمل د خدای زوی د انسان زوی شو؟ د دې لپاره چې عیسی باید د آدم د اولاد په حیث پیدا شی، نو ضرور وو چې په مور ځینی وزیږیږی. مګر هغه انسانی پلار نه درلود. خدای د هغه پلار ؤ. خدای د هغه په باره کې د معجزی په شکل له پیغلی نه د پیدا کیدلو

پیشګویانی کړی وی. خدای راغی تر څو د انسانانو په منځ کې ژوند وکړی او لکه یو د هغوی څخه وی. لوقا د دې واقعیت طبیعت د څیړنی لاندې نیسی او بیا د هغه د پیدا ینښت په هکله داسی لیکی:

لوقا ۱: ۲۲- ۳۸ بیا په شپږمه میاشت خدای جبرائیل فرښته د ګلیل په ناصرت نومی ښار کې یوی پیغلی ته راواستوله چې کوژدن ئې د داؤد د خاندان یوسف نومی سړی سره شوی وه او د دې پیغلی نوم مریم ؤ. فرښتته دننه لاړه او هغی ته ئې وویل، "په تا سلام چې دربانديې ډیر فضل شوی دی، رب ستا مل دی!"

هغې چې څه وویل په هغې ډیره فکرمنده شوه او حیرانه وه چې د دې مبارکۍ څه مطلب دی. بیا فرښتی هغې ته وویل چې "مریمی! ویریږه مه! خدای په تا مهربانه شوی دی. ته به امیدواره شی او یو زوی به دې وشی او ته به د هغه نوم عیسی کیږدی. هغه به لوی وی او هغه به د الاعلی زوی وبللی شی. مالک خدای به هغۀ ته د نیکۀ داؤد تخت ورکړی. هغه به د تل د لپاره د یعقوب په خاندان بادشاهی کوی او بادشاهی به ئې هیڅکله نه ختمیږی!" مریمی وویل چې "دا څنګه کیدای شی؟ زه خو لاواده شوی هم نه یم."

فرښتی جواب ورکړو، "روح القدس به په تا نازل شی او د الاعلی قدرت به په تا سوری وکړی او په دې وجه به هغه

پاک پیدا کیدونکی ماشوم د خدای زوی بللی شی. بله دا
چې ستا خپلوانه الیشبع هم امیدواره ده او په زوړ عمر به
زوی راوړی او څوک چې په شنډه مشهوره وه، د هغې د
امیدوارۍ شپږمه میاشت ده. ځکه چې د خدای وعدې به
هیڅکله بې طاقته پاتی نۀ شی."
مریم وویل چې "زه د رب وینځه یم. تا چې څۀ ویلی دی،
داسی دې وشی." بیا فرښته د هغې نه لاړه.
متی یو د عیسی د شاګردانو نه د مریم یعنی د یوسف د
چنغلی حاملګی او د هغی نه وروسته واقعات داسی
تشریح کوی:
متی ۱: ۱۹- ۲۰ یوسف یو نیک سړی وو، نو هغۀ د هغې
د بدنامۍ نه د بچ کولو لپاره په پرده کې د کوژدن ماتولو
نیت وکړو. هغۀ دا نیت کړی وو چې په دې کې د خدای یوه
فرښته په خوب کې ورته راغله او ورته ئې وویل چې "ای د
داؤد زویه یوسفه! د مریم سره د واده کولو نه مه ویریږه
ځکه چې د هغې امیدواری د روح القدس په قدرت ده. د
هغې به زوی وشی او تۀ پری عیسی نوم کیږده، ولی چې
هغه به خپل امت د ګناهونو نه خلاصوی."
دا هر څه ځکه وشول چې خدای د نبی په معرفت څۀ ویلی ؤ
هغه پوره شی. ګورئ، یوه پیغله به امیدواره شی او زوی به
ئې وشی او د هغۀ نوم به عمانوئیل کیږدی چې معنیٰ ئې

ده، خدای زمونږ مل دی. هر کله چې یوسف د خوبه بیدار شو. نو د خدای د فرښتی حکم ئې ومنو او مریم ئې خپل کور ته د خپلی ښځې په طور راوسته. او تر هغې ئې لاس ور نه وړو تر څو چې ئې زوی پیدا شوی نه وو، او د هغه نوم ئې عیسی کیښودو. د دې خبری معنی چې عیسی یو انسان شو په دې خاطر نه ده چې خدای په یو انسان بدل شو. یا د خدایی د درجی څخه ولوید او انسان شو. د خدای زوی تر اوسه پوری خدای ؤ. د انسان د زوی په عنوان هغه نوی طبیعت اختیار کړ، انسانی طبیعت چې دغه طبیعت د خدای طبیعت سره په یوه شخص کې یو ځای شو. عیسی مسیح رښتینی انسان او رښتینی خدای دی. مونږ دغه امر ته تجسم یا د خدای تجسم په جسم کې وایو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۱- د عیسی په باره کې د انسان د زوی عنوان مونږ ته څه وائی؟

الف) هغه "د آدم زوی" دی، واقعی انسان او د بشر د نسل نماینده.

ب) هغه انسانی پلار درلود.
ج) آدم د هغه پلار ؤ.
۲- عیسی څنګه انسان شو؟
الف) له پیغلی مریمی څخه پیدا شو او پلار ئې خدای ؤ.
ب) هغه انسانی مور او پلار درلودل.
ج) هغه د خدای څخه لاس واخیست او انسان شو
د) هغه خپل انسانی طبیعت په خدای طبیعت زیات کړ.

## انسانی محدودیتونه

عیسی د دې لپاره چې واقعی انسان او زمونږ نماینده شی خپل ځان ئې په لاندینو واردو محدود کړ:
انسانی جسم او انسانی طبیعت
د انسانانو په منځ کې د ژوند شرایط.
روحانی منابع د هر چا لپاره.

## انسانی جسم او طبیعت

عیسی خپل نه فنا کیدل یو خوا ته کیښودل او په ضعف والی سره ئې انسانی جسم په ځان کړ، پدې ترتیب ئې

بیماري، رنځ، عذاب او مرګ ته غاړه کیښودله. هغه ډیر وخت وږی او ستړی ؤ. او د غم رنځ، او نا امیدی او د مات زړه ساره آشنا ؤ. هغه انسانی خوشحالی او ویره هم تجربه کړه.

## د انسانانو په منځ کې د ژوند شرایط

عیسی د خپل ځان په محدودولو سره په روحانی قدرت کې هغه محدودیتونه چې د لاس ته راوړنی وړ دي د خدای ټولی نمونی مونږ ته راوښودلی. هغه دعا وکړه او خدای د هغه دعا ته جواب ورکړ. د قدرت او قوت لپاره ئې په خدای توکل وکړ. د خدای کور ته لاړ او د هغه کلام ئې ولوست. هر کله چې شیطان غوښتل چې هغه ته فریب ورکړی او وسوسه ئې کړی، نو هغه د مقدس کتاب څخه آیاتونه ذکر کړل، او په هغه وخت کې ئې له هغو څخه کار واخیست. هغه ټولی معجزی د خدای د روح په وسیلی سره د ده په ذریعه سرته رسیږی. او د عیسی تعلیم هغه شیان دي چې خدای د ده په ویلو سره فرمایلی دي.

پولوس رسول په خپل خط کې فیلپیانو ته داسی تشریح کوی چې عیسی څنګه په خپله خوښه خپل ځان عاجز کړ تر څو زمونږ خلاصونکی شی. او خدای هغه ته په کوم قسم

سره جلال ورکړ او له همدې کبله به بیا جلال ورکړی. راځی چې د عیسی مسیح د انجیل څخه دا لاندې آیاتونه ولولو.
فیلپیان ۲: ۶- ۱۱ هغه اګر که د خدای په صورت وو د خدای سره برابریدل ئې په قبضه کې د ساتلو څیز ونۀ ګڼلو. بلکه خپل ځان ئې د هغه ټولو اختیارونو نه خالی کړو او د غلام شکل ئې اختیار کړو، او د انسان په شان شو. او په انسانی جسه کې ښکاره شو، خپل ځان ئې عاجز کړو او دومره تابعدار شو چې مرګ، بلکه د سولئ مرګ ئې وزغملو. په دغه وجه خو خدای هم هغه ډیر سر بلند کړو او هغۀ ته ئې هغه نوم وبخښلو کوم چې د ټولو نومونو نه اعلی دی، لپاره د دې چې د عیسی په نوم هر یو موجودات په سجده شی، خوا که په آسمانونو کې، یا په مځکه کې، یا هغه چې د مځکی د لاندې وی، او د خدای پلار د جلال لپاره هر یوه ژبه اقرار وکړی چې عیسی مسیح مالک دی.

| | |
|---|---|
| خدای | عیسی مالک دی |
| انسان | هره ژبه دې اقرار وکړی |
| بنده | ټول دې په ګونډو شی |
| مرګ | دټولو نه لوړ نوم |
| مرګ په صلیب | بیا ژوندی کیدل |

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

د عیسی د ژوند په جلال کې د هغه دریو انسانی محدودیتونو نوم واخلی، کوم چې هغه د مځکی په مخ درلود.

الف)

ب)

ج)

۴- هغه قانون چې د فلیپیانو ۲: ۶- ۱۰ په اساس جوړ شوی دی یاد ئې کړی او بیا ئې ولیکی.

عیسی کامل ژوندون درلود. په هغه کې هیڅ ګناه او کمزوری نه وه. د هغه دښمنانو هیڅ ونشو کولای چې د هغه په خلاف کوم ډول ګناه چې د ده نه شوی وی پیدا کړی. څه وخت چې هغه لوییده هغه هم د نورو هلکانو او ځوانانو په شان د وسوسو سره مخامخ شو، مګر هغه پاک، درست او بې ریا پاتې شو، هغه د خدای سره او د خپلو همجنسو سره پوره مینه درلوده.
عیسی د ګناه نه کرکه او نفرت درلود. او د هغې په ضد ئې خبری هم کولی، مګر خپله مینه او محبت ئې له ګناه ګارانو څخه هم نه سپموله. هغه د ګناه ګارانو د ملګری په نوم معرفی شوی ؤ. مګر هیڅ ګناه ئې ونه کړه. یوائځی دی ؤ چې ګناه ګاران به ئې تبدیلول، نه دا چې ګناه ګارانو دی تبدیل کړ.
د عیسی بې داغه او کامل ژوندون او د هغه د کارونو څخه یوه برخه د انسان د زوی په صفت شمارل کیدل. د انسان د نژاد او نماینده په مقام کې هغه د خدای د شریعت ټول شرعی حکمونه مراعات کړل. په همدې ډول ئې هغه ټول حقوق او امتیازات او برکتونو وعدی چې د هغه چا په حق شوی وی چې د خدای د شریعت ساتنه کوی، په خپل ځان

کې سرته ورسولی او حاصلی ئې کړی. یعنی ژوندون او ابدی خوشبختی د خدای په کور کې. هغه د دې لایق وو چې زمونږ کامل خلاصونکی اوسی (۱) تر څو زمونږ خطا ګانی لری کړی او زمونږ د ګناهونو لپاره مړ شی. (۲) عدالت حقیقت او هغه ټول وعده کړای شوی برکتونه چې د خدای د قانون مراعت کوونکو سره شوی دي، مونږ ته را په برخه کړی. شیطان کوشش وکړ چې عیسی په ګناه کې ککړ کړی او هغه د خپل منصب څخه لری کړی. مګر عیسی د شیطان ټولی وسوسی ناقصی کړی. او خپله دنده ئې چې زمونږ د خلاصون څخه مرام وه سرته ورسوله. د عیسی نیکئ نه صرف د بدی، شرارت نشتوالی وو، بلکه د خدای د مثبتی ارادی سرته رسول هم وو. هغه نه یوائی دا چې د بدو کارونو نه ځان وژغوره، بلکه دا چې خپل ځان ئې ښو کارونو ته هم وقف کړ. هغه جسم شوی محبت ؤ او خپل محبت ئې په عمل کې ښکاره کړ.

عیسی خپل عام خدمت په دیرش کلنی کې شروع کړ. هغه خلکو ته د خدای او د هغه د بادشاهئ په باره کې وعظ کاوو. او دا هم چې څنګه به دوی د هغه په بادشاهۍ کې برخه ولری. او هغه یو لوی نبی او معلم ؤ چې دنیا یې لا تر اوسه پوری ساری نلری. هغه په یو ځل مسح یا حکم ورکولو سره زرګونو مریضانو ته شفا ورکړه. ګناه ګاران ورته راغلل

او ده ورته معافی وکړه او د ګناهونو څخه ئې پاک کړل او هغوی ته ئې آرامی او سلامتی وروبخښله او هغوی ته ئې نوی او عجیب ژوند ورکړ چې پخپلی مینی او محبت ئې هغه تیار کړی ؤ.

اعمال ۱۰ : ۳۸ یعنی د عیسی ناصری په باب کې چې خدای هغه څنګه په روح القدس او په قدرت مسح کړو. هغه به هر ځای ګرزیدو او هغه ټولو سره ئې ښه کول او ځوک چې د ابلیس په قبضه کې وو هغه به ئې جوړول ځکه چې خدای د هغه سره وو. مګر د هغه وخت مذهبی مشرانو د عیسی سره کینه وکړه، او د دې خبری د منلو څخه ئې سر کشی وکړه چې عیسی مسیح دی. هغوی په هغه باندې د درغو تهمتونه ولګول او هغه ئې څنګه چې یشعیاه نبی پیشګوئی کړی وه مصلوب کړ. هغه ئې د یو ظالم په شان په صلیب باندې میخکوب کړ. عیسی د هغه دوو ګناه ګارانو د خلاصون لپاره راغی تر څو هغوی ته خلاصون ورکړی، مګر هغوی هم هغه پوری خندا کوله. د دې هر څه باوجود عیسی بیا هم د هغوی سره مینه لرله.

لوقا ۲۳ : ۳۴ عیسی وویل، "پلاره! دوی معاف کړه! ځکه چې هغوی نه پوهیږی چې څه کوی. "

د عیسی کامل ژوندون په قبر کې سرته ونه رسیده. خدای پلار په دریمه ورځ هغه پورته کړ، د څلویښت ورځو نه

وروسته د مځکی د مخ نه آسمان ته لاړو هغه ځای ته چې همدا اوس هلته زمونږ استازی دی.
یوه ورځ به بیرته له هغه ځای نه راوګرځی تر څو چې دنیا باندې په کامل عدالت او د تل په سولی سره حکمرانی وکړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

**۵**- عیسی د آزمایښت سره څنګه عمل وکړ؟
الف) د خلکو نه ئې ځان یو طرف ته کړ تر څو وسوسه یا ونه آزمایل شی.
ب) د امتحان او وسوسو په مقابل کې ئې مقاومت وکړ او ځان ئې د ښه کار په سرته رسولو مصروف کړ.
ج) وسوسو ته تسلیم شو.
**۶**- د عیسی نیکی څنګه وه؟ روښانه ئې کړئ.
**۷**- فکر وکړی: ستاسی په نظر د عیسی د کامل شخصیت ثابتولو لپاره اوچته طریقه کومه ده؟

## په جسم کې د خدای د ځرګندېدلو هدف

ولې خدای انسان شو؟ ولې انساني جسم ئې ځان ته غوره کړ او په الهی طبیعت باندې ئې انساني طبیعت زیات کړو؟ د خدای ځرګندیدل په جسم کې څه ضرورت درلود؟ کولای شو چې د دې پوښتنو جواب په څلورو کلمو کې خلاصه کړو:
(۱) مکاشفه. (۱) تیاری. (۳) په ځای مقرریدل (۴) واسطه.

## مکاشفه (پیشګوئی)

عیسی د یو انسان په توګه په دې خاطر ژوند وکړ تر څو پوری مونږ ته معلومه شی چې خدای په کوم صورت دی. مونږ کولای شو چې د خدای شخصیت په هغه کې وګورو. د عیسی په پیژندنی سره کولای شو چې د خدای په پیژندلو کې بریالی شو. په دې هکله به نور هم ولولئ.
د خدای زوی انسان شو تر څو مونږ ته وښیی چې څنګه کامل او بې ګناه انسان شو. مونږ د عیسی په کامل ژوند او کامل شخصیت کې د بشریت لپاره یوه نمونه ګورو. د خدای د نقشی وروستی طاقت چې زمونږ لپاره ئې لری،

هغه زمونږ لپاره نمونه دی. یعنی هغه معیار چې زمونږ خبری، فکرونه او عملونه د هغی په بنسټ وسنجول شی. هغه مونږ ته داسی ژوندون رانبکاره کوی چې مونږ کولای شو هغه وخت چې دی په مونږ کې ژوند کوی او مونږ د خدای زامن کوی را سره وی.

افسیان ۴: ۱۳ تر څو چې مونږ ټول په ایمان راوړلو کې یو شو او د خدای زوی په ښه شان وپیژنو. دغسی به مونږ په ایمان کې بالغان شو، یعنی د مسیح په شان به کامل شو.

د عیسی ژوندون د هغه کفایت هم د هغه ماموریت او کارونه څرګند کړل. د هغه بې ګناهۍ دا ښکاره کړه چې دی د دې حق لری چې زمونږ په ځای کښینی. د هغه حکمت او محبت دا ثابتوی چې هغه د دې لایق دی چې زمونږ بادشاه وی.

## ستاسو کار

## هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۸- د هغه څلور کلمو نومونه واخلی چې د خدای په جسم کې څرګندیدو هدف ښکاره کوی.

۹- عیسی په ژوند کې کوم شی څرګند او معلومداره وینو؟

الف) بې عیبه او کامل انسانیت

ب) الهی طبیعت

ج) د خپل کار او ماموریت لپاره د هغه کفایت او وړتیا

د) زمونږ لپاره د خدای نمونه

ه) پورته ټول ذکر شوی موضوع ګانی

و) صرف د الف جمله) او د ج جمله

۱۰- فکر وکړی: افسیان ۴: ۱۳ ټکی په ټکی

زمونږ لپاره د خدای نمونه دی د هغه ډیر یادول د ایمان لپاره څومره او څه اهمیت لری؟ زمونږ لپاره افسیان ۴: ۱۳ څه معنی او مفهوم لری؟ آیا د مسیح زیات پیژندل د دې باعث ګرځی چې نور هم د هغه په شان شو؟

# تیاریٔ

د عیسی ژوند د یو انسان په صفت د هغه د کار د سرته رسولو لپاره د ژوند یو اهم ضرورت ؤ. هغه تجربه چې ده په هغه وخت کې حاصله کړه د دې خبری باعث وګرځیده چې انسانی طبیعت درک کړی او همدې کار دیٔ دې ته تیار کړ چې زمونږ قاضی او نماینده اوسی.

عیسی باید انسان شی چې زمونږ کاهن وی. زمونږ په کمزوری کې شریک شوی دی. هغه زمونږ په ستونزو پوهیږی. هغه د رنځ او تکلیف په سبب دا زده کړل چې تابعداری په کوم قیمت انسان ته تمامیږی. هر کله چې هغه په مځکه ژوند کاوه د خپلو مریدانو لپاره ئې دعا وکړه؟ مګر اوس هم په آسمان کې زمونږ د ضرورتونو لپاره دعا کوی.

عبرانیان ۲: ۱۷- ۱۸ هم دغه وجه ده چې عیسی ته په هر لحاظ د خپلو وروڼو په شان جوړیدل په کار وو چې هغه د خدای په خدمت کولو کې داسی لوی کاهن شی چې زړهٔ سواندی او وفادار وی، او د خلقو د ګناهونو کفاره ورکړی. ځکه چې هغه په خپله و آزمایلی شو نو هغه د هغوی مدد کولی شی ځوک چې آزمایلی کیږی.

عبرانیان ۴: ۱۴- ۱۲ نو بیا چې مونږ داسی لوی مشر
کاهن لرو، یعنی عیسی د خدای زوی چې خدای حضور ته
لاړو، نو راځئ چې مونږ د خپل ایمان په اقرار ټینګ پاتی
شو. ځکه چې زمونږ داسی مشر کاهن نه دی چې زمونږ په
کمزورتیاو کې همدرد کیدی نه شی بلکه هغه په ټولو خبرو
کې زمونږ په شان وآزمایلی شو خو بیا هم بې ګناه پاتی شو.
نو راځئ چې مونږ د خدای د فضا د تخت په وړاندې په زړه
ورتیا یون کوو چې په مونږ رحم وشی او هغه فضل حاصل
کړو کوم چې د حاجت په وخت زمونږ مدد وکړی.
د عیسی تجربی د یو انسان په صفت هغه چمتو کړ چې په
انسان باندې حکومت وکړی. د انسان زوی به د آدم د نسل
په پوره او بې ګناه ډول سره د انسان نماینده وی. بې داغه او
کامل بادشاه چې زمونږ په احتیاجاتو خبر دی. مونږ په
صحیح طریقی سره پیژنی او په هم دې سبب سره ئې خپل
ځان زمونږ لپاره قربان کړ، نو د حکومت کولو حق زمونږ په
ژوند باندې لری. د هر هغه چا په ژوند کې چې دې منی
اوس هم پادشاه دی. یوه ورځ به په دنیا چې د هغی لپاره ئې
خپل ځان قربان کړی دی بادشاهی وکړی.
دانیال ۷: ۱۳- ۱۴ د شپی مې په رویا کې ولیدل چې د
انسان د زوی په شان د آسمان د وریځو سره راغی او قدیم
ایام ته راورسید او هغه ئې د هغه حضور ته راوړ بادشاهی

او جلال او ملکوت هغه ته ورکړ شو تر څو ټول قومونه امتونه او ژبې د هغه خدمت وکړي د هغه بادشاهی ابدی او بې زواله ده او د هغه بادشاهی به له منځه لاړه نشی.

## ستاسو کار
### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۱۱- له کوم شی نه عیسی پیژنی؟ آیا ستاسو په فکر د هغه ژوند د یو انسان په صفت هغه ښه چمتو کړی دی چې ستاسو کاهن او بادشاه اوسی؟ څنګه؟

### په ځای مقرریدل

عیسی وزیږیده او په همدې سبب ئې کولای شو چې مړ شی. د انسانانو ټول نسل خپل لاسونه په ګناه کې ککړ کړی ؤ، او ابدی مرګ ته محکوم شوی ؤ. زمونږ د هر یو خلاصون صرف خدای پوری مربوط ؤ چې هغه په خپله زمونږ د خلاصون عهده په غاړه واخلی. اما د خدای په صفت هغه نشو کولای چې مړ شی. نو د دې لپاره انسان شو چې زمونږ

په ځای مړ شی او مونږ د خپلو ګناهونو د سزا نه خلاص کړی.
عیسی زمونږ لپاره د مړ کیدلو نه هم ډیر کار وکړ، یعنی د صلیب د مرګ څخه هم لاډیر. هغه د مړو څخه راژوندی شو هر هغه څوک چې هغه قبلوی خپلی ابدی پادشاهی ته ئې رابلی. هغه مونږ د خپل ځان سره یو کړ تر څو وکولای شو چې د هغه په ټولو حقوقو او امتیازانو کې د خدای د زوی په صفت د هغه سره شریک او برخه ولرو.
عبرانیان ۲: ۹- ۱۱، ۱۳- ۱۵ البته عیسی ګورو کوم چې له فرښتو نه څه لږ کم کړی شو، چې د مرګ د تکلیف د زغملو په سبب د هر یو سړی لپاره مړ شی. ځکه چې ټول څیزونه د خدای لپاره دي او چې د خدای په وسیله ټول څیزونه دي نو هغه له هم دا مناسب وو چې هر کله چې ډیر زامن په جلال کې داخل کړی نو د هغوی د خلاصون بانی، یعنی عیسی، د تکلیفونو په وسیله کامل کړی. ځکه چې پاکوونکی او پاکیدونکی ټول د یو اصل نه دي، ځکه خو عیسی هغوی ته په ورور ویلو نه شرمیږی. او بیا دا چې: زه به په هغه باور ساتم. او بیا دا چې: ګوره! زه د هغه بچو سره چې خدای ما ته را کړل موجود یم. بیا لکه چې د هغه بچی انسانان دي، دغه شان عیسی هم انسان شو د دې لپاره چې د مرګ په وسیله هغه څوک چې په مرګ ئې قدرت حاصل

وو، یعنی ابلیس، تباه کړی،او څوک چې ټول عمر د مرګ د ویری په غلامۍ کې ګرفتار وو، هغوئ خلاص کړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۱۲- د هغه عبارت څخه چې په عبرانیانو ۲ باب کې د خدای تجسم په جسم کې او د هغه هدف تشریح کوی ولیکئ.

## منځګړتوب

عیسی انسان شو د دې لپاره چې خدای او انسان یو بل ته ورسوی. ګناه د خدای او د انسان تر منځ غیر ممکنه فاصله پیدا کړی وه، مګر د خدای محبت یوه لاره پیدا کړه تر څو دغه فاصله له منځه یوسی او خپل حضور ته ئې بیا راولی. عیسی د دې لپاره راغی چې هغه وعده کړی شوی خلاصونکی او یا نوی پخلا کوونکی د خدای او انسان تر منځ اوسی.

اول تیموتیوس ۲: ۵- ۶ ځکه چې یو خدای دی او د خدای او د انسان په مینځ کې منځګړی هم یو، یعنی مسیح عیسی چې انسان دی، چا چې خپل ځان د ټولو لپاره په فدیه کې ورکړلو چې په مناسبو وختونو د هغه شهادت وشي.

د نوی عهد په وخت کې خلاصوونکی به د محکمی له طرفه تعین کیده تر څو د قرضدارانو نماینده وی او چې د هغوی ټول قرضونه په خپله غاړه واخلی. خلاصونکی د دې خبری مسئول وو چې باید ټول قرضداران خپل قرض په پوره ډول سره ورکړی. که چیری یو قرضدار نشو کولای چې خپل قرض په پوره ډول سره ورکړی، نو په هغه وخت کې به خلاصوونکی د هغه د قرض د ادا کولو مسئولیت په خپله غاړه اخیست.

د مسیح لپاره یو ښایسته مثال! د خدای د قرضونو د ادا کولو لپاره هغه زمونږ خلاصوونکی دی. د هغه مرګ زمونږ په ټولو ګناهونو باندې پرده واچوله او د هغه د مرګ په وسیله مونږ د هغه ګناهونو او خطاګانو څخه چې د خدای په مقابل کې مو کړی وی او خدای څخه ئې جدا کړی وو، مونږ ته خلاصون راوباښه. د ده صلیب د دغی جدائی په منځ کې پل شو. هغه مونږ ته یو نوی طبیعت رابخښی صلیب هغه پخپله او مونږ د خدای زامن ګرځوی. د انسانی

طبیعت په اختیارولو عیسی خپل ځان مونږ ته راورساوه، مونږ هغه ښی دنیا ته بیائی. د خدای زوی د انسان په زوی بدل شو او په همدې دلیل سره مونږ وکولای شو چې د خدای زامن شو.
ګلتیان ۴: ۴- ۵ خو هر کله چې نیټه پوره شوه نو خدای خپل زوی راولیږلو چې د ښځی نه وزیږیدو او د شریعت د لاندې پیدا شو، د دې لپاره چې څوک چې د شریعت د لاندې وو، په بیعه واخلی او آزاد ئې کړی، چې مونږ د خدای زامن شو.
اول پطروس ۳: ۱۸ مسیح ستاسو د ګناهونو د خاطره یو ځل همیشه لپاره مړ شو، یعنی صادق د ګناه ګارانو لپاره، د دې لپاره چې مونږ خدای ته ورسوی. هغه په جسمانی طور مړ کړی شو خو په روحانی طور ژوندی کړی شو. په ټول نوی عهد کې د خدای د هغه هدف سره چې زمونږ په باره کې لری مخامخ کیږو او د کلام دا برخه مونږ سره مرسته کوی تر څو په دې وپوهیږو چې عیسی ولی انسان شو. عیسی دا خبره په لاندې ډول سره خلاصه کوی:

## حفظ ئې کړی

لوقا ۱۹: ۱۰ او ابن آدم دې له راغلی دی چې ورک شوی ولټوی او بچ ئې کړی.

لوقا ۱۹: ۱۰ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړی.

ستاسو کار

**هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی**

۱۳- د ښی خوا لغتونه اړو د هغوی صحیح معنا ګانی د کینې خوا د جملو سر وصل کړی.

| | |
|---|---|
| الف) – خدای انسان کیږی | ۱- خلاصونکی |
| ب) – زمونږ په ځای مړ شو | ۲- مکاشفه |
| ج) مونږ خپل ځانته بیایی | ۳- تجسم |
| د) – د انسان لپاره مثال ګرځی | ۴- تیارئ |
| ه) – مشکلات او مسائل لری | ۵- په ځای |

مقرریدل

۱۴- د منځګړتوب ستاینی لپاره نقشه جوړه کړئ.

**۱۵**- فکر وکړی: آیا د "ابن آدم" صفت تاسو ته د مخکې نه معنی لری؟ آیا دا امر د دې سبب شوی دی چې تاسو د مسیحی کار د ارزښت په لټون کې شی؟ آیا هغه تاسو د خدای حضور ته راوستی یئ؟ د هغه د مجسم کیدو لپاره د خدای شکر ادا کړی. خپل ضرورتونه هغه ته ووایی. هغه د خدای په حضور کې ستاسو نماینده دی.

خپل جوابونه مقایسه کړی.

## د څلورم لوست جوابونه

دا درس ۲۳ صحیح جوابونه لری. د ۲۱ نه تر ۲۳ پوری صحیح جوابونه عالی، او د ۱۹ نه تر ۲۰ پوری ښه، او ۱۷ نه تر ۱۸ پوری درمیانه او که چیری ستاسو صحیح جوابونه د ۱۷ څخه کم وی، نو دا درس بیامطالعه کړئ.

۱- الف) هغه د ابن آدم زوی حقیقی انسان او د انسان د نسل نماینده.

۲- الف) د پیغلی مریم نه وزیږید او خدای د هغه پلار ؤ.

د) انسانی طبیعت ته ئې په الهی طبیعت ترجیح ورکړه.

۳- الف) انسانی جسم او طبیعت

ب) د انسانانو په منځ کې د ژوند شرایط

ج) د هر چا لپاره روحانی منابع

۴- د لوست طرحی یا قانون ته مراجعه وکړی.

۵- ب) د آزمایښتونو مقابله ئې وکړه او په ښو کارونو مشغول شو.

۶- هغه د بدو کارونو څخه پرهیز وکړ او هغه څه چې صحیح وو سرته ئې ورسول

۸- مکاشفه، تیارئ، په ځای مقرریدل، منځګړتوب.

۹- ټولی پورتنی موضوع ګانی

۱۱- ستاسو خپل جواب

۱۳- الف) ۳- ب) ۵- ج) ۱- د) ۲- ه) ۴

۱۴- د ۱۰۹ او ۱۱۰ مخ طرحی یا قانون ته مراجعه وکړی.

صحیح جوابونه .............. نمری ............

# ۵

# عیسی، کلمه

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړۍ

### په عیسی کې د خدای اظهار

د خدای شخصیت
د خدای احساسات او فکرونه او د هغه د پلانونو نقشې
د خدای قدرت او اراده

### د خدای نومونه چې په مسیح کې تشریح کیږی

زه یم
یهوه (ابدی شخص)

# په مسیح کې د خدای اظهار

مونږ د خپلو فکرونو او خیالونو د اظهار لپاره د هغه کلمو څخه استفاده کوو چې تر څو نور خلک زمونږ د احساساتو، ارزوګانو او غوښتو څخه خبر شی. خلک مونږ د هغه خبرو په وسیله پیژنی کوم چې مونږ یې کوو او هغوی هغه خبری درک کوی. هغه څه چې وایو زمونږ شخصیت بیانوی.
عیسی ته کلمه وویل شو. خدای مونږ ته خپل ځان د عیسی په وسیله ښکاره کړ. عیسی نه یوائې دا چې د خدای پیغام ئې مونږ ته په خپل تعلیم کې راکړ، بلکه هغه په خپله مونږ ته د خدای پیغام وو.

## د خدای شخصیت

خدای روح دی. مونږ نه شو کولای چې په خپل طبیعی شعور سره هغه ووینو، وایی ورو او یا ئې احساس کړو. نو بیا څنګه کولای شو چې هغه وپیژنو؟ نو یو کمزوری او ګناه ګار انسان څنګه کولای شی چې قادر، کامل، مقدس او نامعلوم وپیژنی؟ خدای څنګه کولای شی چې مونږ ته خپل ځان وښایی؟ د دې ټولو سوالونو جواب عیسی دی. عیسی د خپل انسانی شخصیت په وسیله مونږ ته ځان ښکاره کړ.

خدای ځنګه دی؟ مونږ کولای شو چې عیسی د خدای زوی ته نظر وکړو او په هغه کې خپل جوابونه پیدا کړو.
یوحنا ۱۴: ۹ "....هر چا چې زه لیدلی یم پلار ئې هم لیدلی دی."
یوحنا ۱: ۱۸ خدای چیری هیچا نه دی لیدلی بې له خدای د یو زوی نه، هغه څوک چې د پلار په غیږ کې دی او هم هغه ښکاره کړی دی.
کولوسیان ۱: ۵ مسیح د نالیدلی خدای په عکس او د ټول مخلوق نه اوچت دی.
خدای په مختلفو طریقو د خلکو سره خبری کړی دي. مګر د ټولو څخه د هغه د شخصیت واضح کشف د هغه په زوی کې لیدل کیږی، یعنی د خدای په ژوندۍ کلمه کې. خدای نن هم مونږ سره خبری کوی هر کله چې مونږ د عیسی په باره کې زده کوو د عیسی ژوند، کار، تعلیم او انسانی تجربی په اصطلاح په هغه ژبی سره دي چې کولای شو چې پرې وپوهیږو، دا ټولی د خدای په هکله خبری دي.
عبرانیان ۱: ۱، ۳ په تیره زمانه کې خدای زمونږ د پلارانو نیکونو سره ډیر ځله په مختلفو طریقو سره د نبیانو په معرفت خبری وکړلی.... چې هغه د خدای د جلال مظهر او د هغه د ذات عکس دی او ټول څیزونه د خپل قدرت په کلام

سمبالوی هغهٔ ګناهونه پاک کړل او په آسمان کې د قادر مطلق خدای په ښی لاس کښيناستو.

یوحنا ۱: ۱، ۱۴ په ازل کې کلام وو او کلام د خدای څخه وو او کلام خدای وو..... نو کلام جسه شو او هغه زمونږ سره اوسیدو او مونږ د هغه لوئی ولیده، داسی لوئی لکه چې د پلار د یو زوی چې په فضل او حقیقت معمور وی. عیسی نه یوائی دا چې د خدای څخه ئې خبری وکړی، مګر دا چې د هغه شخصیت ئې هم ښکاره کړ. هغه د خدای مقدستوب، نیکی، حکمت، عدالت، رحمت، قدرت او محبت بیان کړ. انسانانو د هغه کیفیتونه او خصوصیتونه په هغه کې ولیدل. هغه د اخلاقو هغه لوړه سویه اعلان کړه او وئې ښودله چې تر اوسه پوری په دنیا کې نه ده لیدل شوی. او د هغی په مطابق ئې ژوند وکړ. د هغه د تعلیم حکمت تر اوسه پوری دنیا په تعجب کې اچولی ده. هغه په عمل کې د خدای هغه محبت وو چې د مخلوق د حاجتونو د پوره کولو لپاره ئې ملا وتړله او د نورو خلکو لپاره ئې خپل ځان قربان کړ.

عیسی د صلیب په مخ باندې خپل ځان زمونږ د ګناهونو لپاره ورکړ، نو په ښکاره ډول سره د خدای محبت او عدالت په کې وینو. د خدای عدالت د ګناه د سزا لپاره د مرګ غوښتونکی وو. او هغه محبت چې خدای د ګناه

ګارانو سره درلود د دې باعث وګرځید چې په خپله ئې دغه د مرګ سزا په خپل ځان واخیستله او خپل ځان ئې قربان کړ. دا د هغه محبت ؤ چې عیسی ئې په دې باندې قادر کړ چې د خلکو لپاره د بخښنی دعا وکړی چا چې په صلیب کړ. څه یو عجیب محبت! څه یو عجیب خدای لرو!

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۱- په یوحنا ۱: ۱، ۱۴ کې مسیح ته کوم عنوان ورکړ شوی دی؟
الف) د خدای وری.
ب) ژوندی کلام.
ج) کلام.
۲- عبرانیانو ۱: ۱- ۳ په مطابق خدای په دې آخرو وختونو کې مونږ سره څنګه خبری کړی دي؟
الف) د زوی په وسیله.
ب) د پیغمبرانو په وسیله.
ج) د طبیعت په وسیله.

۳- عیسی د اخلاقو کوم معیار اعلان کړ او د هغې په مطابق ئې ژوند وکړ؟
الف) د هغه زمانی معمولی معیار.
ب) د ټولو نه اوچت معیار چې تر اوسه پوری لیدل شوی نه دی.
ج) د موضعی دینونو نوی اخلاق.
۴- د عدالت بیان، د خدای محبت او رحمت په واضح او ښکاره ډول سره چیرته کیدل کیږی؟
الف) د مالک په دعا کې.
ب) د غره د سر په وعظ کې.
ج) په صلیب باندې.

## د خدای احساسات، او د هغه نقشی او فکرونه

عیسی په خپل شخصیت او تعلیم کې د خدای احساسات، او د هغه نقشی او فکرونه بیان کړل.
عیسی یو لوی معلم ؤ او وئې ویل:
یوحنا ۸: ۲۸ .... زه چې یم هغه یم. زه په خپل اختیار هیڅ نه کوم خو هر څه چې زه وایم، د دې تعلیم ماته زما پلار راکړی دی.

یوحنا ۱۵: ۱۵ .... ما تاسو ته هر هغه څه ښکاره کړي دي
کوم چې ما د پلار نه آوریدلي دي. نو مونږ کولای شو، د
عیسی د تعلیم په مطابق چې په انجیل کې راغلی د خدای
د حقیقي مکاشفې په عنوان په هغه باندې تکیه وکړو. مونږ
د رحیم او مهربان خدای سره مخامخ کیږو چې په آسمان
کې دی، او په نرمۍ سره د خپل اولاد څخه دفاع کوي.
د ریاکارۍ او ګناه څخه نفرت لري. مګر د ګناه ګارانو سره
هم محبت کوي. هغه مونږ ته وایي چې څنګه خلاصون
حاصل کړو او د ښه او نیکمرغه ژوند قانون راته بیانوي. د
خپلو ګمراه او بې لارې بچو په انتظار دی چې د خپلو
ګناهونو نه مخ واړوي او بیا خپل کور او هغه ته راوګرځي.
او هغه دا وخت ورکوي تر څو هغه اعلی او عجیب ژوند چې
د ایمان په وسیلې سره لاس ته راځي او په خپله ابدي
بادشاهۍ کې ئې د هغه بیان کړی دی، حاصل کړو دغه ټول
حقیقتونه د خدای په لیکل شوي کلام کې لرو.
عیسی ژوندی کلام، د خدای احساسات ښکاره کړل. په
هغه کې خدای د دوستانو د غم او غصې او د بشر د
عذاب، رنځ او د هغه ښار بې ایمانۍ چې هغه ئې رد کړ او
خپل خطرناک هلاکت ته ئې اجازه ورکوله، وژړل. د خدای
قهر د ریاکارۍ په اظهار او د مذهب په تجارتي کولو سره
زیات شو. خدای ډیر خفه شو کله ئې چې ولیدل ټول خلک

لکه د بې شپونه پسونو په شان په ګناه کې ورک شوی دي، نو خدای په دې باندې راضی شو چې ټول خلک نیکمرغه ژوند ولری او د ګناه د مرض او د ویری او خطا څخه آزاد ژوند وکړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

**۵**- د عیسی عکس العمل د (غم، قهر، خوشحالی، زړه ماتیدو، او خفګان) او د لاندې کارونو په هکله څه وو؟

الف) مذهب ته تجارتی شکل ورکول.

ب) اظهار او ریاکاری.

ج) بې ایمانی او د هغی ردول.

د) د بشر رنځ او عذاب.

ه) د دوستانو غم او غصه.

**۶**- فکر وکړئ: هر کله چې خدای ستاسو ژوند ته متوجه کیږی څه احساسوی؟

## د خدای قدرت او اراده

عیسی مونږ ته وښودل چې خدای څه غواړی او د هغه قدرت د کوم هدف د سرته رسولو مقصد لری. د عیسی سره په ایمان لرلو ژوند تیرول او د هغه سره شراکت درلودل، هغه رنګ ژوند مونږ ته را په ګوته کوی چې خدای ئې زمونږ څخه غواړی. د عیسی ټولی معجزی او د خلکو سره د هغه مرستی کول او د هغوی اړتیاوی پوره کول د هغه د قدرت ښکارندوی دي. عیسی د دې لپاره راغی چې د خپل پلار اراده او غوښتنی سرته ورسوی او د خپل پلار په شان کارونه ئې وکړل. دا کارونه ثابتوی چې خدای غوړی مونږ ته شفا راکړی. مونږ وبخښی او زمونږ ورځنی ضرورتونه پوره کړی.

یوحنا **۵**: **۳۶** .... هغه کارونه چې زما پلار ما ته حواله کړی وو چې زه ئې وکړم او سر ته یې ورسوم، دا کارونه زما ګواهی ورکوی چې پلار زه را استولی یم.

## حفظ ئې کړی

اول کورنتیان ۱ : **۲۴** .... مسیح د خدای قدرت او د خدای حکمت دی.

اول کورنتیان ۱: ۲۴ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۷- د عیسی سره په ایمان لرلو ژوند او د پلار سره د هغه یوالی
الف) د خدای نمونه زمونږ د ژوند لپاره ښکاره کوی.
ب) د خدای د قدرت ښکارندوی دی د هغه چا لپاره چې خپل ژوند هغه ته سپاری.
ج) زمونږ په ژوند کې د الهی معیار په مطابق د شکست بیانونکی دی.
د) د خدای په قدرت سره زمونږ اړتیاوی څرګندوی کوم چې په مونږ کې عمل کوی، ترڅو چې د هغه د ارادی او خواست په مطابق ژوند وکړو.
ه) پورته ټولی لیکل شوی موضوع ګانی.
۸- عیسی مونږ ته دا ښکاره کوی چې غواړی او کولای شی چې:
الف) مریضانو ته

ب) ګناه ګارانو ته

ج) ژوندونو ته

د) زمونږ ټولو اړتیاوی

فکر وکړئ: خدای کوم کار غواړی چې ستاسو لپاره ئې وکړی؟ هغه کارونه چې خدای ستاسو لپاره کړی دي او پورته ورته اشاره هم شویده تکرار کړی. د پورته هری هغی جملی تر څنګه نښه وکړی چې تاسو ئې غواړی چې خدای ئې ستاسو لپاره وکړی.

## د خدای هغه نومونه چې په مسیح کې تشریح کیږی

په مقدس کتاب کې د مالک لپاره ډیر نومونه موجود دي. عیسی کلمه، مونږ سره مرسته کوی چې هغه وپیژنو، ځکه چې هغه د خدای حقیقی بیان دی.

## زه یم

هر کله چې خدای موسی وغوښت چې د هغه د قوم رهبری وکړی، نو موسی د هغه د نوم پوښتنه وکړه.

خدای ورته جواب ورکړ: "زه هغه یم چې یم." هغه موسی ته وویل چې قوم ته ووایه "زه یم" زه تاسو ته رالیږلی یم. دا نوم مونږ ته راښیي چې خدای ابدی، تل حاضر او بی تغیره دی. په هغه کې هیڅ ډول فریب نشته. هغه چې څه دی، دی. او هغه چې د څه شی اراده کوی عمل پرې هم کوی. مونږ کولای شو چې په هغه باندې متکی اوسو.

مگر د دې خبری معنی چې خدای دی یعنی څه؟ هغه به کوم کار وکړی؟ عیسی دې سوالونو ته په خپل وعظ کې چې د یوحنا په انجیل کې لیکل شوی جواب ورکړ. اته واری هغه د خدای نوم "زه یم" خپل ځان ته اشاره کړی ده اول هغه د زمانی د استعمال څخه استفاده وکړه، او غواړی چې خپل ابدی طبیعت او شخصیت تشریح کړی. او هغه وایی چې د ابراهیم د پیدایښت څخه مخکې زه وم. او په نورو ځایونو کې عیسی دا نوم د خدای د شخصیت او د خپل شخصیت په تشریح کولو کې استعمالوی، تر څو دا په گوته کړی، هغه کسان چې دۀ ته راځی کوم کار باید سرته و رسوی. "زه یم" به زمونږ تر ټولو څخه لویی اړتیاوی پوره کړی.

۱- "زه د ژوند ډوډی یم." یوحنا ۲: **۳۵**

۲- "زه د دنیا نور یم" یوحنا ۸: **۱۲**

**۳**- "د ابراهیم د پیدایښت څخه مخکې زه وم او یم " یوحنا۸: **۵۸**

۴- "زه دروازه یم." یوحنا ۱۰ : ۹
۵- "زه ښه شپون یم." یوحنا ۱۰ : ۱۱
۶- "قیامت او ژوندون زه یم." یوحنا ۱۱ : ۲۵
۷- "زه لار یم، زه حق یم او زه ژوندون یم." یوحنا ۱۴ : ۶
۸- "زه د انګور حقیقی بوټی یم." یوحنا ۱۵ : ۱

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۱۰- ولی د "زه یم" په هکله آیاتونه مهم دي؟
الف) ځکه چې د خدای نوم تشریح کوی.
ب) ځکه چې د دې مطلب بیانونکی دي چې عیسی زمونږ لپاره څه دی.
ج).ځکه چې د خدای طبیعت مونږ ته ښکاره کوی.
د) پورته ټولی لیکل شوی جملی.
۱۱- فکر وکړئ: د عیسی ټول "زه یم" مطالعه کړئ. آیا ټول هغه څه چې د "زه یم" په باره کې وایی تاسو ئې قبلوی؟ د دې "زه یم" په مطابق خدای ستاسو کوم اړتیاوی لری کړی دي؟ د خدای د شتوالی لپاره شکر وکړئ.

## یهوه (ابدی شخص)

یهوه یعنی "ابدی شخص" یا" په خپله پیدا" دغه کلمه د نورو کلمو سره ترکیب کیږی تر څو مرکب نومونه جوړ کړی. دا ټول د خدای په شخصی مکاشفی باندې متکی دي، او وایی چې هغه څوک دی او د خلکو لپاره څه کار کوی. عیسی کلمه چې مونږ ته خدای ښکاره کوی، د خدای د دغو نومونو حقیقت ئې څرګند کړی دی.

۱- "یهوه – یری" خدای به په خپله تیاریځ وکړی. پیدایښت ۲۲ : ۸ ابراهیم وویل ای زما زویه خدای به پخپله د سوزولو قربانی لپاره د وری بندوبست وکړی.

اول پطروس ۱ : ۱۹، ۲۰ بلکه د یو روغ رمتې او بې داغه ګډوری، یعنی د مسیح د قیمتی وینی په وسیله خدای هغه خو د دنیا د جوړیدو نه اول غوره کړی وو خو ظهور ئې په آخری زمانه کې ستاسو لپاره وشو.

عیسی هغه وری دی چې خدای رالیږلی دی، ترڅو زمونږ ګناهونه په خپل ځان واخلی او زمونږ په ځای مړ شی.

۲- "یهوه – روفکه" مالک خدای شفا ورکونکی دی.

خروج ۱۵ : ۱۲ .... زه یهوه ستا شفا ورکونکی یم.

متی ۸: ۱۲ .... عیسی له ډیرو خلقو داسې کسان راوستل چې پیریانو نیولی وو او هغهٔ د هغوی نه په یو حکم پیریان وشړل او ټول رنځوران ئې جوړ کړل.
عیسی لوی طبیب، جسم، فکر، مات زړهٔ او روح ته شفا ورکوی.
۳- "یهوه – شالوم" زمونږ د سلامتیۍ او سولې خدای.
قاضیان ۲: ۲۴..... جدنون په هغه ځای کې د مالک د پاره قربانګاه تیاره کړه او هغې باندې ئې "یهوه – شالوم" نوم کیښود.
متی ۱۴: ۲۲، ۲۷.... "دا خو پیرے دے!" عیسی سمدستی ورته وویل "مه ویریږئ! دا زه یم چې ویره ونه کړئ."
عیسی مونږ ته باطنی سوله او سلامتی رابخښی. هغه سوله چې د شرایطو تابع نه ده، سوله د خدای سره، سوله زمونږ د خپل ځان سره، سوله د نورو خلکو سره.
۴- "یهوه – رحی" خدای زما شپون دی.
زبور ۲۳: ۱ خدای زما شپون دی د هیڅ شی محتاج به نشم.
یوحنا ۱۰: ۷، ۱۱ نو عیسی هغوئ ته بیا وویل:
" .... زه ښه شپونکی یم او ښه شپونکی د ګډو لپاره خپل سر ورکوی." عیسی، ښه شپون خپل ځان قربان کړ تر څو

مونږ ته خلاصون راکړی او تر اوسه پوری ژوندی دی او د ټولو هغه کسانو څخه دفاع کوی څوک چې د هغه څخه پیروی کوی.

**۵- "یهوه – صدقینو" مالک خدای زمونږ عدالت دی.**

**ارمیا ۳۳: ۶** .... هغه نوم چې هغه پرې بلل کیږی دا دی "صدقینو" (یهوه زمونږه عدالت).

**۲ کورنتیان ۵: ۲۱** هغه چا چې گناه نه پیژنده خو خدای هم هغه زمونږ لپاره گناه گار وګڼلو چې مونږ په هغه کې د خدای صداقت شو. د دې لپاره چې پاک زړۀ او پاک ژوند ولرو صرف یوه لاره وجود لری. په صحیح طریقی سره ژوند او د خدای سره صحیح رابطه لرل یواځی د مسیح سره په یوالی کولای شو چې حاصله کړو. هغه زمونږ عدالت دی.

**۶- "یهوه – شمه" مالک خدای حاظر دی.**

**حزقیال ۴۸: ۳۵** او د ښار نوم ئې هغی ورځی نه یهوه شمه کیښنود (مالک هلته دی).

**متی ۱: ۲۳** ګورئ یوه پیغله به امیدواوره شی او زوی به ئې وشی او د هغه نوم به عمانوایل کیږدی چې معنی ئې ده، خدای زمونږ مل دی.

عیسی وعده کړی چې همیشه به مونږ سره وی. هغه تل زمونږ سره نژدی دی. د دې لپاره چې مونږ سره مرسته وکړی.

۷- "یهوه – نسی" مالک خدای زمونږ بیرغ او نشان دی.
خروج ۱۷: **۱۵** موسی یوه قربانګاه جوړه کړه او په هغې ئې یهوه نسی نوم کیښود.
یوحنا ۱۲: **۳۳** .... په دنیا کې به په تاسو سختی وی خو زړه ور شئ ځکه چې زه په دنیا غالب راغلی یم. د دې خبری دا معنی ده چې عیسی زمونږ رهبر دی. زمونږ کامیابی او قوت دی. د هغه په وسیله کولای شو چې په خپل ورځنی ژوند کې قوی او کامیاب اوسو.
ستاسو لپاره دا نومونه څه معنی او مفهوم لری؟ په دې معنی دی چې که تاسو عیسی د خپل خلاصونکی په حیث قبول کړی، نو هغه به هر څه ستاسو لپاره تیار کړی. مالک خدای به تاسو ته شفا درکړی. خدای به ستاسو سوله او سلامتی وی. خدای ستاسو عدالت کیږی. او ستاسو کامیابی به هغه څوک وی چې تل تاسو سره دی. عیسی به ستاسو لپاره دا ټول پورته ذکر شوی شیان وی، که چیری تاسو خپل ژوند هغه ته وقف کړی او د خپلو ګناهونو اقرار وکړئ او هغه خپل ژوندون ته راوبلی.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۱۲- د دې نومونو معنی ولیکئ:

الف) "یهوه – یری"

ب) "یهوه – روفکه"

ج). "یهوه – شالوم"

د) "یهوه – رحی"

ه) "یهوه – صدقینو"

و) "یهوه – شمه"

ی) "یهوه – نسی"

۱۳- فکر وکړئ: د دې عنوانو څخه هر یو په خپلی شخصی تجربی سره مطالعه کړی. آیا مسیح تاسو ته خدای د شفا ورکونکی یا تیارونکی په حیث ښکاره کړی دی؟ د دې څخه مو چې هر یو په خپله تجربه کړی وی مشخص ئې کړی. او د هغه عنوان تر خوا یوه نخښه وکړی کوم چې اوس غواړی، تجربه ئې کړی. او هم د دې په باره کې دعا وکړی او د هغه شکر وکړی چې خدای د مسیح په وسیله تاسو ته ظاهر کړی دی.

# خپل جوابونه مقایسه کړی

## د پنځم درس جوابونه

دا درس ۲۳ صحیح جوابونه لری. د ۲۱ څخه تر ۲۳ پوری صحیح جوابونه په اعلی جوابونو کښ شمیرل کیږی، د ۱۹ څخه تر ۲۰ پوری ښه، او ۱۷ څخه تر ۱۸ پوری درمیانه او که چیری ستاسو صحیح جوابونه له دې څخه کم وی، نو دا درس بیا مطالعه کړئ.

۱-ج). کلام.

۲- الف) د پلار په وسیله.

۳- ب) اوچت معیار چې لاتر اوسه پوری نه دی لیدل شوی.

۴- الف) د مالک په دعا کښ.

۵- ټول صحیح دي.

۷- ه) ټول پورته لیکل شوی شیان.

۸- الف) مریضانو ته شفا ورکوی.

ب) ګناه ګاران پاکوی.

ج). ژوندون کاملوی.

ه) زمونږ ټول احتیاجات مونږ ته راکوی.

۱۰- ب) ځکه د دې مطلب څرګندونکی دی چې عیسی زمونږ لپاره څوک دی.
۱۲- الف) "یهوه – یری" مالک خدای به ئې په خپله تیار کړی.
ب) "یهوه – روفکه" مالک خدای شفا ورکونکی دی.
ج). "یهوه – شالوم" مالک خدای زمونږ سوله سلامتی ده.
د) "یهوه – رحی" مالک خدای زمونږ شپون دی.
ه) "یهوه – صدقینو" مالک خدای زمونږ عدالت دی.
و) "یهوه – شمه" مالک خدای حاضر دی.
ی) "یهوه – نسی"مالک خدای زمونږ بیرغ او نښان دی.
صحیح جوابونه . . . . . . . . . . . . نمری . . . . . . . . . . .

# ۶

# عیسی، د دنیا نور

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

د دنیا لپاره نور

د دنیا تیاره
د خدای نور

د نور طبیعت

نور تیاره لری کوی
نور ښکارندوی دی
نور طاقت دی
نور بې غرضه دی

د نور په مقابل کې عکس العمل ښکاره کول

ردول

## قبلول

# د دنیا تیاره

آیا تر اوسه پوری په تیاره کې تللی یی، او د نور آرزو مو کړی ده چې تاسو ته د لیدلو توان درکړی؟ تاسو نه پوهیږی چې ستاسو په خوا او شا او په لارو کې د کومو خطرو امکان شته. تر دې چې نشی کولای، په کومه لار چې ځی د هغی په باره کې مطمین اوسی. په تیاره کې د ورکیدو امکان ډیر زیات وی.
شاید چې تاسو په خپل ژوند کې داسی شپه هم د ځنی ځرګندو او یا ناځرګندو خطرو له کبله په ویره تیره کړی وی.
د بلی ورځی د روښانه لمر په سبب ټول شیان نسبت تیری شوی شپی ته بلکل بل رنګ ښکاری.تاسو کولای شی، په ډیری آسانی سره وپوهیږی چې په مقدس کتاب کې تیاری ته د بدی، غلطی، بې باوری، تکلیفونو او مرګ عنوان ورکړ شویدی. نور د ژوند ننبه ده، د خوشحالی ننبه، د حقیقت او د ټولو هغه کارونو چې نیک دي. تیاره یعنی د نور نشتوالی. دنیا په روحانی تیاره کې ګرفتاره شوی ده.
هغه ظلمت او تیارۀ چې بابا آدم او بې بې حوا ئې په خپلو

کې سره جلا کړل. دا ولې؟ او خدای چې د نور سرچینه دی.
بې د هغه نه په تیاره کې سر ګردانه کیږو، ورکیږو، او په
داسې توګه چې نه پوهیږو چې چیرته روان یو. مقدس کتاب
دا امر داسې بیانوی:
یشعیاه ۵۹: ۲، ۹- ۱۰ مګر ستاسو ګناه د دې خبری سبب
شوی ده چې هغه ستاسو سره تعلق ختم کړی او ستاسو دعا
ګانو ته جواب ور نه کړی ... نو خلکو وویل: چې اوس پوه
شو چې خدای ولې مونږ ته د دښمنانو د لاس څخه خلاصون
نه راکوی، ځکه کله چې مونږ د رڼا په طمع وو نو تیارۀ
راباندې راغله. لکه د ړوند په شان په لاره روان یو او په رڼا
ورځ کې یو ځای نه وینو او په مځکه راغورزیږو، ته به وایې
چې ګنی د مړو په دنیا کې ژوند کوو.
افسیان ۴: ۱۷- ۱۸ ځکه زه دا وایم او په مالک کې درته
دا تاکید کوم لکه چې غیر قومونه د خپلو فضولو خیالاتو
په موافق روان دي، تاسو آینده لپاره داسې مه چلیږئ ...
ځکه چې د هغوی په عقل پردې پرتې دي، او د هغه ناپوهۍ
په سبب چې دوئ ئې لری او د خپلو زړونو د سختۍ له کبله
د خدای د ژوندون نه بهر دي.
اول یوحنا ۲: ۱۱ خو هر څوک چې د خپل ورور نه نفرت
کوی، هغه په تیارۀ کې ګرزی بلکه په تیارو کې ژوند

تیروی او هغه نه پوهیږی چې چرته روان دی ځکه چې تیارو د هغۀ سترګی ړندی کړی دي.

## ستاسو کار

### هغه څه باید تاسو یی سرته ورسوئ

۱ - تیاره څه شی ده؟

الف) په خپل ځان کې قدرت.

ب) د نور نشتوالی.

ج).د لیدلو ناتوانی.

۲ - کوم شی دنیا په روحانی تیاره ګرفتاره کړی ده؟

الف) نفرت.

ب) د روحانی نور نشتوالی.

ج).هغه ګناه چې انسان ئې د خدای څخه جدا کړی دی.

۳ - لاندې لغتونه په خپلو مناسبو ځایونو کې ولیکی:

ژوند ، مرګ، خوشحالی، بدی، نیکی، محبت، نفرت، دروغ، حقیقت.

| نور | تیاره |
| --- | --- |
| ......... ......... | ......... ......... |
| ......... ......... | ......... ......... |

......... .........            ......... .........

......... .........            ......... .........

# د خدای نور

خدای نور دی، او د ټولو نورونو سرچينه دی. خلکو چې تر څو پورې د يو خاص نور څخه مکاشفه حاصله کړې نه وی په تيارهٔ کې ژوند کوی. هم دا دليل دی چې عيسی د جهان نور دی. هغه د دې لپاره راغی چې د خدای نور مونږ ته راپه برخه کړی. او د هغه محبت او اراده مونږ ته ښکاره کړی.

اول يوحنا ۱ : **۵** ... خدای نور دی او په هغه کې هيڅ تيارهٔ نشته.

يوحنا ۱ : **۴** په هغهٔ کې ژوندون وو او هم دغه ژوندون د بنی آدمو نور وو.

راځی د عيسی د هغه خبرو په باره کې چې د خپل ځان په هکله ئې کړی دي لږ فکر وکړو:

# حفظ ئې کړی

یوحنا ۸: ۱۲ زه د دنیا نور یم. څوک چې ما پسی راځی هغه
به په تیارۀ کې نه ګرځی بلکه په هغه نور کې چې ژوندون
روښانه کوی.

## یوحنا ۸: ۱۲ پنځه ځله ولولی او حفظ ئې کړی.

یوحنا ۹: ۵ تر څو چې زۀ په دې دنیا کې یم، زه د دې دنیا
رڼا یم.
څه وخت چې به عیسی خپل ځان د دنیا نور ګڼلو، نو خلک
به حیرانیدل خو یشعیاه نبی مخکې هم پیشګوئې کړی وه
چې مسیح به د خدای د نور په نوم راځی. متی د مقدس
کتاب د پیشګویو ذکر کوی او وایی چې دغو پیشګویانو
په عیسی کې د عمل جامه واغوستله.
متی ۴: ۱۶ هغه خلق چې په تیارۀ کې ناست وو، او څوک
چې د مرګ په مځکه او په سوری کې ناست وو، پرې رڼا
راوختله.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

**۴**- د دې په باره کې چې خدای نور دی مقدس کتاب څه وایی؟ او هغه حفظ کړئ.

**۵**- چا ویل چې "زهٔ د دنیا نور یم"؟

**۶**- په یوحنا ۸: ۱۲ کې د عیسی د وینا په مطابق که د هغه نه پیروی او تابعداری وکړو نو څه به حاصل کړو؟

## د نور طبیعت

## نور تیارهٔ له منځه وړی

عیسی، د دنیا نور تیاره له منځه وړی. هغه د زړهٔ څخه ګناه، غلطی، ویره ټول غورزوی. د هغه محبت نفرت له منځه وړی. د هغه رڼا د انسان روح ته امید، اطمینان، تسلی او قوت وربخښی.
زبور ۲۷: ۱ مالک زما نور او خلاصون دی د چا نه وویریږم؟ خدای مې پناه دی د چا نه وویریږم؟
نور د تیاره نه قوی دی. د دنیا ټوله تیاره نشی کولای چې د یوی وړی شمعی په نور باندې کامیابه شی. که چیری تاسو عیسی په خپل ژوند کې ولری، د دنیا د بدی او شرارت ټول قدرت چې ستاسو په خوا او شا کې لیدل کیږی په تاسو باندې کامیابیدی نشی. او یا په ژوند کې د تیارو هیڅ یوه تجربه نشی کولای چې د هغه په نور باندې غالب شی. یوه مسیحی ښځه چې د ډیری مودی نه په کټ کې ناروغه پرته وه، خو بیا هم ډیره ښایسته او خوشحاله ښکاریدله. ځنی خلکو له هغی څخه پوښتنه وکړه، څنګه کیدای شی چې د دې دومره ناروغۍ سره چې حتی نشی کولای لمر ووینی

داسی خوشحاله یی. هغه ښځی په جواب کې وویل چې زما کوټه خو تیاره ده، مګر په خپل زړۀ کې عیسی د خدای زوی لرم. عیسی چې د نور او رڼا سر چینه دی په دې ښځه کې وو چې د هغې څخه د هغه د نور وړانګی بهر ځلیدلی. او خپل روح ته ئې د لمر په نور سره ځلا ورکوله.
یوحنا ۱: ۵ او نور په تیارۀ کې ځلیږی او تیارۀ پرې هیڅ کله هم غالبه نۀ شوه.
میکا ۷: ۸ ..... اګر چې په تیاره کې کښینو، خو خدای به زمونږ نور وی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۷- څه شی کولای شی چې د انسان د زړۀ څخه ویره، خطا، ګناه او نفرت لری کړی؟
الف) مثبت فکر کول.
ب) د صحیح رفتار اصول تعقیبول.
ج). په خپل شخصی ژوند کې عیسی حاضر ګڼل.
۸- فکر وکړئ: آیا تاسو د خپل زړۀ څخه د تیاری ویستلو لپاره مسیح ته احتیاج لری؟ آیا تاسو هم په خپل باطن کې

نور لری چې د درد، رنځ او مشکلاتو په وخت کې ستاسو څخه بهر وځلیږی؟

## نور ښکاره کونکی دی

نور مونږ ته دا موقع مساعدوی تر څو هر شی چې څه ډول دی په هماغه رنګ ئې ووینو. په روحانی حقیقت باندی د پوهیدلو یواځنۍ لار چې روحانی نور دی چې له خدای څخه راځی. مونږ دا نور د خدای په لیکنو کې یعنی په مقدس کتاب کې او د خدای ژوندۍ کلمه یعنی عیسی مسیح کې موندلی شو. عیسی څرګندونکی او د ژوند مفسر دی. هغه مونږ سره مرسته کوی چې د خدای کلام درک کړو، او هغه لار چې خدای د ایمان په وسیله تیاره کړیده، مونږ ته ئې ښیی چې د هغه د لارې څخه عبارت ده.
یوحنا ۱۴: ۶ عیسی جواب ورکړو "زه لار یم ، زه حق یم او زه ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلې نه بغیر پلار ته نۀ شی راتلی."
عیسی مونږ سره مرسته کوی چې خپل ځان په هغه شکل ووینو چې څنګه یو. مونږ د هغه په کامل او بې عیبه ژوند او تعلیم کې وینو چې د خدای د معیار څخه څومره ښکته او کم یو. خپل ګناهونه، کبر، خود خواهی او بد خیالونه

وینو. عیسی مونږ ته نوی ژوند راوباښه چې ورته اړ یو پخپله راښیی.
عیسی مونږ ته دا را په ګوته کوی چې خدای مهربان دی او ډیر په مینی سره غوارې چې زمونږ ټولی اړتیاوی او ضرورتونه پوره کړی. په عیسی کې د خدای محبت د خپل ځان په هکله ګورو، هغه صبر چې زمونږ لپاره تیار کړی دی. هغه مونږ ته وایی چې ځنګه په خپل ژوند کې خدای بللی دی او د هغه د نور ځخه تر ابده پوری ګټهور شو.

## حفظ ئې کړی

دویم کورنتیان ۴: ۲ او خدای چې دا ئې ویلی دي چې «د تیاری نه دې رڼا وځلیږی» نو هغه زمونږ په زړونو کې وځلوله چې د خدای جلال وپیژنو چې د عیسی مسیح د مخ نه ځلیږی.

دویم کورنتیان ۴: ۲ پنځه ځله ولولی او حفظ ئې کړی.

عبرانیان ۱: ۳ چې هغه د خدای د جلال مظهر او د هغه د ذات عکس دی.....

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

**۹-** د دوو ځایونو نومونه واخلی چې په هغی کې کولای شو د خپل ځان، خدای او د ژوند په هکله د حقیقت څخه خبر شو.

الف)

ب)

**۱۰-** دویم کورنتیان **۴**: **۶** کې د خدای جلال چیرته ځلیږی؟

**۱۱-** خدای چیرته خپل نور ځلوی چې مونږ د نور پیژندنی او د خدای جلال ته ورنزدی کړی؟

**۱۲-** په عبرانیانو ۱: **۳** کې کوم نور دی چې مسیح په هغه ځلیږی؟

**۱۳-** فکر وکړئ: آیا غواړی چې د خدای جلال د عیسی مسیح په صورت کې ووینی؟

## نور طاقت دی

رڼا یو ځلیدونکی طاقت دی. د نن ورځی د پوهانو علم او خبرتیا د نور په هکله ورځ په ورځ زیاتیږی. د دغه طاقت او

انرژی سرچینه هغه آسمانی قدرت او د انسان د ګټې لپاره یو عکس دی. خلک کولای شي چې د دې نور څخه د کور د تودولو او د نورو ماشینونو د استعمالولو لپاره کار واخلي. مګر تر ټولو څخه لوی هغه اثرات دی چې زمونږ په ژوند او سلامتیۍ کې ئې لري. داسې ډيری ګیاه ګانې شته چې په سوری کې نه لوئیږی. د لمر نور او رڼا ډیر میکروبونه وژنی او زمونږ د سلامتیۍ او قوت د صحیح ساتلو سره مرسته کوی. تاسو داسې فکر وکړی که چیری د ډیر لږ وخت لپاره لمر نه وی چې په مځکه باندې وځلیږی. ګرمی نشته، ژوند نشته. داسې هیڅ یو قدرت او طاقت نشته چې هغه نور په خپل مدار کې وساتی. مځکه په رنځ اخته کیږی چې د تیارۀ آسمان په وجه په خپل مسیر کې د هلاکت او سرګردانی سره مخامخ ده.

لکه څنګه چې د لمر شتوالی د مځکې لپاره مهم دی او اهمیت لری، همدارنګه د عیسی د عدالت لمر زمونږ لپاره مهم دی. عیسی د هغه خلکو لپاره چې دی ئې قبول کړی ژوند ، ګرمی، سلامتی، او انرژی وربخښي. د هغه قدرت مونږ په صحیح مدار کې ساتی. هغه زمونږ ځان او روح ته شفا ورکوی. هغه د ژوند نور کوم چې عیسی ئې ورکوی د مرګ څخه قوی دی. بلکل لکه ګیاه چې د تخم او خاوری څخه بهر راوتلی وی او د لمر وړانګی په خپل ځان باندې

احساس کړی غتیږی. مړی چې د عیسی څخه تابعداری وکړی د خپل قبر څخه د نوی وجود سره بهر ته راځی او ژوندي کیږی او کله چې هغه بیا مځکی ته راشی د هغه سره به ملاقات وکړی.

ملاکی ۴: ۲ مګر ستاسو لپاره چې زما ویره مو په زړه کې ده، د عدالت لمر به د شفا ور کونکو وړانګو سره په تاسو راوخیژی، تاسو به خوشحاله او سپک وزرونه ولری لکه د هغه خوسیانو په شان به خیزونه او ګامونه ووهی چې د څریدلو ځای ته ځی.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۱۴- په ملاکی ۴: ۲ کې د مسیح کوم عنوان حاصلوو؟
۱۵- فکر وکړئ: یو سړی څنګه پرته له مسیح نه لکه بې لمره په مځکه پاتی کیدای شی؟ آیا نو سړی په دې مشخصاتو سره پیژنی؟ که چیری داسی وی د مالک خدای څخه سوال وکړئ چې د هغه مرسته وکړی چې عیسی پیدا کړی.

# نور بې غرضه دی

نور د ټولو خلکو لپاره دی، که څه هم چې په هر ځای کې دی. لکه څنګه چې لمر په غرونو او درو، په فقیر، په هوښیار او کم عقل باندې ځلیږی، همدغه شان د عیسی نور په ټول جهان باندې ځلیږی، هم په نیکانو او هم په بدانو. ځینی خلک داسی فکر کوی چې خلاصوونکی به صرف د هغوی د ملت خلاصوونکی وی، مګر خدای دا خبره واضح کړی ده چې د هغه د خلاصون نور د ټولی نړۍ لپاره دی.

یوحنا ۱: ۹ او حقیقی نور چې هر یو بنی آدم روښانه کوی هغه لا دنیا ته راتلونکی وو.

لوقا ۱: ۷۸- ۷۹ زمونږ د خدای د خالص رحم په وجه به د سحر لمر په مونږ راوخیژی، او په هغو به وځلیږی څوک چې په تیارۀ کې او د مرګ په سوری کې ناست وی او چې زمونږ قدمونه د سلامتئ په لاره سم کړی. یو ړوند سړی د لاری په غاړه د خیر غوښتلو لپاره ناست وو. د ډیرو خلکو آواز ئې واوریدو چې د ده خوا ته راتژدی کیدل. او وپوهیده چې عیسی په دې لار باندې تیریږی او ډیر خلک ورسره دي. دې سوالګر مخکې د عیسی د معجزو په باره کې اوریدلی وو چې د شفا ورکولو قدرت لری. هغه په زوره زوره چغی کړی:

ای عیسی د داود زویه په ما رحم وکړه! خلکو هغه ته په زور سره وویل چې چپ شه. هغه خلکو دا فکر نه کاوو چې د عیسی سره به د سوالګر د مرستی کولو لپاره وخت وی. مګر عیسی د هغه ټولو خلکو لپاره چې دی غواړی وخت لری. سوالګر نور هم په زوره سره چغی کړی. عیسی ودرید او سوالګر ئې هغه ته راوست. عیسی هغه ته شفا ورکړه.
لوقا ۱۸: **۱۵** سمدستی د هغه سترګی وغړیدی او هغه په عیسی پسی روان شو او د خدای ثنا ئې ویله. او ټولو خلکو چې دا ننداره ولیده، نو د خدای ثنا ئې ویله.
پس د عیسی له ملاقات څخه د سوالګر ژوند او لاری نوی او تبدیلی شوی. د هغه لمړنی ژوند او مصروفیت مهم نه وو چې چیرته به یې سوال کاوو او په تیارۀ کې به ئې ژوند کاوه او په لار باندې به ئې ټکورونه خوړل. د دې ټولو کارونو څخه یو هم هغه ته اهمیت نه درلود. نور هغه سوالګر په نور کې ژوند کاوه. او د آینده لپاره یو ړوند سوالګر نه وو، مګر د عیسی د پیروانو څخه یو وو یعنی د دنیا نور!

# ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۶- یوحنا ۸: ۱۲ وایی چې عیسی راغی تر څو
الف) د خپل قوم لپاره نور وی.
ب) د عدالت لمر وی.
ج) د عالم نور وی.
۱۷- د لوقا ۱: ۷۸- ۷۹ په اساس خدای د دې سبب شو چې د خلاصون نور راوخیژی ..........................وځلیږی او د آسمان په ..............................چې د مرګ په سوری کې روان دي وځلیږی.
لوقا ۱: ۷۸- ۷۹ ولولئ او په خالی ځای کې خپل نوم ولیکئ.
۱۸- فکر وکړئ: د سوالګر ژوند څنګه د عیسی په بللو سره بدل شو؟ که چیری تاسو هم عیسی خپل ځان ته راوبلی، نو ستاسو ژوند به څنګه بدل شی؟ آیا څوک پیژنئ چې مسیح ته احتیاج وی؟ آیا تاسو هغه د مسیح خوا ته رهنمائي کوی او که صرف تر څنګ ئې تیریږی؟

# د نور په مقابل کې عکس العمل

ځینی خلک عیسی نه خوښوی او د هغه د نور د قبلولو ځخه خپل ځان پټوی. هغوی غواړی چې پخپله خوښه ژوند وکړی او څنګه چې غواړی هغسی واوسیږی او هغه څه چې عیسی وایی سرته نه رسوی.

کله چې عیسی د مځکې په مخ وو ځینی خلکو د هغه نه نفرت کاوه. ځکه چې د هغه تعلیم هغوی ته دا ښکاره کوله چې څومره ګناه ګار دي. هغوی غوښتل چې په نور غالب شی او هغه مړ کړی. هغوی د عیسی د زیری سره وجنګیدل. مګر عیسی هغوی ته د پوهیدلو وخت ورکړ چې هغه ټولی دنیا ته د خلاصون زیری راوړی دی او هر هغه څوک چې پرې ایمان راوړی خلاصون به ولری، مګر هغه کسان چې د هغه د قبلولو څخه خپل ځان پټوی پخپله ځان محکومه وی او په تیاره کې ژوند کوی او مړه به شی.

یوحنا ۳: ۱۹- ۲۰ او د مجرم کیدلو سبب دا دی چې دنیا ته نور راغلی دی خو خلک د نور په ځای په تیارهٔ ځکه خوشحاله وو چې د هغوی کارونه بد وو. بد کاره سړی همیشه د نور سره کینه لری او ځان ترې ساتی هسی نه چې د دوی کارونه څرګند شی.

## ستاسو کار
## هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۱۹- فکر وکړئ: آیا داسی کسان پیژنئ چې عیسی ردوی؟ ستاسو په نظر د دې کار دلیل څه شی دی؟ آیا فکر کوی که چیری د عیسی په باره کې زیات وپوهیږی خپل فکر به بدل کړی؟ د هغه کسانو په باره کې چې د عیسی په قبلولو یا ردولو کې شک لری څه فکر کوی؟ آیا دا شک هم دا معنی لری چې مسیح ئې رد کړ؟ د دې خطر ناکی فیصلی تر کوم ځایه دی؟ خدای د هغو کسانو په باره کې چې د هغوی خلاصون ئې د مسیح په وسیله مقرر کړی دی او هغوی ئې ردوی د څه احساس کوی؟

## قبلول

عیسی وعده وکړه هر څوک چې زما پیروی کوی ابدی ژوند به ولری. دا تجربه د تل لپاره ده. عیسی نور دی. د هغه لرل په خپل ځان کې په دې معنی دی چې په خپل ژوند کې نور لرو او د ټولو هغه شیانو څخه چې خپل ځان سره نور راولی. د عالم نور درلودل شهرت، قدرت، او یا د کوم مذهب د

پیروی څخه ډیر ښه دی. تر دې چې دا د عیسی د پیژندلو او د هغه په تعلیم پوهیدلو څخه هم ښه دی. د عالم نور درلودل په دې معنی چې عیسی د یو قدرت، یو طاقت او یو ځلیدونکی نور په حیث په خپل ژوند کې په ښکاره ډول ولرو.

عیسی فرمائی: هر څوک چې زما څخه پیروی وکړی، باید د عالم د نور د لرلو لپاره کار وکړی. یعنی له ما څخه دې پیروی وکړی او زما په نور کې دې خپل ژوند تیر کړی. خدای خپل ځان او خپل حقیقت هغه خلکو ته چې غواړی حقیقت قبول کړی او د هغی څخه پیروی وکړی څرګندوی. هره ورځ هغه زمونږ لار ښوونکی دی.

## حفظ ئې کړئ

اول یوحنا ۱ : ۷ خو که مونږ په نور کې ګرزو لکه څنګه چې هغه په خپله په نور کې دی نو بیا مونږ په خپلو کې شراکت لرو، او د هغه د زوی عیسی وینه مونږ د هر یو ګناه نه پاکوی.

**اول یوحنا ۱ : ۷ پنځه ځله ولولئ حفظ ئې کړئ.**

**امثال ۴ : ۱۷** مګر د صادقانو لارې لکه د مشرق د نور په شان دی چې په روڼ کې ئې رڼا لا زیاتیږی. آیا تاسو غواړی چې له عیسی څخه پیروی وکړئ، او د ژوند نور ولرئ؟ خپل ځان او خپل مخ هغه ته وګرځوئ. او د هغه ځلیدونکی او ګرم حضور ته اجازه ورکړئ چې ستاسی د بدن څخه تهولی تیاری لری کړی. د هغه د نور څخه پیروی وکړئ او کوم کسان چې ستاسو په خوا او شا کې دي د هغوی سره ئې وویشی. خپل ژوند هغه ته وسپارئ او په دې وجه به هغه تاسو د خپل نور څخه ډک کړی.

دعا: عیسی ستا څخه هیله کوم چې زما ژوند ته راشه. زما د ګناهونو تیاره او تهولی ویری لری کړه. ما بدل کړه او هغه شخص را څخه جوړ کړه چې ته ئې غواړی چې ودې اوسم، او خپل نور دې په ما باندې وځلوه او ما روښانه کړه. ما سره مرسته وکړه چې هره ورځ ستا څخه پیروی وکړم. ستا د نور لپاره ډیر شکر ګذار یم.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۲۰- د یوحنا ۱: ۷ په اساس که چیری مونږ په نور کې خپل ژوند تیر کړو، نو د عیسی مسیح وینه د ایمان لپاره څه کار کوی؟

۲۱- که چیری تر اوسه پوری مو عیسی مسیح نه وی قبول کړی، اوس به دا کار وکړی؟ کولای شی چې د دې کار لپاره هغه دعا چې په دې درس کې لیکل شوی د خدای په حضور کې وکرئ. په خپله ژبه او په خپلو کلمو سره دعا وکړئ او که چیری مو هغه قبول کړ، نو د هغه نه وغواړی چې ستاسو مرسته وکړی تر څو د تل لپاره په دې نور کې خپل ژوند تیر کړئ. او نورو ته هم دا لار وښیئ.

# خپل جوابونه مقایسه کړئ

## د شپږم درس جوابونه

دغه درس ۱۵ صحیح جوابونه لری. د ۱۴ څخه تر ۱۵ پوری صحیح جوابونه اعلی د ۱۲ څخه تر ۱۳ پوری درمیانه او که چیری ستاسو صحیح جوابونه د ۱۲ څخه کم وی، نو دا درس بیا مطالعه کړئ.

۱- ب) د نور نشتوالی.

۲- ج) هغه ګناه چې انسان ئې د خدای څخه جدا کړ.

۳- نور: ژوندون، خوشحالی، نیکی، محبت، حقیقت.

تیارۀ: مرګ، بدی، نفرت، دروغ.

۴- اول یوحنا ۱: ۵.

۵- عیسی.

۶- د ژوند نور.

۷- ج) د عیسی حضور د یو شخص په ژوند کې.

۹- الف) په مقدس کتاب کې.

ب) په مسیح کې.

۱۰- د مسیح په وجود کې.

۱۱- زمونږ په زړه کې.

۱۲- د خدای د نور د جلال په ځلا کې.

۱۴- د عدالت لمر.

۱۶- ج) تر څو چې د عالم نور وی.

۱۷- په مونږ باندې – ټول هغه کسان چې ئې ژوندي کړی دي.

۲۰- مونږ د هرې ګناه نه پاکوی.

صحیح جوابونه ............. نمری ...........

# ۷

# عیسی، شفا ورکوونکی او بپتسمه ورکوونکی

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

عیسی الهی طبیب

د جسم او روح شفا ورکوونکی
د هغه د کار جریان

په روح القدس بپتسمه ورکوونکی

وعده
حقوق

# عیسی الهی طبیب

په انجیل کې لولو چې عیسی د یو لوی طبیب په صفت بدن او روح ته شفا ورکوی. که چیری مونږ نن هم د هغه د پیروانو او قوم سره مخ شو، نو په دې به پوه شو چې د هغه دا کار اوس هم دوام لری. هغه نن هم خلکو ته شفا ورکوی.

## د جسم او روح شفا ورکوونکی

د یو طبیب وظیفه څه ده؟ مونږ سره د دې سوال جواب مرسته کوی چې د الهی طبیب په صفت د عیسی د کار د ارزښت شکریه پر ځای کړو. یو ښه طبیب:

۱- غواړی چې د ناروغانو سره مرسته وکړی، او هغوی ته شفا ورکړی.

۲- د یو ناروغ د علاج صلاحیت ولری او د هم دې کار لپاره تیار وی.

۳- ناروغ سر تر پایه ټول معاینه کړی.

۴- د ناروغ د تکلیف تشخیص وکړی.

۵- یو خاص علاج ورته تجویز کړی.

۲- د مریض د مراقبت په اساس ورته د ضرورت په اندازه دوا ورکړي.

آیا دا پورتني شپږ جملې د عیسی په باره کې صحیح دي؟

هو، دا ټولې جملې صحیح دي. هغه خلکو ته دا ښکاره کړه چې مریضان ورته ډیر اهمیت لري. یعنی روحاني او جسماني ړانده. د خالق په درجه کې هغه زمونږ د مشکلاتو او ناروغیو د کشفولو لپاره د ایکس شعاع او ایکسري ته ضرورت نلري. هغه مونږ او زمونږ ټول ضرورتونه پیژني او درک کوي یې. هغه پخپله مونږ خلق کړي یو او په آسانتیا سره پوهیږي چې زمونږ د ځان هره برخه چې په صحیح ډول سره کار نکوي هغه تر میم کړي. شفا ورکول او خلاصون دواړه د هغه د مهمو خدمتونو څخه حسابیږي. په حقیقت کې چې د "خلاصون" کلمه څنګه روح لپاره اشاره ده همدارنګه د جسم د سلامتۍ لپاره هم ده.

متی ۴: ۲۳- ۲۴ عیسی په ټول ګلیل کې وګرزیدو، د هغوی په عبادت خانو کې ئې تعلیم ورکاوو او د پادشاهۍ د زیری وعظ ئې کاوو او د خلکو هر رنځ او هره کمزورتیا ئې روغوله.

متی ۸: ۱۷ چې دغه رنګ د یشعیاه نبی په وسیله ویلی شوی دا پیشګوئي پوره شي چې: هغه زمونږ رنځونه او کمزوري اوچتې کړې.

عیسی هغه ټولو خلکو ته شفا ورکړه چې هغه ته به د شفا حاصلولو لپاره ورتلل، لکه ړانده، ناروغان، شلان هغه کسان چې له ویرې څخه ئې ټول وجود ډک ؤ، شکمن او شړل شو ته. زمونږ الهی طبیب چې زمونږ ټول وجود ته سلامتی وربخښی. یعنی جسم، فکر، آحساساتو او روح ته، هغه دا غواړی چې مونږ ژوند د ټولو خوشحالیو څخه برخمن شو او د هغې څخه لذت یوسو.
یوحنا ۱۰: ۱۰ غل د غلا بلکه د قتلولو او تباهئ لپاره راځی او زه دې له راغلی یم چې خلق ژوندون ومومی او ډیر ئې وموِمی.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۱- په مقدس کتاب کې د "خلاصون" کلمه کې کوم شیان شامل دي؟
۲- د یوحنا ۱۰: ۱۰ په اساس عیسی څه ډول ژوند غواړی چې مونږ ته ئې راوبخښی؟

۳- د متی ۸: ۱۷ په اساس کله چې عیسی خلکو ته شفا ورکوله د مسیح په هکله ئې کومې پیشگوئی ته د عمل جامه وراغوستله؟

## د هغه کار جریان

عیسی نن هم یو لوی او عظیم طبیب دی. هغه خپل مریدان ولیږل چې د هغه په نوم ناروغانو ته شفا ورکړی. هغه کارونه چې هغه د خپل ژوند په وخت کې د انسانانو په منځ کې سرته ورسول نن هم هغه زمونږ دعاگانو ته د روح القدس په وسیله جواب ورکوی. عیسی نن ورځ هم هغه دی. نن به هم په زرگونو خلک دا گواهی ورکړی چې هغوی څنگه د خپلو دعا گانو جواب آوریدلی او شفا ئې حاصله کړی ده.

مرقوس ۱۲: ۱۷- ۱۸، ۲۰ د ایمان په راوړلو به تر دا معجزی څرگندیږی چې زما په نوم به پیریان لری کوی او په نا آشنا ژبو به خبری کوی. که هغوی مارانو له لاس ور وړی یا زهر وخوری نو هغوی ته به ضرر نه رسیږي، په کومو ناروغو چې هغوی لاس کیږدی، هغوی به جوړ شی. او هغوی ووتل او کلام یې واروو او مالک د هغوی سره کار

کاوو او کلام ئې د هغه معجزو په وسیله چې هغوی کولې، ثابتوو.

عبرانیان ۱۳: ۸ عیسی مسیح پرون، نن او تل تر تله په یو شان دی.

یعقوب ۵: ۱۴- ۱۵ که په تاسو کې څوک بیمار وی، نو د جماعت مشران دې راوبلی او د هغه لپاره دې وغواړی او د مالک په نوم دې هغه په تیلو غوړ کړی. او کوم دعا چې به په ایمان سره وغوښتی شی د هغې په وجه به بیمار بچ شی، او مالک به هغه پاڅوی او که هغه ګناهونه کړی وی، نو هغه به هم ورته معاف شی.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۴- فکر وکړئ: عبرانیان ۱۳: ۸ ستاسو لپاره څه معنی لری؟ آیا تاسو هم غواړی چې عیسی درته شفا درکړی؟

# په روح القدس بپتسمه ورکوونکی وعده

په زاړه عهد کې د خدای د قوم د رهبرانو په باره کې ډیر شیان لولو: د پیغمبرانو، کاهنانو، او حاکمانو په باره کې چې د روح القدس څخه معمور شو. دوی به په تیلو مسح کیدل تر څو د خدای د کار لپاره مخصوص شي. هغه تیل چې د دوی په سرونو به اچول کیدل یوه علامه او نښه وه. هغوی د خدای په قدرت باور او توکل درلود چې روح القدس نازلوی تر څو هغه کار لپاره چې خدای مقرر کړیدی قوت او طاقت پیدا کړي.

یوه ورځ خدای یوئیل نبی سره یو عجیبه وعده وکړه. یوه ورځ به راشی چې خدای به خپل روح نه یوائې په رهبرانو بلکه په ټول قوم باندې نازل کړي.

یوئیل ۲: ۲۸- ۲۹ خدای فرمائی چې په آخری ورځو کې به داسی کیږي چې زه به خپل روح په هر چا نازلوم او ستاسو زامن او لوڼه به نبوت کوی، ستاسو ځوانان به رویا په سترګو وینی او بوډاګان به خوبونه. او زه به په هغه ورځو کې حتی په خپلو غلامانو او وینځو باندې هم خپل روح نازلوم او هغوی به نبوت کوی.

ډیری پیړی وروسته خدای یحیی بپتسمه کوونکی ته وویل چې مسیح به خلک په روح القدس او اور بپتسمه کړي.

خدای یحیی بپتسمه ورکوونکی د یو خاص پیغمبر په صفت سره راولیږه تر څو د مسیح لاره جوړه کړی او ټولو خلکو ته مسیح ورو‌پیژنی. ډیر زیات خلک به د یحیی وعظ اوریدو ته راجمع کیدل. یحیی د دوی نه ډیرو ته په اوبو بپتسمه ورکړه تر څو دا خبره ښکاره کړی چې دوی د خپلو ګناهونو نه توبه ایستلی ده. تر اوسه پوری خپل خالق خدای سره اړه لری. یحیی دوی ته وویل:

متی ۳: ۱۱ زه تاسو له د توبی لپاره په اوبو بپتسمه درکوم خو څوک چې به زما نه پس راځی هغه زما نه زیات زورور دی. زه د هغه د څپلو پورته کولو قابل هم نه یم هغه به درله په روح القدس او په اور بپتسمه درکوی.

ډیر وخت تیر نه ؤ چې یحیی خلکو ته عیسی معرفی کړ. هغه د مسیح د وظیفی د اجرا کولو لپاره څلور عنوانو نه استعمال کړل.

۱- د خدای وری.

۲- زما نه زورور.

۳- هغه څوک چې به په روح القدس بپتسمه ورکوی.

۴- د خدای زوی.

یوحنا ۱: ۲۹- ۳۰، ۳۲- ۳۴. بله ورځ یحیی ولیدل چې عیسی هغه طرف ته راځی. هغه وویل چې وګورئ! د خدای ګډوری چې د دنیا ګناه په ځان وړی! دا هم هغه دی د چا په

حقله چې ما ویلی وو چې زما نه به وروستو یو کس راځی چې له ما نه وړومبی شو ځکه چې له ما نه اول وو... یحیی دا ګواهی هم وکړله چې ما روح القدس د آسمان له مخی لکه د یوی کونتری په شان په راکوزیدو ولیدلو چې په هغه نازل شو. ما دی نه پیژندو، خو هغه چا چې زه ئې په اوبو د بپتسمی ورکولو لپاره رالیږلی یم هغه ما ته وویل، هر کله چې ته روح القدس په چا په راکوزیدو ووینی او په چا رانازل شی نو ته به پوه شی چې هم دا هغه سړی دی چې په روح القدس به بپتسمه ورکوی. ما دا په خپله ولیدل او زه په دې ګواهی کوم چې دا د خدای زوی دی.

د درې نیمو کالو په موده کې چې عیسی خپل عام خدمت پوره کاوه، نو حتماً د هغه شاګردانو د روح القدس د بپتسمی په باره کې د خپل ځان څخه سوال کاوه. عیسی دې تجربی ته "د پلار وعده" ویلی ده. مګر مخکې له دې چې د دوی خلاصوونکی روح القدس حاصل کړی باید خپله وظیفه د خدای د وری په صفت سرته ورسوی. هغه باید مړ شی او بیا آسمان ته وخیژی تر څو چې روح القدس دوی ته را ولیږی.

په همدې ډول عیسی د خپل مرګ نه یوه شپه مخکې ډیر شیان د روح القدس او هغه کارونو په باره کې چې باید سرته ئې ورسوی هغوئ ته وویل:

یوحنا ۱۴: ۲۵- ۲۶، ۱۵: ۲۶، ۱۶: ۷، ۱۳ ما تاسو ته دا
هر څه وویل په دې وخت چې زه له تاسو سره یم، خو مدد
ګار یعنی روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوی،
هغه به تاسو ته هر څه ښائی او بیا به درته هغه څه رایادوی،
کوم چې ما تاسو ته ویلی دي. خو چې مدد ګار راشی کوم
چې به زه تاسو ته د پلار نه راستوم، یعنی د حقیقت روح
چې د پلار نه راوزی، هغه به زما په باب کې ګواهی
ورکوی. خو بیا هم زه تاسو ته رښتیا وایم چې دا ستاسو د
بهترئ لپاره ده چې زه ستاسو نه جدا کیږم که چیری زه
ستاسو نه لاړ نه شم نو مدد ګار به را نه شی او که چیری زه
لاړ شم نو هغه به زه تاسو ته را واستوم. خو کله چې د
حقیقت روح راشی نو هغه به تاسو ته دا ټول حقیقت وښیی
ځکه چې هغه به د خپله ځان هیڅ نه وائی، خو هغه څه به
وائی کوم چې هغه آورئ او هغه به تاسو په راتلونکی
واقعاتو خبر کړی.
عیسی د خپل مرګ نه وروسته کله چې هغه بیا راژوندی
شو او د آسمان له ختلو نه مخکې خپلو مریدانو ته ئې
داسی وویل:
۱) روح القدس او د هغه قدرت حاصل کړی په دې ډول
تاسی کولای شی چې زما شاهدان اوسی.

۲) تاسو چې په هر ځای کې چې اوسیږی د عیسی او د هغه خلاصون په باره کې چې ئې د خلکو لپاره راوړی زیری او ګواهی ورکړی.

اعمال ۱: ۴- ۵، ۸ تر ځو چې هغه د هغوی سره ملګری وو نو هغوئ ته ئې حکم ورکړو چې د بیت المقدس نه مه وزئ او دا ئې وویل چې تاسو خامخا انتظار وکړئ د دې لپاره چې هغه وعده چې زما پلار کړی ده او ما ئې تاسو ته ذکر کړی دی، پوره شی. او لکه چې تاسو ته معلومه ده چې یحیی به په اوبو بپتسمه ورکوله خو تاسو ته به په روح القدس بپتسه درکړی شی او دا به لږی ورځې پس وی. خو تاسو ته به د روح القدس په نازلیدو طاقت درکړی شی او تاسو به په بیت المقدس کې او په ټوله یهودیه او سامریه کې او د دې نه اخوا د دنیا تر بله سره زما شاهدان یئ.

# ستاسو کار

## هغه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

**۵**- په زاړه عهد کې د کوم نبی د پیشګوئی سره سم به خدای خپل روح نازلوی؟

**۶** - هغه کوم څلور صفتونه دي چې د هغې په وسیلی سره یحیی بپتسمه ورکوونکی، عیسی عامو خلکو ته معرفی کړ؟

الف)

ب)

ج)

د)

**۷**- عیسی په لاندې جملو کې د خدای د وعدی په هکله کومی یوی ته اشاره کړیده؟

الف) د روح القدس نازلیدل.

ب) د روح القدس بپتسمه.

ج) روح القدس د ګناه ګارانو په منځ کې.

**۸**- عیسی دا وعده وکړه چې روح القدس به د ده پیروانو ته قدرت وروبخښی تر څو چې ..................................

۹- فکر وکړئ: فرض کړئ چې تاسو یو د عیسی د شاګردانو څخه یئ. هغه خبری چې عیسی د روح القدس په باره کې کړیدي بیا ئې ولولئ. خصوصاً تاسو کومی یوی وعدی جذب کړی یئ؟ کله چې تاسو د مسیح دا خبره اورئ چې هغه وویل: څو ورځی وروسته به تاسو د روح القدس بپتسمه ولری په دې وخت کې د څه شی احساس کوی؟

## د وعدی تحقیق

په هغه وخت کې چې عیسی آسمان ته پورته کیدو خپلو مریدانو ته ئې وویل چې په څو آینده ورځو کې به په روح القدس بپتسمه شئ. هغوی اورشلیم ته بیرته لاړل او هلته ئې انتظار کولو لس ورځی پس د پنتکست په ورځ د عیسی د بیا راژوندی کیدو نه ۵۰ ورځی وروسته هغه کار وشو کوم چې هغه ویلی ؤ ۱۲۰ کسانو ته ئې په اور او روح القدس بپتسمه وکړه. هغوی هغه قدرت حاصل کړلو کوم چې هغوی سره وعده شوی ؤ یعنی هغه قدرت چې شاهدان اوسی.

اعمال ۲: ۱-۷، ۱۱ کله چې د پنتکست ورځ راغله او هغوی ټول په یو ځای کې راجمع شوی وو، ناڅاپی د آسمان نه د تیز باد په شان آواز راغی او په هغه ټول کور کې چیرته

چې دوی ناست وو، آوریدلی شو. او هلته هغوی د اور د لمبو په شان ژبې ولیدلې، هغه په هغوی کې خورې شوې او هر یو ئې مسح کړلو. او ټول په روح القدس معمور شول او په پردو ژبو ئې خبرې شروع کړې ځنګه چې روح القدس د خبرو طاقت ورکړو. هغه وخت په بیت المقدس کې د آسمان د لاندې د هر قوم نه راغلی پرهیزګار اوسیدل. کله چې هغوی دا آواز واوریدلو نو راجمع شول او حیران شول ځکه چې هر یو په خپله خپله ژبه ویلې خبرې آوریدې. او په حیرانتیا کې ئې ویل آیا دا ټول ګلیلیان نه دي څه چې خبرې کوی؟ یهودیان او نوی یهودیان شوی خلک، کریتیان، او عرب، خو مونږ ټول د هغوی په خپلو خپلو ژبو کې د خدای د لویو لویو کارونو بیان آورو!

پطروس د روح القدس نه معمور شو او خلکو ته ئې وعظ کاوو. هغوی د هغه پیشګوئی پوره کیدل په خپلو سترګو ولیدل کوم چې خدای د یوئیل نبی په وسیله کړې وه. هغوی د مسیح د قبلولو څخه انکار کړی وو او هغه ئې په صلیب کړی وو. مګر خدای هغه د مړو نه بیا راژوندی کړو. عیسی آسمان ته لاړو او روح القدس ئې خپلو پیروانو باندې را نازل کړ. او دا ئې ثابته کړله چې عیسی هم هغه مسیح دی.

اعمال ۲: ۳۲- ۳۳، ۳۶ دغه عیسی چې مونږ ئې خبرې کوو، هغه خدای بیا راژوندی کړی دی او مونږ ټول د دې

خبری شاهدان یو. او بیا چې هغه د خدای ښی لاس ته وخیژولی شو، هغه د پلار نه د وعدی په مطابق روح القدس حاصل کړو او په مونږ ئې نازل کړو اوس چې تاسو وینی او آورئ. نو ای ټولو اسرائیلیانو! دا خبره په یقین سره قبوله کړئ چې کوم عیسی تاسو په سولۍ کړی وو خدای هغه هم مالک او هم مسیح کړو!

آیا تاسو دا فکر کوی چې خلک به هغه څه رایاد کړی کوم چې یحیی بپتسمه ورکوونکی د عیسی په باره کې خلکو ته ویلی چې هغه به په روح القدس بپتسمه ورکوی؟ د یحیی ټولی خبری رښتیا وی.

عیسی د خدای وری، بپتسمه ورکوونکی او وعده شوی مسیح. دا څه یوه د وحشت خبره ده چې هغوی په عیسی ایمان نه وو راوړی. د هغوی بې ایمانی عیسی په صلیب باندې وخیژولو. آیا دا مناسب وو چې خدای د هغوی د ګناه نه تیر شوی وای؟

اعمال ۲: ۳۷- ۳۹، ۴۱ کله چې هغوی دا واوریدل نو زړونه ئې غوخ شول او پطروس او رسولانو ته ئې وویل چې ای ملګرو! مونږ ته څه کول په کار دي؟ پطروس وویل، توبه ګار شئ او په تاسو کې هر یو دې د خپلو ګناهونو د معافی لپاره د عیسی مسیح په نوم بپتسمه واخلی او تاسو ته به روح القدس وبخښلی شی. او بیا چې کومو خلکو دا خبری

قبولی کړی هغوی ته ئې بپتسمه ورکړله او په هغه ورځ
تقریباً درې زره کسان د هغوی سره شامل شول. د دې نقطی
نظر نه د اعمالو کتاب د هغه رسولانو او ایماندارانو د
کارونو او اعمالو ثبت دی چې د روح القدس څخه ډک ؤ.
هغوی به چې چیرته تلل د مسیح شاهدان ؤو.
آیا هغه اوس هم په روح القدس بپتسمه ورکوی؟ هو! د
یوئیل نبی پیشګوئې په تاریخ کې نن د هر وخت او زمان
څخه زیاته د عمل جامه اغوندی. په ټوله دنیا کې په میلونو
خلک داسی دي چې مسیح سره ژوند کوی او د پنتکست
تجربه ئې حاصله کړیده. یعنی د روح القدس بپتسمه.
عیسی نوی ژوند او قدرت ډیرو کلیساګانو ته، وربخښی.
روح القدس د یو بخشش په شکل راځی او د خپل ځان سره
ډیر روحانی طاقت او قدرت راوړی.
عیسی غواړی چې ستاسو خلاصونکی یا شفا ورکوونکی
او یا بپتسمه ورکوونکی اوسی. خپل ضرورتونه هغه ته
وړاندې کړی او په مکمل ډول خپل ځان هغه ته وسپارئ.
هغه به هم دا نن ورځ تاسو سره ملاقات وکړی.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۱۰- د پنتکست په ورځ څو کسان د روح القدس څخه معمور شول؟

۱۱- کله چې ایمانداران د روح القدس څخه معمور شول کوم کارونه ئې سرته ورسول؟

الف) هغه زیری ورکوونکی ګروپ ئې تیار کړ چې هر ځای ته به ئې سفر کاوو.

ب) په هغه ژبو باندې ئې د خدای حمد او صفت شروع کړ په کومو چې نه پوهیدل.

ج) هغه ژبی چې ئې زده کړی وی خارجیانو ته ئې شهادت ور کاوو.

۱۲- د پنتکست په ورځ ایماندارانو ته څرنګه قدرت ورو بخښلی شو؟

الف) سیاسی قدرت.

ب) اجتماعی قدرت.

ج) خلکو ته د شهادت ورکولو لپاره روحانی قدرت.

۱۳- په کومه موقع کې مونږ په پراخه ډول د یوئیل نبی پیشګوییو سره مخامخ کیږو؟

الف) د پنتکست په ورځ.
ب) د شلمی پیړی په اول کې.
ج) په حاضر وخت کې.
**۱۴**- فکر وکړئ: آیا نو مسیحی ملګری لرئ چې په مکمل ډول د روح القدس نه معمور وی او د مسیح شاهد وی؟ د دې امر لپاره دعا وکړئ.

# خپل جوابونه مقايسه کړی

## د اوم درس جوابونه

د دې درس سوالونه ۱۴ صحيح جوابونه عالی، د ۱۰ نه تر ۱۲ پوری ښه او د ۷ نه تر ۹ پوری درميانه ګڼل کيږی. که چيری تاسو د ۷ نه کم صحيح جوابونه ورکړی وی دا درس بيا مطالعه کړئ.

۱- د جسم لپاره شفا او د روح لپاره امنيت او خلاصون .

۲- ژوند حاصل کړی او هغه په کامل طور ولری.

۳- هغه زمونږ ناروغتيا ښه کړه او زمونږ رنځونه ئې را نه لری کړل.

۵- يوئيل.

۶- الف) د خدای وری.

ب) زما نه لوی دی.

ج) د روح القدس بپتسمه ورکوی.

د) د خدای زوی.

۷- ب) د روح القدس بپتسمه.

۸- د هغه شاهدان اوسی.

۱۰- ۱۲۰ کسان.

۱۱- ب) په هغه ژبو چې نه پوهيدل د خدای په عبادت او حمد او صفت ئې شروع وکړه.
۱۲- ج) خلکو ته د شهادت ورکولو لپاره روحانی قدرت.
۱۳- ج) په حاضر وخت کې.
صحيح جوابونه . . . . . . . . . . . . . . نمرې . . . . . . . . . . . .

# ۸

# عیسی، خلاصوونکی

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

د دنیا خلاصوونکی

د عیسی نوم
د خلاصون ماهیت

د خدای وری

د وری قربانی
د وری په نسبت رفتار

# د دنیا خلاصوونکی

د انسان زوی راغی تر څو ورک شوی پیدا کړی او خلاصون ورکړی. دغه د مسیحی مذهب معنی او مفهوم دی د مسیح راتلل دې دنیا ته د خدای له خوا د ورک شوی انسان لپاره فدیه وه. مسیحیت دا حقیقت قبلوی چې انسان د خپل ځان د خلاصون لپاره ناتوانه او عاجز دی.
د مسیحیت پیغام او خبر د انسان لپاره خلاصون دی. له همدې سببه د نورو ټولو مذهبونو سره فرق لری. نور مذهبونه په دې کوشش کې دي چې ښه ژوند معنی او تشریح کړی او په دې خبره ټینګار کوی چې ماتی خوړلی انسان ملامت دی او په راتلونکی کې به هم وی. هغوی خلکو ته وائې چې په زحمت او رنځ کښې باید ژوند وکړی، او د خپلو ګناهونو لپاره سزا ورکړای شی. هغوی هیڅ کله انسان ته توان او قدرت نه ورکوی چې د هغه په واسطه په ګناه حاکم او بریالی شی.
مګر مسیح د انسانانو خوا ته راغی او د خپل ځان سره ئې د خلاصون زیری راوړو. تاسی ماتی خوړلی ده ولی کولای شی چې بریالی شئ. امکان شته دی. دغه کار یواځی د خلاصونکی د قدرت نه پوره دی. هغه څوک چې راغی او د ګناهکارانو لپاره مړ شو او د مرګ، ګناه، جهنم، او قبر نه

په کامیابی پاڅیده. د انجیل شریف د خوشحالی زیری دغه دی چې عیسی راغی تر څو پوری د ټولو عالمونو خلاصونکی وی. کله چې عیسی پیدا شو فرښتو شپنو ته وویل:

لوقا ۲: ۱۰- ۱۱ .... ویریږی مه! ما تاسو ته یو زیری راوړی دی چې د خلکو لپاره به یوه لویه خوشحالی وی، چې نن د داود په ښار کې ستاسو خلاصونکی پیدا شوی دی چې هغه مسیح مالک دی!

## د عیسی نوم

د عیسی د نوم معنی دا ده "یهوه خلاصونکی به وی" او یا "خلاصونکی" پلار، خدای دا نوم د خپل زوی لپاره خوښ کړ. خدای فرښته راولیږله چې تر څو یوسف یعنی د هغه تش په نوم پلار ته دا ووائی چې مریم د هغه ماشوم نوم چې پیدا کیدونکی دی څه کیږدی او په همدې ډول د عیسی نوم هغوی ته دا وښوده چې هغه څوک دی او څرنګه پیدا شوی دی. هغه د خدای زوی وو چې مځکی ته راغلی ؤ تر څو مونږ ګناه له منګولو څخه خلاص کړی.

متی ۱: ۲۱ فربنتی وویل: د هغی به زوی وشی او ته پرې عیسی نوم کیږده، ولی چې هغه به خپل امت د ګناهونو نه خلاصوی.

## متی ۱: ۲۱ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړئ.

کله چې تاسو د عیسی نوم وینی او اورئ نو د هغه د خوشحالی زیری په یاد راوړی. یهوه ابدی او ازلی خدای به خلاصون درکړی. دغه هغه وعده ده چې کله مونږ د پلار په دربار کې د عیسی په نوم دعا کوو نو په ژبه ئې بیانوو. د عیسی خلاصونکی عبادت په سندرو او سرودونو سره وکړئ. هغه یواځی د بشر خلاصونکی دی. هغه، هغه څوک دی چې پلار راولیږه تر څو مونږ ته نجات راکړی. پطروس او یوحنا د عیسی د نوم په قدرت کې یوه شل سړی ته شفا ور کړه.
اعمال ۳: ۱۲، ۴: ۱۲.... د عیسی د نوم په قوت ورله مضبوطی ورکړی شوه او د هغه په نوم د ایمان په وسیله جک جوړ شو. د بل هیچا په وسیله خلاصون نشته ځکه

چې په ټوله دنیا کې بل نوم هیڅا ته نه دی ورکړای شوی چې په هغې مونږ خلاصون ومومو.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۱- د عیسی نوم څه معنی لری؟
۲- چا دغه نوم عیسی ته خوښ کړ؟
الف) یوسف.
ب) جبرائیل فرښتی.
ج).خدای پلار.
۳- پطروس د اعمالو ۳: ۱۲، ۴: ۱۲ نه
الف) د عیسی د نوم پواسطه د شفا ورکولو په باره کې خبری وکړی.
ب) د عیسی د نوم پوسیله ئې د خلاصون په باره کې خبری وکړی.
ج). د عیسی د نوم پوسیله ئې د قیام په باره کې خبری وکړی.
۴- فکر وکړئ: د عیسی نوم ستاسو لپاره څه معنی لری؟ کله چې د عیسی په نوم دعا کوی څه احساس درته پیدا

کیږي؟ په عبادت کې د هغه نوم په آرامی سره بیان کړئ.
فکر وکړئ چې هغه څوک دی او د هغه نوم ستاسو لپاره څه معنی لري.

**۵**- مخکې له دې نه چې د دې لوست پاتی برخه مطالعه کړی، د خلاصونکی د پیشګوئی او قربانۍ برخه د دوهم ځل لپاره ولولئ.

## د خلاصون حقیقت او ماهیت

د "خلاصون" کلمه په مقدس کتاب کې د معنی نه ډکه کلمه ده. خلاصون یعنی خلاصول د خطره آزادول د قیدونو نه او د غلامی نه خلاصول په امنیت کې ځای ورکول او شفا ورکولو څخه عبارت دی. عیسی یعنی زمونږ خلاصونکی، مونږ د شیطان د قدرت نه آزادوی او د ګناه له قیدونو څخه ئې آزاد کړو، زمونږ د ګناهونو په ځای هغه زمونږ سزا وزغمله او مونږ ته ئې امن راکړی دی. او زمونږ روح ته شفا وربخښی. عیسی د دې لپاره راغی چې ته د ور کیدو د ژوند د خطرو نه او د خدای سره د جدائی نه خلاصون راکړی. ګناه مونږ بیخی له خدای څخه جدا کړی یو. مونږ خپله لاره ورکه کړیده او سرګردانه یو، په تیاره کې او بې مقصده ژوند کوو چې منزل ته نه رسیږی. بې له خدای نه به

مرګ په موږ باندې تر ابده پوري حکومت کاوو. مګر عیسی د دې لپاره راغی تر څو موږ ته خلاصون راکړي، او بیا مو د خدای حضور ته ور نږدې کړي. یواځې هغه دی چې موږ ئې د ژوند صحیح لارو ته متوجه کړي یو، او د خپل حضور نور موږ ته رابخښي او زموږ ژوند ته معنی او مفهوم ورکوي. زموږ ویره له منځه وړي، د هغه پر ځای خوشحالي او آرامي راکوي او هغه هلاکت چې همیشه ئې موږ ګرفتار کړي یو او ویروي مو، موږ د هغې څخه آزادوي او موږ د خپل ابدي کور لپاره رهنمائي کوي.

عیسی وویل:

لوقا ۱۹ : ۱۰ او ابن آدم دې له راغلی دی چې ورک شوي ولټوي او بچ ئې کړي.

عیسی دې لپاره راغی تر څو موږ ته زموږ د ګناهونو او خطاګانو د سزا نه خلاصون راکړي. موږ ټولو د خدای د حکمونو څخه سر کشي کړیده او د خدای څخه د ابدي جدائي سزا سره مخامخ یو. مګر عیسی زموږ د ګناهونو سزا پخپله غاړه واخسته او زموږ په ځای ئې په داوطلبی سره د مرګ سزا وڅکله تر څو په دې سبب وکولای شو چې د خدای نه د بخښنی حق تر لاسه کړو.

حفظ ئې کړئ

رومیان ۶: ۲۳ ځکه چې د ګناه بدل مرګ دی خو د خدای بخښنه زمونږ په مالک عیسی مسیح کې د تل ژوندون دی.

رومیان ۶: ۲۳ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړئ.

عیسی د دې لپاره راغی چې مونږ د ګناه او شیطان له قدرت څخه خلاص کړی هغه مونږ د خود عرضی او سر کشی او د ګناه د ککړیدو څخه آزادوی او د خدای د زامنو نوم رابخښی. د وسوسو قدرت ئې په مونږ له منځه ویوړ او مونږ ئې د بدو عادتونو له منګولو څخه چې زمونږ جسم او روح ئې تر تاثیر لاندې کړی وو آزاد کړو. یوائی د عیسی په وسیله د شیطان د حملو څخه بچ شوی یو. د عیسی سره د ژوند کولو په وجه زمونږ جنګ د شیطان سره نه ختمیږی، مګر په دې جنګ کې هغه مونږ ته په شیطان باندې کامیابی راکوی.
رومیان ۶: ۲۲ خو اوس تاسو د ګناه د غلامۍ نه آزاد یی او د خدای غلامان یی.

حفظ ئې کړئ

دویم کورنتیان ۵: ۱۷ د دې لپاره که څوک په مسیح کې وی نو هغه نوی مخلوق دی، زاړهٔ څیزونه تیر شول، وګورئ هغه اوس نوی شول.

## دویم کورنتیان ۵: ۱۷ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړئ.

عیسی د دې لپاره راغلی دی چې مونږ د ګناه له اثر او تر دې چې د هغې د حضور څخه هم خلاصون راکړی. هغه زمونږ جسم او روح سلامتی رابخښی او یوه ورځ به مونږ ته نوی بدن راکړی، چې هیڅ چیری په ناروغتیا په هغې کې لاره نه کوی. هغه اوس په آسمان کې زمونږ لپاره د کور په جوړولو لګیا دی. تر څو هغه چا ته چې ئې د ګناهونو نه خلاصون ورکړی هغوی ته، په هغه کورونو کې ځای ورکړی کله چې مرو او یا کوم وخت چې عیسی زمونږ لپاره مځکی ته راځی مونږ به هغه کورونو ته ځان سره بوځی. یوه ورځ به د مځکی په مخ حکومت جوړ کړی او هغه به د ګناه نه پاکه کړی. تر دې پوری چې طبیعت به هم د ناپاکی نه او نابودی

نه آزاد شي. هغه وخت به هر څه کامل وي څه يو عظيم خلاصون!

مکاشفه ۲۱: ۳- ۴.... ګورئ! اوس خدای د بنی آدمو په مينځ کې استوګنه کوي، هغه به د هغوی سره اوسيږي او هغوی به د هغهٔ امت وي او خدای به په خپله د هغوی سره وي. هغه به د هغوی د سترګو ټولي اوښکې وچې کړي، هلته به نه مرګ، نه ويره، نه ژړا او نه دړد وي ځکه چې وړومبی څيزونه تير شوي دي.

## ستاسو کار

### هغه چې بايد تاسو يې سرته ورسوئ

۷- که چيری غواړی د دې لاندی شيانو ځينی خلاص شی نو هماغه جمله په نښه کړئ.

ستاسی په ځان او طبيعت کې د ګناه قدرت

| | |
|---|---|
| د خدای نه جدائې | ورک شوی |
| غلطی | د ګناه جزا |
| د شيطان قدرت | د ګناه اثر |
| د ګناه شتوالی | |

آیا تاسو هغه خلاصون چې عیسی په دې باره کې ورکولای شی قبلوی؟ که چیری ستاسو جواب مثبت وی نو دا ووایی چې "عیسی ستا ډیر شکر ګذار یم" او که چیری په دې هکله ستاسو جواب منفی وی نو په دې موضوع هغه سره خبری وکړئ.

## د خدای وری

د "خدای د وری" عنوان عیسی ته خاص د هغه د وظیفی په اساس د دنیا د خلاصون لپاره ورکړ شویدی.

## د وری قربانی

د دې نه مخکې چې عیسی خپل عام خدمت شروع کړی، نو یحیی بپتسمه ورکوونکی هغه خلکو ته داسی معرفی کړ:
یوحنا ۱: **۲۹** .... وګورئ! د خدای ګډوری چې د دنیا ګناه په ځان وړی!
چا چې د یحیی دا خبری واوریدی یواځی په یو شکل کولای شی چې د هغوی تشریح او تفسیر وکړی. وری د قربانی په

عنوان د ګناه د منځه وړلو لپاره قرباني کيده. ګناه ګارانو د خدای په حضور کې په خپلو ګناهونو او خطاګانو باندې اقرار کاوه او د هغه څخه ئې دا آرزو درلوده چې د ورى مرګ د هغوی په ځای قبول کړی. عیسی هغه ګډوری ؤ چې خدای راولیږه تر څو د ګناه ګارانو لپاره مړ شی: د خدای وری چې د دنیا ګناه په ځان وړی. یشعیاه نبی د دې په هکله چې څنګه خدای وعده شوی مسیح زمونږ د ګناهونو لپاره د وری په ځای قبلوی ډیر شیان لیکلی دي. په هغه د دروغو تهمتونه ولګول شول او د یو ګناه ګار په صفت د مرګ منګولو ته سپارل کیده. زمونږ د ګناهونو سزا یې په خپله غاړه واخیسته او زمونږ په ځای به مړ شی تر څو په دې توګه له ګناه نه آزاد شو. بیا به ژوندی شی تر څو د خپل قربانی نتیجه ووینی او خوشحاله شی. هغه ټول شیان چې یشعیاه نبی ویلی ؤ هغه په مسیح باندې تیر شو.

یشعیاه **۵۳**: ۳- ۱۲ مونږ هغه خوار وګاڼه او رد مو کړ، مګر هغه درد او رنځ وزغملو. مونږ ټولو د هغه نه مخ واړولو. هغه خوار شو او مونږ هیڅ اهمیت ور نه کړ. دغه زمونږ دردونه وو چې هغه په خپل ځان اخیستی وه، دغه زمونږ رنځونه وو چې هغه په خپل ځان تیرول، مګر مونږ دا ګمان کاوه چې دا دردونه او رنځونه هغه سزا ده چې خدای په هغه باندې نازل کړیده. زمونږ د ګناهونو په وجه هغه

زخمي شو او زمونږ د شرارت په وجه هغه ووهلی شو. هغه ته سزا ورکړای شوه تر څو مونږ کامله سلامتي ولرو. د هغه د زخمونو نه مونږ شفا وموندله. مونږ هم د هغه ګډورو په شان چې ورک شوي وي ګمراه شوي ؤو، د خدای لار مو پرېښې وه او په خپلو لارو روان ؤو. د دې هر څه سره خدای زمونږ د ګناهونو سزا ګانې هغه پسې حساب کړلې!
د هغه سره ئې په بې رحمي سره رفتار وکړ، مګر هغه د وزغمل او خپله ژبه یې پرا نه نسته. هغه ئې لکه د پسه حلالولو ته بوتلو، هغه لکه د ګډوری چې وړئ تراشونکی په مخکې چپ وي، هيڅ خبره ئې ونه کړه. په ناجايزه ئې هغه په مرګ باندې محکوم کړ او مړ ئې کړ. مګر خلک پوه نشول چې هغه د هغوی د ګناهونو لپاره وو چې بايد مړ شي، هو، هغه د خلکو په ځای سزا وزغمله. کله چې ئې غوښتل، هغه د خطاکارانو سره ښخ کړي شو خو هغه ئې د يو دولتمند سړي په قبر کې کيښود، مګر هغه هيڅ خطا نه وه کړې او د هغه له خولې هيڅ يوه خرابه خبره هم نه وه وتلې.
خدای ویلي دي: دا زما رضا وه چې هغه رنځ تير کړي او مړ شي. هغه خپل ځان قرباني کړ تر څو د ګناهونو څخه د معافي زيري ځان سره راوړي. سره د دې به د ډيرو بچو خاوند شي. هغه به ژوند د سره شروع کړي. او زما اراده به د

هغه په وسیله سر ته ورسیږی. کله چې وویني، هغه کوم عذاب تیر کړ او کومه میوه ئې نیولی ده، راضی او خوشحاله به شی. زما عادل خدمت کوونکی به د ډیرو د ګناهونو پنډ په خپلو اوږو واخلی او زه به د هغه په خاطر د هغوی ګناهونه هغوی ته وبخښم. هغه ته به لوی مقام او لوی قدرت ورکړم، ځکه چې هغه خپل ځان قربانی کړ، د خطاکارانو د جملی نه حساب شو، د ډیرو د ګناهونو بار ئې په خپلو اوږو واخیست او د خطاکارانو لپاره ئې شفاعت وکړ.

څلور واړه انجیلونه مونږ ته وایی چې عیسی څنګه زمونږ لپاره مړ شو. مذهبی مشرانو نه غوښتل چې هغه د وعده شوی مسیح په حیث قبول کړی. د هغه سره ئې کینه وکړه او حتی دا چې هغه ئې مړ کړ. د حاکم په مخکې یې په هغه تهمت ولګاوه او داسی ګواهان ئې پیدا کړل چې په هغه باندې د دروغو شاهدی ورکړی. د روم حاکم پیلاطوس په دې پوهیده چې عیسی بې ګناه دی مګر سره د دې چې د مذهبی مشرانو او ګڼو خلکو د شور په وجه یې د هغوی خواست قبول کړ او هغوی ته ئې مثبت جواب ورکړ. عیسی په صلیب شو او د هغه لاسونه او پښی د لرګی په صلیب باندې میخ کړای شوی. دا هغه سزا ګانی وی چې د ډیرو خرابو خلکو لپاره تعین شوی وی. هغه د دوو غلو په منځ

کې په یوی غونډی چې نوم یې ګلګته دی په صلیب شو. په هغه ځای کې د خدای وری خپل ځان زمونږ د ګناهونو لپاره قربان کړ.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یې سرته ورسوئ

۸- د عیسی د نوم کوم یو عنوان دا ښکاره کوی چې هغه باید د خلکو د خلاصون لپاره د ګناه د منګولو څخه مړ شی؟
۹- کوم نبی د مسیح د قربانۍ په باره کې چې څرنګه به هغه زمونږ د ګناهونو په لار کې قربانی شی خبری کړی دی؟ د هغه د کتاب په کوم باب کې؟
۱۰- عیسی په کومه طریقه مړ شو؟
۱۱- د هغهٔ د مړینی د ځای نوم واخلئ؟
۱۲- د کوم ډول خلکو لپاره دا رنګ وژنه رواج وه؟
۱۳- د یشعیاه **۵۳** باب د هغو متنونو لاندی چې په تاسو پوری مربوط وی خط راکاږئ.

د وری په مقابل کې سلوک د عیسی په مقابل کې د هغو خلکو رفتار او سلوک چې د ګلګته په غونډی کې ئې درلود ، کولای شو چې د هغی نه ټولی نړی رفتار او سلوک مطالعه کړو. ځینی خلکو په بیزاره سترګو سره هغه ته کتل او ځینو ورپوری ملنډی کولی او هغه څه چې به ئې ویل دوی به ټوقی ګڼلی. ځینی خلک په بل فکر کې وو، د هغه د جامو د تښتولو لپاره ئې فکر کاوه. هر کله چې مړ شی او بې له کوم ځنډ څخه ئې ونیسی. ځینی خلکو په نا امید سترګو سره ورته کتل. ځینو د ایمان په رڼا سره، امید او محبت ولید.

په هغه غونډی درې صلیبونه ودرول شول: دری سړی په هغه ورځ په ګلګتا کې مړه شول. د هغو په سلوک کې کیدای شی چې د خپل سلوک او رفتار څرنګوالی پیدا کړو.

لوقا ۲۳: ۳۳- ۳۴، ۳۹- ۴۳ او کله چې هغوی کپرئ نومې ځای ته ورسیدل نو هغه ئې هلته په سولئ کړو او بدمعاشان هم ورسره چې یو ئې ښی لاس او بل ئې په ګس لاس وو. عیسی وویل، پلاره! دوئ معاف کړه! ځکه چې هغوی نه پوهیږی چې څه کوی د بدمعاشانو نه یو چې هلته ځوړند وو عیسی ته پیغور ورکړو، ولی تهٔ مسیح نه یئ څه؟ نو بیا خپل ځان او مونږ هم بچ کړه! خو دویم هغه ورټلو او

ورته ئې وویل چې ته د خدای نه نه ویرېږې څه؟ تا ته هم د دغه په شان سزا درکړې کېږي زمونږ سره خو انصاف شوی دی. مونږ خو د خپل عمل بدل بیا موندو، ولی دې سړی خو هیڅ بد کار نه دی کړی. او هغه وویل ای عیسی! هر کله چې ته خپلی بادشاهۍ ته راشی نو ما یاد کړه!

عیسی جواب ورکړو، زه تا ته دا رښتیا وایم چې ته به نن ما سره په جنت کې یې.

مونږ که چیری وغواړو چې دا مصلوب شوی کسان په خپلو خبرو کې راولو، نو داسی به ووایو: (۱) سرکشی (۲) فدیه (۳) توبه. اول انسان په ګناه کې مری. دوهم د خدای وری د ګناه لپاره مری. او دریم ګناه ګار د ګناه په وجه مری.

## سرکشی

په صلیب باندې اول سرکشه سړی څوړند وو چې په خپله ګناه کې مری. خپل ټول عمر ئې په غلطو کارونو سره تباه کړی وو، او د دنیا ژوند د هغه زړۀ تریخ او سخت کړی ؤ. اوس د وروستی ماتی په وجه د مرګ سره مخامخ کیده. په هغه ځای کې د هغه په خوا کې یو کس وو چې مرسته ورسره وکړی که چیری هغه ایمان درلود. هغه د خدای په حضور کې وو مګر سرکشی ئې زړه او سترګې ړندې کړی

چې تر څو چې حقیقت ونه وینی. خو هغه د خلاصونکی په خوا کې د نا امیدی، تریخوالی او د نفرت نه ډک روح سره مړ شو.

## فدیه

عیسی مسیح په منځنی صلیب باندې زمونږ د ګناه لپاره مړ شو تر څو مونږ ته خلاصون راکړی. شیطان مونږ غلولی یو، او زمونږ ځان ئې غلا کړی دی او خپل غلامان ئې ګرځولی یو. زمونږ د دې غلامۍ نه د آزادیدو لپاره قیمت صرف د خدای د زوی مرګ وو. کله چې هغه زمونږ په ځای مړ شو، مونږ ئې د شیطان د قدرت نه آزاد کړو، په قیمت سره ئې بیا واخیستو، او مونږ ئې د خپل ځان کړو.
اول پطروس ۱: ۱۸- ۱۹ ځکه چې تاسو خبر یئ چې ستاسو فضول چال چلن چې د پلار نیکه نه مو موندلی دی د هغې نه ستاسو خلاصون د فانی څیزونو، یعنی سرو یا سپینو زرو په وسیله ونه شو، بلکه د یو روغ رمټ او بې داغه ګډوری، یعنی د مسیح د قیمتی وینی په وسیله.

# توبه

په دريم صليب باندې ګناه ګار د خپلو ګناهونو په وجه مړ
شو او په مسيح باندې د ايمان راوړلو په وسيله تر ابده
پورې ورنه خلاص شو. دغه سړی دې ته حاضر ؤ چې د خپل
ځان او حقيقت سره مخامخ شي. هغه په خپلو بدو عملو
اقرار وکړو او عيسی ئې د خلاصونکی او وعده شوی
مسيح په حيث قبول کړو او ايمان ئې راوړ. عيسی د مرګ
په حال کې مګر هغه غل چې توبه وکړه ايمان ئې درلود چې
هغه به يوه ورځ په دنيا باندې حکومت وکړی. په همدې
وجه ئې د خلاصوونکی نه دا هيله وکړه چې کله هغه خپلی
بادشاهۍ ته ورسيږی هغه په خپل ياد کې راوړی. (په هغه
رحم وکړی). څه يو ايمان! د عيسی د مرګ څخه مخکې
وروستی کار چې کوم هغه سرته ورساوه، هغه د مرګ په
حال کې د غلۀ د ګناهونو بخښل ؤ او هغه ته ئې د تل ژوند
ورکړ.
هر انسان د خپل رفتار او سلوک د اندازې په اعتبار چې د
خلاصونکی په مقابل کې ئې ښکاره کوی، خپل ابدی ژوند
تعينوی. يو کس په خپل نفرت او سرکشی کې مصروف ؤ،
يوائې هغه کس چې کولای شو چې ده ته خلاصون ورکړی د
هغه خلاصون ئې په ټوقه سره واخيست. او بل کس توبه

وکړه او د هغه شخه ئې د رحمت خواست وکړ. یو جهنم ته لاړ یعنی هغه ځای ته چې د ابدی عذاب لپاره تیار شوی دی. او بل جنت فردوس ته لاړ چې د تل لپاره د خوشحالی او نیکمرغی ځای دی. دغه دوه کسان زمونږ لپاره ښه مثالونه دي. یو سرکش او ورک شوی وو. بل توبه وکړه او خپل ضرورت او احتیاجات ئې په عیسی پوری وتړل، خلاصون ئې حاصل کړ.

تاسو به د دې دوه کسانو نه د کوم یوه لاره تعقیب کړئ؟ د عیسی په ویلو او هغه ته په خپل زړهٔ کې په رښتیا سره په دعوت او تود هر کلی ویلو په وجه به تاسو ابدې ژوند، سوله، بخښنه، او د هغه سره په مکمل طور سره ملګرتیا ولرئ. هغه اوس هم ستاسو تر خوا ولاړ دی.

افسیان ۱: ۷- ۸ لپاره د دې چې د هغه د فضل د جلال ستائنه وی چې مونږ ته ئې په هغه محبوب کې ویړیا راوبخښنه. مونږ ته د مسیح د وینی په وسیله خلاصون، یعنی د ګناهونو معافی، د هغهٔ د هغه فضل د دولت په مطابق حاصله ده، چې هغه په هر جوړ حکمت او پوه په مونږ پریمانه نازله کړه.

اول پطروس ۲: ۲۴- ۲۵ هغه زمونږ ګناهونه سولی ته د خپل ځان سره یوړل د دې لپاره چې مونږ ګناهونو ته مړهٔ شو او د صداقت لپاره ژوند تیروو، او د هغه په زخمونو تاسو

شفا وموندله. ځکه چې ورېومبی تاسو د بې لارې ګډو په شان ګرزیدلئ خو اوس د خپلو روحونو شپونکی او څارونکی ته بیا راغلی یئ.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۱۳- د دریو صلیبونو عنوانونه ولیکئ او د هغه صلیب د لاندې چې ستاسو د موضوع ښکاره کونکی دی، تر خوا ئې خپل نوم ولیکئ.
او پس له دې نه د دې تصویر واقعات او شرح خپلو ملګرو او دوستانو ته بیان کړئ.

# خپل جوابونه مقايسه کړئ

## د اتم درس جوابونه

د دغه درس سوالونه ۱۲ صحيح جوابونه لری. که چيری مو د ۱۱ نه تر ۱۲ پوری صحيح جوابونه ورکړی وی نو ستاسو نمری عالی، د ۹ نه تر ۱۰ پوری ښه او د ۶ نه تر ۸ پوری ستاسو نمری درميانه دي، او که چيری ستاسو جوابونه د ۶ نه هم کم وی نو دا درس بيا مطالعه کړئ.

۱- خلاصوونکی (يا يهوه خلاصونکی).

۲- ج) پلار خدای.

۳- د الف او ب په باره کې.

۷- الف) د خدای وری.

۸- يشعياه ۵۳.

۹- په صليب باندې.

۱۰- ګلګتا.

۱۱- ډير تيت خلک.

۱۲- عنوانونه سرکش، فديه، توبه.

صحيح جوابونه . . . . . . . . . . نمری . . . . . . . . . .

# ۹

# عیسی، قیامت او ژوند

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

پر مرګ باندې د عیسی بریالیتوب

د مړو د ژوندی کولو معجزی.
د هغه د قیام اثبات
د هغه د قیام قدرت.

عیسی او زمونږ قیامت.

د هغه وعده.
د وعدی پر ځای کیدل.

## پر مرګ باندې د عیسی بریالیتوب

عیسی زمونږ د ګناهونو لپاره مړ او بیرته ژوندی شو تر څو مونږ ته ابدی ژوند راوبخښي. دا د مسیحیت زړهٔ دی. د مقدس کتاب لوی حقایق او موضوع ګانی د واحد او رښتینی خدای په کلام او د عیسی د مړو څخه د بیا قیام د واقعیت په دوران څرخیږی. که چیری هغه د مړو نه وای ژوندی شوی د خلاصون ټوله نقشه به ماتی سره مخامخ شوی وای. خو څنګه چې هغه پر مرګ بریالی شو، نو کولای شو نن هغه د ژوندی خدای او د خپل خلاصونکی په نامه وپیژنو.

## د مړو د ژوندی کولو معجزی

عیسی د خپل خدمت په وخت کې په مرګ باندې خپل قدرت ثابت کړ. په مقدس کتاب کې لولو چې هغه دری کسه د مړو نه بیرته راژوندی کړل. یائیر د یوی عبادت خانی مشر، عیسی ته د دې لپاره ورغی تر څو د هغه څخه دا وغواړی چې د هغه لور ته شفا ورکړی. کله چې هغه

عیسی ته ورسیدو، نو هغه ته خبر راغی چې استاذ ته تکلیف مه ورکوه ستا لور مړه شوه.

لوقا ۸: **۵۲، ۵۴- ۵۵** هغوی ټولو د هغې جینۍ لپاره ژړا انګولا کوله. هغه وویل چې نور مه ژاړئ، هغه مړه نۀ ده، هغه خو اوده ده! خو عیسی هغه د لاسه ونیوه او ورته ئې وویل چې پاڅه زما بچۍ! د هغې روح بیرته راغی، هغه سمدستی پاڅیده او هغه هغوی ته وویل چې هغې ته خوړلو له څه ورکړئ.

یوی غم زپلی او ویر جنی ډلی د یوی کونډی د مړۀ زوی په هکله خبری کولی چې عیسی ورباندې پیښ شو. هغه هم د هغې ډلی سره چې د کفن او د ښخولو لپاره راغلی ؤو ودرید.

لوقا ۷: **۱۴- ۱۵** د دې سره هغه ور وړاندې شو او په جنازه ئې لاس کیښودلو او جنازه وړونکی ودریدل بیا هغه وویل چې پورته شه زلیمه! هغه مړی کښیناستو او خبری ئې وکړلی او عیسی هغه خپلی مور ته بیا حواله کړو. لعزر او خویندی ئې مریم او مرته د عیسی د خوږو او نژدی دوستانو نه وو. لعزر مړ او ښخ شو او عیسی د لعزر د ښخیدلو نه څلور ورځی وروسته هلته ورسیده.

یوحنا ۱۱: **۴۳- ۴۴** بیا هغه په اوچت آواز وویل لعزره! راوزه! نو مړ سړی بهر راووتو، د هغه لاس او پښی په کفن

کې تړلی شوی وو او مخ ئې په ټوکی کې نغښتی وو. عیسی وویل، دا را خلاص کړئ او پرې ئې ږدئ چې ځی.
پخپله د عیسی پاڅیدل د مړو نه په مرګ باندې د هغه تر ټولو لوی بری وو. ټول هغه کسان چې عیسی ژوندی کړل تر اوسه پوری ژوندی نه دي. هغه په مرور د وخت مړه کیدل. خو عیسی ژوندی دی ځکه چې د غیر فانی بدن سره د مړو نه را پاڅیدلی دی. څوک چې نور هیڅکله نه مری هغه مرګ ته ماتی ورکړی ده.

## د مړو د ژوندی کولو معجزی.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۱- د هغه دریو کسانو نومونه واخلئ چې عیسی ژوندی کړل؟

۲- د لعزر د ښخیدلو نه څو ورځی تیری وی؟

۳- پر مرګ باندې د عیسی تر ټولو لوی بری کوم وو؟

۴- که عیسی د مړو نه نه وای پاڅیدلای نو د خلاصون پر نقشی به څه شوی وای؟

## د هغه د قیام اثبات

د کوم ځایه پوهیږو چې عیسی د مړو نه راژوندی شو؟ دا یو تاریخی واقعیت دی او تر اوسه په هیڅ ډول نه دی تکذیب شوی او د اثباتیدو څخه ئې نه ده شوی. اوس د دې امر لس اثباتیدو هڅه ئې نه ده شوی. اوس د دې امر لس اثباتی دلایل په لاندې توګه تشریح کوو.

### ۱- د سرتیرو خبر

سرتیرو د قبر ساتنه کوله تر څو څوک د عیسی مړی غلا نه کړی او ونه وایی چې عیسی بیرته راژوندی شوی دی. په دریمه ورځ هغوی فرښتی ولیدلی چې قبر ئې پرانیست او په هماغه شیبه کې ځمکه وخوځیده. هغوی په ویره سره ولیدل چې قبر تش دی. د عیسی مړی هلته نه وو. هغوی په منډه لاړل تر څو د دې واقعی خبر یوسی.

## ۲- تش قبر او کفن

لږ وخت وروسته څو ښځې قبر ته راغلې. د عیسی مړی هلته نه وو. دوو فرښتو هغو ښځو ته وویل چې عیسی ژوندی دی. پطروس او یوحنا قبر خوا ته منډه کړه او هغوی قبر تش وموندہ. د عیسی بدن هلته نه وو خو پر ځای ئې هغه کفن چې عیسی په کې وو په لمړنی حالت هم هغه شان پاتې ؤ. داسې لکه د وریښمو پوکۍ چې د پتنګ د وتلو نه پاتې کیږي. که چیری چا غوښتلای چې د عیسی مړی غلا کړی دومره وخت ئې لګاوه چې کفن پرانیزی او بیرته ئې په دقت بند کړی.

## ۳- د فرښتو پیغام

د قبر تر څنګ فرښتو ښځو ته وویل:
لوقا ۲۴: ۵- ۶ .... ژوندی په مړو کې څله لټوئ؟ هغه دلته نشته، هغه پاڅیدلی دی. تاسو را یادی کړئ هغه خبری چې په ګلیل کې ئې درته کړی وی.

## ۴- د عیسی ښکاره کیدل

اعمال ۱: ۳ هغه د خپل مرګ نه پس په هغو ځان څرګند کړو او د دې پوره ثبوت ئې ورکړو چې هغه ژوندی دی او پوره څلویښت ورځی هغه په هغوی پیښبدو او هغوی ته ئې د خدای د بادشاهۍ په هکله تعلیم ور کاوو.

عیسی په بیلو بیلو طریقو سره دغو کسانو ته خپل ځان وښوده: یو ځو ښځو، مریم مګدلینی، او پطروس ته. د عموآس په لاره کې دوه شاګردانو ته. دوه نورو شاګردانو ته په اورشلیم کې. یوولسو شاګردانو ته په اورشلیم کې. او اوه شاګردانو ته د ګلیل د سیند تر څنګ. پنځه سوه کسانو ته په یو وار په ګلیل کې. یعقوب د عیسی ورور او د عیسی د پورته کیدو په وخت بیت عنیا سره نژدی څو شاګردانو ته. عیسی خپل ځان پس له آسمان د پورته کیدو نه دری کسو ته وښوده او هغوی هغه هلته ولیده: ستیفانوس، لومړنی مسیحی شهید ته، پولوس ته د دمشق په لار کې. او یوحنا ته په مکاشفه کې.

## ۵- د عیسی د بدن طبیعت

هغه رقم بدن چې عیسی درلود دوه خبری ئې ثابتی کړی:
(۱) هغه څه چې ایماندارانو ولیدل، خیال یا روح نه وو، هغه هغوی سره ډوډۍ وخوړه. هغوی هغه لمس کړ. هغه د غوښی او هډوکو څخه رښتینی بدن درلود.
(۲) هغه د بیهوشۍ نه نه وو راویښ شوی او خپل هغه پخوانی بدن سره مړو نه نه وو را ژوندی شوی. هغه د جلال نه ډک بدن درلوده داسی را پاڅیدلی بدی چې نور فزیکی محدودیتونه ئې نه درلودل لکه درد او مرګ ورباندې هیڅ اثر نه شو کولای. هغه د بندو دروازو نه تیریده هغه په خپله خوښه ښکاره کیده او پټیده. او ټولو هغه ولید چې آسمان ته وخوت. د مرګ څخه بیا را پاڅید هغه ته نوی قدرتونه ورکړی وو.

## ۶- د روح القدس بپتسمه ورکول

هغه څه چې د پنتکست په ورځ پیښ شو د هغې وعدی نیغ په نیغه تر سره کیدل وو چې عیسی د راپاڅیدلو نه وروسته

کړې وه. د هغه د روح مدام موجودیت ثابته کړه چې عیسی ژوندی دی.

## ۷- د مسیحیانو شهادتونه

د عیسی پیروان تل په دې حقیقت تاکید کوی چې هغه د مړو نه راپاڅیدلی دی هغوی د هغه څخه د انکار او د مرګ په منځ کې مرګ انتخاب کړیدی. هغوی د یوه دروغجنی دعوی د دفاع په خاطر خپل ځان مرګ ته نه سپاره.

## ۸- د شائول ایمان راوړل

نور ټول عنوانونه باید اصلاح شی. شائول د یهودی شریعت ځوان او بې ساری استاد ؤ. هغه هڅه کوله چې مسیحیت له منځه یوسی. خو د دمشق په لار کې چې د مسیحیانو د نیولو لپاره تلو، نو د عیسی له خوا پخپله ونیول شو. د لمر د رڼا څخه ځلیدونکی رڼا آسمان کې ښکاره شوه د دې رڼا د منځ نه عیسی شائول ته په نوم غږ وکړ او هغه سره ئې خبری وکړې. شائول خپل ځان عیسی ته وسپاره، نو هغه په پولس او تر ټولو نه په ستر رسول او حواری بدل شو.

## ۹- مسیحیت

مسیحی مذهب په دې حقیقت باندې چې عیسی د مړو څخه بیا راژوندی شوی دی، بنا او درول شوی دی.

## ۱۰- عیسی سره اړیکی لرل

د عیسی سره لیدلو زمونږ ژوند بدل کړی دی. مونږ هره ورځ هغه سره خبری کوو. هغه مونږ ته جواب راکوی، لکه څنګه چې یو سرود وایی:
د بیا راژوندی شوی خلاصوونکی خدمت کوم هغه نن دلته حاضر دی، د دې په څنګ کې ته د خپل ځان څخه دا پوښتنه کوی چې څه پوه شوی چې هغه ژوندی دی؟ هغه زما په زړهٔ کې ژوند کوی.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

**۵**- هغه لس عنوانونه چې مونږ اړ باسی چې د عیسی د مړو نه په راژوندی کیدلو ایمان راوړو د فهرست په ډول ولیکئ

۲- فکر وکړئ: د عیسی بدن څنګه داسی وو لکه چې پخوا ئې درلوده؟ د دوی تر منځ فرق څۀ وو؟ آیا تاسو هم غواړی چې جلالی بدن ولرئ؟

## د هغه د راژوندی کیدلو قدرت

عیسی د صلیب په مخ مړ شو خو هم هلته ئې مرګ کې ځنځیر واچاوه. هغه صلیب چې د شرم او سپکاوی نښه وه د خلاصون، قدرت او بری په نښی ئې تبدیل کړ. د عیسی بدن په قبر کې کیښودل شو خو قبر ونه شو کړای چې هغه ځان کې وساتی. هغه مرګ ته ماتی ورکړه او بیا راپاڅیده او وئې غوښتل چې په دې بری کې خپل پیروان هم شریک کړی. پولوس د عیسی د پیژندلو په هکله خپلی لیکنی د هغه د راپاڅیدو په قدرت وکړی. دا قدرت څه دی؟

(۱) د دې خبری اثبات چې عیسی څوک دی: څنګه چې هغه د مړو نه راژوندی شو نو پوهیږو چې هغه، هغه څوک دی چې ۆ. یعنی د خدای زوی او د نړئ خلاصونکی.

(۲) د خلاصون اطمینان: څنګه چې عیسی ژوندی شو، نو پوهیږو چې خدای د هغه قربانی چې زمونږ د خلاصون لپاره وه ومنله. هر څوک چې په هغه ایمان راوړی ګناهونه ئې بخښل کیږی.

(۳) د عیسی سره په یووالی کې نوی ژوند: راپاڅیدلی خدای زمونږ د کلیسا سر دی او مونږ ئې بدن یو. هغه تل مونږ سره دی. د هغه ژوند په مونږ کې دی. د هغه قدرت په مونږ کې دی او زمونږ په واسطه کار کوی.
اول پطروس ۱: ۳ زمونږ د مالک عیسی مسیح او د خدای پلار دې ثنا وی، چې د عیسی مسیح د مړو نه د بیا ژوندی کولو په سبب ئې په خپل لوی رحمت سره مونږ د ژوندی امید لپاره بیا پیدا کړو.
(۴) په عیسی کې کامیابی: د عیسی مسیح بیا ژوندی کیدل دا خبره څرګندوی چې هغه شیطان، ګناه او مرګ ته ماتی ورکړې ده. د هغه ضرورت نشته چې د ګناه او وسوسی نه وویریږی یا په عذاب شی. عیسی ستاسو ناکامی په کامیابی بدلوی.
(۵) امید: مسیحیان کولای شی چې د یو امید سره د مرګ سره مخامخ شی. د مسیح بیا ژوندی کیدل مونږ ته په قبر نه اخوا د ښه ژوند امید او ضمانت دی هغه وویل:
یوحنا ۱۴: ۱۸- ۱۹ زه به تاسو یتمان نه پریږدم، زه تاسو ته بیرته راځم. لږ ساعت پس به دنیا بیا ما نه وینی خو تاسو به مې وینئ. ځکه چې زه ژوندی یم نو تاسو په هم ژوندی یئ.

(۲) پاڅیدل: د عیسی په پیژندلو او د هغه د راپاڅیدلو په قدرت کې دا هم شامل دي چې د هغه سره به راپاڅیږو او د هغه په شان بدن به لرو لکه څنګه چې هغه درلوده.
اول کورنتیان **۱۵: ۲۰** خو په حقیقت کې مسیح راژوندی شوی وو. داسی هغه په مړو کې اولنی ژوندی شوی سړی دی.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۷- د هغو شپږو شیانو نوم واخلئ چې د عیسی د راپاڅیدلو په مرسته ئې مونږ تر لاسه کوو. د هغه څه لاندې چې تاسو ته تجربه شوی خط وکاږئ.
۸- د عیسی د راپاڅیدلو د طاقت د پیژندنی د امتیاز په خاطر د خدای شکر پر ځای کړئ.

# عیسی او زمونږ راپاڅیدل

## د هغه وعده

د لعزر د ژوندی کولو نه مخکې عیسی وویل:
یوحنا ۱۱: **۲۵- ۲۶** زه قیامت یم او زه ژوندون یم. که څوک په ما ایمان لری هغه مړ هم شی نو هغه به بیا ژوندی وی. او که هغه څوک چې ژوندی دی او په ما ایمان لری هغه به هیڅ کله هم مړ نه شی. آیا ستا په دې ایمان دی څه؟

## حفظ ئې کړئ

**یوحنا ۱۱: ۲۵- ۲۶ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړئ.**

کله چې عیسی د هغه قبر لور ته چې خوله ئې پرانیستی وه غږ کړ: لعزره راووزه! لعزر جوړ تیار راووت. یوه ورځ به عیسی ځمکی ته راستون شی. د هغه د غږ سره به بدنونه چې د اوږدو مودو لپاره خاوری او ایری شوی نوی ژوند تر لاسه کړی، لکه بوټی چې د تخم نه راټوکیږی. مونږ به عالی

او نوی او بلکل نه فنا کیدونکی او د جلال نه ډک بدنونه ولرو.

یوحنا **۵**: **۲۴**، **۲۲**، **۲۸**- **۲۹** رښتیا رښتیا تاسو ته وایم، کوم سړی چې زما خبرو ته غوږ ږدی او په هغه چا باور لری چې زه ئې را استولی یم هغه تل عمری ژوندون لری او په هغه به د سزا حکم ونه شی ځکه چې هغه د مخکې نه د مرګ نه ژوندون ته اوړیدلی دی. ځکه چې څه رنګ چې پلار د تل ژوندون لری دغه شان ئې زوی له هم د تل ژوندون اختیار ورکړی دی چې د تل ژوندون ولری. په دې خیرانیږئ مه ځکه چې یو داسی وخت راتلونکی دی چې هغه ټول څوک چې په قبرونو کې دي به د ده آواز آوری او چا چې نیکی کړی وی هغوی به د تل ژوندون لپاره او چا چې بد کړی وی هغوی به د سزا لپاره راپورته کړی شی. ستاسو د ښار هدیره تاسو ته پیغام لری. د ځینو لپاره دا پیغام د خپګان څخه ډک او نا امیده کوونکی دی. قبرونه مونږ ته دا راښیی چې یوه ورځ ضرور مرو. کله چې دنیا ته راتلو نو څه مو نه درلودل او چې ور نه ځو هم څه به نه لرو. خو ټوله خبره په هم دې نه ختمیږی. یاد لری چې د عیسی قبر تش دی. که چیری هغه ستاسو خلاصوونکی وی نو د هغه راپاڅیدلو لپاره یو تضمین دی. کیدای شی چې ستاسی جسم ومری خو روح مو هیڅکله نه مری. تر دې چې ستاسو جسم بیرته

خاورو ته هم لاړ شی خو عیسی به هغه بیرته ژوند ته راستون کړی. هغه قیامت او ژوند دی.

## ستاسو کار

### هغه چې باید تاسو یی سرته ورسوئ

۹- د راپاڅیدلو تر ټولو مطمین تضمین څه دی؟
الف) په طبیعت کې د ژوند رامنځته کول.
ب) د مرګ نه وروسته په ژوند باندې ایمان.
ج) د عیسی راپاڅیدل او وعده.
۱۰- په یوحنا ۱۱: **۲۵** کې عیسی خپل ځان څنګه معرفی کوی؟

### د وعدی پر ځای کیدل

مخکی له دې چې عیسی آسمان کې خپل کور ته لاړ شی وعده ئې وکړه چې د خپلو پیروانو په خاطر به بیرته راشی.

یوحنا ۱۴: ۳ او که هلته زه لاړ شم. او تاسو ته ځای تیار کړم
نو په خپله به بیا راشم او تاسو به د ځان سره بوځم ځکه چې
چیرته چې زه یم هلته به تاسو هم یئ.
څلویښت ورځی د عیسی د راپاڅیدلو نه وروسته، د هغه
پیروان آسمان ته د هغه د خپلو شاهدان وو. وروسته د هغې
نه دوه فرښتی د دې پیغام سره دوی ته راغلی.
اعمال ۱: ۱۱ ... ای ګلیلیانو! تاسو دلته څه له آسمان پلو
ځیر ځیر ګورئ؟ دغه عیسی څوک چې ستاسو نه آسمان ته
بوتلی شو، هم په دغه لار به بیا راځی په کومه چې تاسو د
تلو په وخت ولیدلو.
خدای پولوس ته د عیسی د راستنیدو په وخت کې د
کیدونکی قیامت ډیر جزئیات ښکاره کړی دي. یوحنا هم
په دې هکله څه نا څه لیکلی دي.
اول کورنتیان ۱۵: ۳۷- ۳۸، ۴۲- ۴۴، ۵۱- ۵۴، ۵۸ او
څه چې ته کری هغه د وجود نه دی چې پیدا کیدونکی دی
بلکه صرف دا نه ده که هغه د غنم وی یا د څه بل څیز. خو
خدای چې څنګه اراده وکړی هم هغه شان هغه ته وجود
ورکوی او هر تخم ته خپل خاص وجود. د مړو راژوندی
کیدل هم دغسی دي، د فنا په حالت کې ښخولی شی او د
بقا په حالت کې راژوندی کیږی. د بې عزتئ په حالت کې
ښخولی شی او د جلال په حالت کې راژوندی کیږی، په

کمزورتیا کې ښخولی شی او په طاقت کې راژوندی شی.
جسمانی وجود ښخولی شی او روحانی وجود راژوندی کیږی. هر کله چې نفسانی وجود شته نو روحانی وجود هم شته. ګورئ زه به درته یوه د راز خبره کوم چې زمونږ ټول خو به نه مرو بلکه مونږ ټول به بدل شو، د سترګی په یو رپ کې چې ورستی بګل وغږیږی او د بګل د آواز سره به مړی په غیر فانی حالت کې راژوندی شی، او مونږ به بدل شو. ځکه چې ضروری دي چې دا مړ کیدونکی جسم دې غیر فانی جامی واغوندي او دا مړ کیدونکی جسم دې د آبدی ژوندون جامی واچوی او هر کله چې دا فانی جسم غیر فانی، او دا مړ کیدونکی جسم آبدی جامی واچوی، نو هغه قول به پوره شی چې لیدلی شوی دي چې: مرګ ختم کړی شو، فتح وکړای شوه!
نو ای زما خوږو وروڼو! ټینګ او قایم اوسئ او همیشه د مالک په کار کې بوخت اوسئ، ځکه چې تاسو خبر یئ چې په مالک کې ستاسو خواری بې فایدی نه ده.
فیلپیان ۳: ۲۰- ۲۱ خو مونږ د آسمان اوسیدونکی یو او د آسمان نه مونږ د خلاصونکی مالک عیسی مسیح په ډیر انتظار کې یو، چې راشی. هغه به د خپل هغه قوت په وسیله په کوم چې هغه ټول څیزونه خپل تابع کولی شی،

زمونږ د بدن فاني شکل به بدل کړي او خپل جلال د صورت
په شان به ئې جوړ کړي.
اول یوحنا ۳: ۲- ۳ خوږو دوستانو! مونږ اوس هم د خدای
بچي یو خو په دې نه پوهیږو چې څنګه به شو، خو مونږ په
دې پوهیږو چې هر کله چې عیسی راښکاره شي نو مونږ به
د هغه په شان شو ځکه چې مونږ به ئې هم په هغه شان وینو
څنګه چې هغه دی. هر څوک چې په مسیح دا امید لري،
هغه ځان داسې پاک ساتي لکه چې مسیح پاک دی.
اول تسالونیکیان ۴: ۱۲- ۱۸ ځکه چې مالک به په خپله د
آسمان نه د چغې او د مقربې فرښتې د آواز، او د خدای د
بګل د آواز سره راکوزیږي، او اول به هغه څوک چې په
مسیح کې مړۀ شوي دي راژوندي شي او بیا به مونږ څوک
چې ژوندي پاتې یو، د هغوی سره په وریځو کې پورته کړای
شو د دې لپاره چې په هوا کې د مالک استقبال وکړو، او
دغه شان به د مالک سره تل تر تله اوسو. نو تاسو په دې
خبرو یو بل له تسلي ورکوئ.

## ستاسو کار
### هغه څه چې باید تاسو یې سر ته ورسوی

۱۱- زمونږ پاڅیدل به کله وی؟
۱۲- اول یوحنا ۳: ۳ زمونږ د تیارۍ لپاره کوم وړاندیز کوی؟
۱۳- د مقدس کتاب د هغو متنونو لاندې چې ستاسی حالت په ډیره ښه توګه بیانوی خط وکاږئ.

# خپل جوابونه مقایسه کړئ

## ۹- درس جوابونه

د دې درس سوالونه **۲۵** صحیح جوابونه لری **۲۳** نه تر **۲۵** پوری صحیح جوابونه عالی نمری لری، د **۱۹** ته تر **۲۲** پوری ښه او د **۱۳** نه تر **۱۸** پوری درمیانه، او که چیری ستاسو صحیح جوابونه د **۱۳** نه کم وی نو دا درس بیا مطالعه کړئ.

**۱**- د یائیر لور، د کونډې زوی،لعزر.

**۲**- څلور ورځی.

**۳**- د مړو څخه د هغه خپله راپاڅیدل.

**۴**- د ماتی سره مخامخ کیده.

**۵**- د سرتیزو خبر، تش قبر، د فرښتو پیغام، د عیسی ظاهریدل، د عیسی د بدن طبیعت په روح القدس کې بپتسمه، د مسیحیانو شهادتونه، د پولوس ایمان راوړل، مسیحیت، د عیسی سره رابطه لرل.

**۷**- د دې اثبات چې عیسی څوک دی، د خلاصون اطمینان، د عیسی سره په یوالی کې نوی ژوند، په عیسی کې کامیابی، امید، قیامت.

۹- ج) د عیسی راپاڅیدل او وعده.

۱۰- قیامت او ژوند.

۱۲- کله چې عیسی بیرته راشي.

۱۳- خپل ځان پاک وساتئ.

صحیح جوابونه............... نمرې...........

# ۱۰

# عیسی، مالک

## هغه موضوع ګانی چې تاسو به ئې په دې درس کې مطالعه کړئ

د مالک په عنوان اقتدار.

د اقتدار عنوان.
د اقتدار منبه.

د مالک په توګه پیژندل.

د کلیسا سر.
د پادشاهانو پادشاه او د مالکانو مالک.

## د مالک په عنوان اقتدار.

آیا په عیسی باندې د خپل مالک په توګه چې د مرګ نه راپورته شوی دی ایمان لرئ؟ دا خبره د ډیر اهمیت نه ډکه ده. ستاسو روحانی ژوند په همدې باندې ولاړ دی.

**حفظ ئې کړئ:**

رومیان ۱۰: ۹ ځکه که ستا په خولۀ دا اقرار وی چې عیسی مالک دی او په زړۀ کې دې دا ایمان وی چې خدای هغه د مړو نه راپاڅولو، نو ته به خلاصون بیامومې.

**رومیان ۱۰: ۹ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړئ.**

## د اقتدار عنوان.

کله چې خلک عیسی ته مالک وائی مطلب ئې څه وی؟ پولوس رسول ولی دا نوم د ۲۰۰ ځله نه ډیر استعمالوی؟ مقصد ئې د دې نه څه دی چې وائی د خلاصون لپاره باید

په عیسی "مالک" ایمان راوړئ؟ ولی خدای وایی چې هره ژبه به اقرار وکړي چې مسیح مالک دی؟

"کوریوس" یونانی لغت چې په مقدس کتاب کې "مالک" ترجمه شوی دی، دا د اقتدار لپاره یو عنوان دی. پولوس د دې لپاره چې هغه ته احترام ورکړي د دې عنوان څخه ئې کار واخیست. په ساده توګه کولای شو چې دا د "ښاغلی" برابر وګڼو. د کورنۍ مشر په حقیقت کې صاحب یا د کور مالک وو. غلامانو خپل اربابان صاحبان یا "مالکان" بلل. د لاس لاندی خلکو خپل حاکمان د خپل مالک "صاحب" په توګه پیژندل.

"کوریوس" یو داسی عنوان هم وو چې د ډیرو مذهبونو د خدایانو د نمانځنی لپاره استعمالیده. بلکل هماغه شان چې د رښتینی واحد خدای یهوه لپاره استعمالیږی. په دې ځای کې مقدس کتاب د مالک نوم هم پلار خدای ته او هم ئې زوی عیسی مسیح ته استعمالوی. عیسی ته مالک ویل په حقیقت کې د پلار سره د هغه یوالی د هغه اقتدار او قدرت په کائناتو او زمونږ په ژوند باندې د هغه د حکومت حق د هغه د الوهیت پیژندل دي. څنګه چې عیسی زمونږ مالک دی، نو د هغه د دستورونو غوښتونکی کیږو او د هغه تعلیم تر لاسه کوو. په دعا کې هر څه هغه ته ورسپارو. د هغه کلام زمونږ د ژوند د هری ورځی لارښود دی. په کار

نه دی چې د کوم څۀ په هکله تشویش ولرو ټول قدرت زمونږ د خدای په لاس کې دی او هغه په هر څه پوهیږی او مونږ سره مینه کوی. یواځینی کار چې باید ویی کړو دا دی چې په هغه باور ولرو او د هغه پیروی وکړو.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۱- "مالک" یو عنوان دی چې د دې شی د بیان او تشریح لپاره په کاریږی:

الف) د اقتدار د پیژندنی لپاره.

ب) د برابرۍ د پیژنی لپاره.

ج) د معاشرت لپاره.

۲- پولوس څو ځله عیسی ته مالک وایی؟

۳- فکر وکړئ: کله چې تاسو عیسی خپل مالک ګڼئ، نو ستاسی د دې خبری نه څه مطلب دی؟ آیا دا عنوان یواځی د ادب او احترام لپاره دی؟ تر کومی اندازی پوری هغه ستاسو مالک دی؟

د اقتدار نښه.

عیسی خپل اقتدار او واک په خپل تعلیم کې ثابت کړ. هغه خلک په خپل هغه مطلق اطمینان چې د هغه په واسطه د خدای او انسان په هکله ئې حقایق ښکاره کول، حیران کړل. هغه خپل ځان لاره، حقیقت او رښتیا او ژوند ګڼلو.
عیسی دا خبره ثابته کړه چې په طبیعت قدرت لری. هغه د اوبو په مخ او تیزو چپو وګرځید. کله چې هغه اوبو ته د غلی کیدو حکم ورکړ اوبه په هم هغه ساعت غلی شوی. هغه اوبه په شرابو بدلی کړی او ۵۰۰۰ کسان ئې په پنځه ډوډیو او دوو ماهیانو ماړه کړل.
عیسی خپل قدرت په مرض او مرګ باندې هم ثابت کړ. په هم دې ډول د هغه په مسحه کولو سره کاڼه سم شول، ړانده بینا شول، او شلان په لاره د تلو جوګه شو. هغه مړه ژوندي کړل. هغه په خپله مړ شو او بیا راژوندی شو.
عیسی خپل اخلاقی قدرت هم ثابت کړ. هغه بې ګناه ژوند وکړ او نړی، تر ټولو ښه اخلاقی قوانین چې انسانانو تر اوسه پوری نه ؤ لیدلی وړاندې کړل. هغه خراب او وران ژوندونه ښکلی، پاک او ګټور وګرځول. هغه یو بشپړ او کامل لارښود وو.

عیسی خپل روحانی اقتدار هم څرګند کړ. هغه ګناهونه وبخښل. هغه ناپاکه او شیطانی روحونه د هغو د قربانیو نه وشړل. هغه د خپل پلار کارونه وکړل، او خدای ئې انسانانو ته ښکاره کړ. بیرته آسمان ته وخوت او خپلی کلیسا ته ئې روح القدس راولیږه عیسی په کلیسا باندې هم خپل اقتدار ثابت کړ. هغه د مالک په صفت خپل پیروان ولیږل چې نړۍ ته زیری ورکړی او هغوی ته ئې ما فوق الطبیعه قدرت ورکړ تر څو د دې ماموریت د دندی نه راووتلای شی. کله چې مونږ د هغه د امرونو اطاعت کوو په خپل ټول آسمانی قدرت زمونږ ملاتړ ته راپورته کیږی او مونږ ساتی.

حفظ ئې کړئ

یوحنا ۱۳: ۱۳ تاسو ما ته استاذ او مالک وایئ او دا ښه وایئ، ځکه چې زه یم.

یوحنا ۱۳: ۱۳ پنځه ځله ولولئ او حفظ ئې کړئ.

متی ۲۸: ۱۸- ۲۰ .... د آسمان او د مځکی ټول واک ما ته را کړای شوی دی. ځکه تاسو په مځکه خوارۀ شئ او ټول

قومونه زما مریدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ. او دا تعلیم ورکوئ چې په هغه ټولو خبرو عمل کوئ چې ما تاسو ته حکم کړی دی. او دا یقین لرئ چې زه به تل تاسو سره یم، تر آخره وخته پوري.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۴- عیسی خپلو شاگردانو ته څه امر وکړ، هر کله چې څوک بپتسمه اخلی باید د څه په باره کې تعلیم ورکړی؟

| | |
|---|---|
| الف) د مریض شفا | ۱- روحانی |
| ب) آرامول یی | ۲- اخلاقی |
| ج) ماموریت | ۳- په طبیعت |
| د) د گناه بخښل | ۴- په کلیسا |
| ه) را پاڅیدل | ۵- په مرض |
| و) معیارونه | ۶- په مرگ |

۶- فکر وکړئ: آیا د عیسی په دغه ټولو قدرتونو باندې چې پورته لیکل شوی دي د دعا په وخت کې په رښتیا والی اطمینان لرئ؟

# د مالک په توګه پیژندل

نن ورځ په عیسوی کلیسا ګانو کې خلک عیسی د مالک په حیث پیژنی. په آسمان کې هغه د ټولو قدرتونو نه لوړ او پورته دی. یوه ورځ په ټوله نړۍ هغه د خپل برحقه حاکم او مالک په توګه وپیژنی.

افسیان ۱: ۲۰- ۲۲ دا هم هغه قوت دی چې د کوم په وسیله چې خدای مسیح له مړو نه بیا راژوندی کړو او خپل ښی لاس ته ئې په آسمان کې کښینولو. او هلته ئې مسیح د هر قسم حکومت او اختیار او قدرت او ریاست او د هر یو نوم نه زیات اوچت کړو کوم چې به نه تش په دې جهان کې بلکه په راتلونکی جهان کې هم اخستلی شی. او هر څه ئې د هغهٔ د پښو د لاندې کړل او هغه ئې د ټولو څیزونو سردار جوړ کړو، او جماعت له ئې ورکړو چې هغه د جماعت مالک شی.

# د کلیسا سر

هر هغه څوک چې عیسی د خلاصوونکی او مالک په توګه قبلوی د هغه د کلیسا د غړو نه شمیرل کیږی. پولوس په

خپلو څلورو رسالو کې بیانوی چې عیسی زمونږ سر او کلیسا د هغه وجود دی. مونږ د خدای سره د اتحاد امتیازونه مطالعه کړل. مونږ هغه وخت د دغو امتیازونو نه ګټه اخیستلای شو چې عیسی ته په خپل ژوند کې لمړی ځای ورکړو. سر باید وجود ته لاره وښیی نه وجود سر ته. د بدن هر غړی خپل خاص ځای او خاصه وظیفه لری. مونږ باید ټول د یو بل سره د وجود د ښه والی لپاره کار وکړو او مسیحی هدف چې زمونږ سر دی عملی کړو.

رومیان ۱۲: ۵- ۶ دغه شان مونږ هم ډیر یو او په خپلو کې د یو بل اندامونه یو او په مسیح کې لکه یو وجود شوی یو. او د هغه رحم په مطابق چې په مونږ شوی دی، مونږ ته قسما قسم نعمتونه حاصل دي، ځکه چې چا ته چې د خدای د کلام آورولو نعمت ورکړای شوی وی نو هغه دې د خپل ایمان په اندازه کلام آوروی.

کولوسیان ۱: ۱۷- ۱۸ او دغسی مسیح د ټولو څیزونو نه اول دی او ټول څیزونه په هغه کې قایم دي. او هغه د بدن، یعنی د جماعت سر دی، هغه ئې ازل دی، او د مړو نه بیا ژوندی کیدونکو نه د ټولو نه اول پیدا شو لپاره د دې چې په ټولو خبرو کې د هغه درجه اول وی.

وروسته له دې چې مسیح پر مځکه خپله پادشاهی ټینګه کړی هغه به خپله کلیسا آسمان ته یوسی او مونږ به د ځان

سره د پادشاهۍ کولو لپاره چمتو کړی. هغه به مونږ زمونږ د خطاګانو او قصورونو سره سم وڅیړی او زمونږ د عملونو سره سم به مونږ ته بدل راکوی. د هغه حکومت باید زمونږ په ټول وجود او ژوند کې مخکې له دې د هغه په ابدی پادشاهۍ کې حکومت وکړو ودریږی.

دویم کورنتیان ۵: ۱۰ ځکه چې دا ضروری ده چې د مسیح د عدالت د تخت په وړاندې چې مونږ حاضر شو، نو چې زمونږ د ټولو حال څرګند کړای شی نو چې څوک به د خپلو هغوی کارونو بدل ومومی کوم چې هغوی د وجود په وسیله کړی دي که بد وی او که ښۀ.

د قضاوت نه وروسته په آسمان کې یو لوی جشن د وری د واده د جشن په نامه کیږی. د مکاشفی په کتاب کې عیسی وری بلل شوی دی. دا عنوان د احترام او اسمان ته د راستنیدو نه وروسته د افتخار نښه ده. کلیسا هم د وری د ناوی په توګه په دغی احترام او افتخار کې شریکیږی.

مکاشفه ۱۹: ۵- ۸ بیا له تخت نه یو آواز راغی چې ای زمونږ د خدای ټولو خادمانو چې د هغه نه ویریږۍ، ای لویو او وړوو! د خدای ثنا وایۍ! بیا ما د ډیرو کسانو د سیلابی اوبو او د تندر د ګړزا په شان آواز واوریدو او هغوی چغی وهلی چې هللویاه! مالک زمونږ قادر خدای پادشاه دی. راځۍ چې خوشحالیږو او د خوشحالۍ چغی وباسو او د هغه

لوئی بیان کړو ځکه چې د ګډوری د وادۀ ورځ راغلی ده او د هغه ناوی ځان سمبال کړی دی. او ورته د مهینی لتہی جامی ورکړی شوی دي چې صفا ځلقیدونکی دی. او دا مهینه لتہ د پاکانو ښۀ کارونه دي.

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یی سرته ورسوی

۷- پولوس عیسی ............................ او د هغه کلیسا ئې ............................یادوی.

۸- څرنګه کولای شی چې تاسو خپل ځان ته په ژوندانه کې خاص ځای پیدا کړئ؟

۹- څوک باید لمړی ځای ولری؟

۱۰- آیا لمړی ځای د عیسی دی؟ خپل ځای د هغه په بدن کې څنګه ډکوئ؟ آیا په دې خاطر چې تاسو د هغې ناوی یوه برخه ئې خوشحال یی؟

# د پادشاهونو پادشاه د مالکانو مالک

دا چې عیسی څوک دی، د دې تصور د تکمیلولو لپاره په راتلونکی وخت نظر اچوو او هغه په خپل جلال کې وینو.
مکاشفه ۱: ۷- ۸ ګورئ، هغه په وریځو کې راځی! هر څوک به ئې په خپلو سترګو ووینی او هغوئ به ئې هم، چا چې سوری کړی وو، او د دنیا ټول خلق به په هغه ویر کوی. دغه شان به وی. آمین قادر مطلق خدای وائی چې زه الاول او الاخر یم، چې شته، چې وو او چې راتلونکی دی.
الف او یا یی د الفبا لمړی او وروستنی توری دي. عیسی الف دی، لمړنی علت او د واقعیت چینه.
عیسی (ی) دی څوک چې د خدای د ابدی او ازلی هدف پر ځای کیدو لپاره به سبب وګرځی هغه به ټول شیان مات کړی د پادشاهانو د پادشاه او د مالک خدای په توګه به تر ابده پادشاهی کوی.
عیسی د هغو بحرانی وختونو چې د هغه د راستنیدو نه دمخه به راځی یادونه وکړه. د مکاشفی کتاب په دې هکله ډیر جزئیات بیانوی: جنګونه، ساری ناروغیې، زلزلی، قحطی، د اوبو ککړتیا، د ماهیانو مرګ، د نباتاتو، د منځه تګ، د یو مطلق نړیوال آمر د لاس لاندی ظلم او ستم، د مځکی پر مخ مرګ.

د خدای شکر چې دا د هر څه پای نه دی! سره له دې چې ګناه ځان سره ګناه، عذاب او مرګ سوغات راوړی دی. سره له دې عیسی خپل ځان د خلکو لپاره قربان کړیدی او دغه مځکه به د هغه د بې نقصه او بشپړی پادشاهۍ ځان وی. هغه ډیر ژر راځی تر څو د نړۍ ټول هیوادونه ئې چې په خپل قوت منځ ته راوستی دي د خپلی وینی په بیعه واخستل.

مکاشفه ۱۹: ۱۱، ۱۳-۱۴، ۱۲ بیا ما آسمان پرانستلی ولیدو او هلته زما په وړاندی یو سپین آس وو او د هغهٔ د سواره نوم وفادار او رښتینی دی، ځکه چې هغه په عدالت کې او په جنګ کې رښتونی دی. او هغهٔ په وینو لړلی جامی آغوستی وی او د هغهٔ نوم د خدای کلام دی. او آسمانی لښکری په سپینو آسونو سوری وریسی وی چې د سپینی او صفا مهینی لټی جامی ئې آغوستی وی. او د هغه په چوغه او په پتون دا نوم لیکلی دی چې: د پادشاهانو پادشاه او د مالکانو مالک.

متی ۲۴: ۳۰، ۲۵: ۳۱-۳۲ بیا به په آسمان کې د ابن آدم راتلو نښه ښکاره شی، د دنیا ټول قومونه به ماتم کوی او هغوی به ابن آدم وینی چې د آسمان په وریځو کې به د طاقت او د ډیری لوئی سره راځی. هر کله چې ابن آدم په پوره شان سره راشی او ټولی فرښتی ورسره وی، هغه به د

خپلي لوئی په تخت کښيني. او ټول قومونه به ور وړاندې
راټول کړی هغه به بنی آدم په دوؤ ډلو کې جدا کړی لکه
څنګه چې شپونکی ګډی د بزو نه جدا کوی.
یشعیاه ۱۱: ۴، ۲، ۹، ۳۵: ۱، ۵- ۲، ۱۰ بلکه په
عدالت کې به د مسکینانو قضاوت وکړی او د مځکی د
مظلومانو لپاره به په ربښتیا حکم وکړی. او جهان به د
خپلی خولی په امسا ووهی او شریران به د خپلو شونډو په
پوکی ووژنی او لیوه به د ګډوری سره اوسیږی او زمری به د
سیرلۍ سره ځای ویده کیږی او خوسی، زمری د څربه
پسونو سره ... او زما په ټول مقدس غره کې به ضرر او
فساد څوک نه کوی، ځکه چې نړۍ به د خدای د معرفت نه
ډکه وی لکه اوبه چې سیند پټوی.
دښته او وچې مځکه به خوشاله شی او صحرا به په خوښۍ
راشی او سور ګل په شان به وغوړیږی. هله به د ړندو
سترګی پرانیزی او د کڼو غوږونه به خلاص شی. هلته به
ګوډان د هوسۍ غوندی ټوپونه وهی او ګونګی ژبی به په
سندرو راشی ځکه چې هغوی به په دښتو، سیندونو او
صحراګانو کې جوشیږی او د خدای فدیه شوی به راستانه
شی او په سندرو به صهیون ته راشی او تل تر تله خوښی به
پرې راشی او ښادی او خوښی به ومومی او غم او ویر به
وتښتی.

مکاشفه ۲۱: ۳- ۵ .... ګورئ! اوس خدای د بنی آدمو په مینځ کې استوګنه کوی، هغه به د هغوئ سره اوسیږی او هغوئ به د هغه امت وی او خدای به په خپله د هغوی سره وی. هغه به د هغوی د سترګو ټولی اوښکی وچی کړی، هلته به نه مرګ، نه ویره، نه ژړا او نه دړد وی ځکه چې وړومبی څیزونه تیر شوی دي. بیا څوک چې په تخت ناست وو، هغه وویل چې وګوری! زما ټولی خبری د اعتبار لایقی او رښتیا دي.

په دې کوچنۍ لیکنه کې امکان نه لری چې د عیسی ټول عنوانونه مطالعه کړو او د هغه د پادشاهۍ او ملکوت زیات څه ولولو سره له دې امید لرو چې تاسو هغه د پخوا نه ښه وپیژنۍ او درباندې ګران وی. زمونږ دعا دا ده چې اوس تاسو د هغه په تمه یئ او هره ورځ مخکې ځئ تر څو هغه د تیری ورځی نه ښه وپیژنئ، وروسته کله چې عیسی راشی هغه سره به مخامخ وګورئ او هغه به څنګه چې دی وپیژنئ او وبه کولای شی چې د وری د مننی او نمانځنی نړیوالی سندری کې ور ګډ شئ.

مکاشفه ۵: ۹- ۱۴ او هغوی یوه نوی سندره ویله چې: ته د دې لایق ئې چې کتاب واخلی او مهرونه ئې مات کړی ځکه چې ته حلال کړی شوی او په خپله وینه دې د خدای لپاره له هر خیل، له هرې ژبی او له هر قوم او امت خلق په بیعه

واخستل. او له هغوی نه تا د کاهنانو بادشاهی جوړه کړه چې زمونږ د خدای خدمت وکړی او هغوی به په مځکه بادشاهی کوی. بیا چې ما وکتل نو د بې شماره فرښتو آوازونه مې واؤریدل چې هغه د تخت او د حیوانانو او د مشرانو نه چاپیره وی او د هغوی شمار په زرګونو او لکونو کې وو، او هغوی په زوره چغې وهلې چې: هغه ګډوری چې حلال کړې شو، د دې لایق دی چې ټول قدرت، دولت، حکمت، لوئی، عزت، شان او تعریف ومومی! او بیا ما واوریدل چې ټول مخلوقات چې په آسمان کې، په مځکه باندې، د مځکې د لاندې یا په سمندر کې دي، هغوی ټولو چغې وهلې چې: د هغه چا څوک چې په تخت ناست دی او ګډوری ته شکر، عزت، شان او قدرت دې تل تر تله وی!

## ستاسو کار

### هغه څه چې باید تاسو یې سرته ورسوی

۱۱- مخکې له دې چې د تمرینونو دا برخه سرته ورسوئ شا ته لاړ شئ او د ټولو درسونو لمړي مخونه بیا ولولئ. هڅه وکړئ چې ټول عنوانونه زده کړئ. درس باندې یو نظر واچوئ او زده ئې کړئ. فکر وکړئ او وګورئ چې د هر ټکی

معنیٰ څه او تاسو سره يې اړيکه څه ده. د هغه په هکله د عیسی سره خبری وکړئ.
۱۲- په مکاشفه ۱۹ کې چې درې عنوانه عیسی ته ورکړ شوی هغه ولیکئ.
الف) ډير ښه علمی تکنیکونه.
ب) نړیواله پوه.
ج) ډير ښهٔ نړیوال سیاسی سیستم.
۱۴- دا برخه ولولئ. د مقدس کتاب د ذکر شوو متنونو څخه د هغو لاندې چې د نورو نه مو ډير خوښيږی خط وکاږئ.
۱۵- د عیسی په نمانځنه کې سندره ووائې او په دې خاطر چې ستاسی د خلاصون لپاره مړ شوی هغه نه مننه وکړئ.

## خپل جوابونه مقایسه کړئ.

## د لسم درس جوابونه

د دې درس سوالونه ۱۲ صحیح جوابونه لری. د ۱۱ نه تر ۱۲ پورې صحیح جوابونه عالی، د ۹ نه تر ۱۰ پورې ښه، او د ۷ نه تر ۸ پورې درمیانه ګڼل کیږی. که چیرې صحیح جوابونه له ۷ څخه کم وی نو دا درس بیا مطالعه کړئ.

۱- الف) د اقتدار پیژندنه.

۳- د) د ۲۰۰ ځله نه زیات.

۴- ب) د هغه د حکمونو نه اطاعت وکړئ.

۷- سر، وجود.

۸- د مسیح سره په یوالی کې.

۹- عیسی.

۱۲- امین او رښتنی، د خدای کلمه، د پادشاهانو پادشاه او د مالکانو مالک.

۱۳- د) د پادشاه په توګه د مسیح راستنیدل.

صحیح جوابونه .......... نمری .........

آیا غوړئ چې پوه شئ چې ... عیسی څوک دی؟
څنګه کولای شی هغه ډیر ښه وپیژنئ؟
غواړئ چې تاسو ته څه وکړی؟
چرته او څنګه حکومت کوی؟
څنګه کولای شئ چې دعا وکړئ؟
که داسی وی، نو عیسی څوک دی تاسی ته لیکل شوی دی که د دې عملی وړاندیزونه په کار اچوی، پراخ او نیکمرغه ژوند ته به قدم کښیږدئ.

دا کتاب د مسیحی ژوند د ۱۸ کورسونو نه یو کورس دی، خو تاسو دا په آزاد ډول هم مطالعه کولای شئ.

آیا غواړئ چې پوه شئ چې... عیسی څوک دی؟
څنګه کولای شی هغه ډیر ښه وپیژنئ؟
غواړئ چې تاسو ته څه وکړی؟
چرته او څنګه حکومت کوی؟
څنګه کولای شئ چې دعا وکړئ؟
که داسی وی، نو عیسی څوک دی تاسی ته لیکل شوی دی که د دې عملی وړاندیزونه په کار اچوی، پراخ او نیکمرغه ژوند ته به قدم کښیږدئ.

دا کتاب د مسیحی ژوند د ۱۸ کورسونو نه یو کورس دی، خو تاسو دا په آزاد ډول هم مطالعه کولای شئ.